# کابلي والا!

## او لس لنډې کيسې

ژباړه او ټولوونه : محمد ادريس احساس

کال : ۱۳۹۹ لمريز

# لړلیک


| شمېره : | سرلیکونه | مخ ګڼه |
|---|---|---|
| ۱ . | کابلې والا ...................................................... | ۱ |
| ۲ . | زوړه ور خیاط ................................................. | ۱۲ |
| ۳ . | ګوګړ پلورنکي انجلۍ ................................................ | ۲۳ |
| ۴ . | رضایت پاڼه ...................................................... | ۲۸ |
| ۵ . | په ښار کې ډینګرۍ................................. ........................ | ۳۶ |
| ۶ . | د جګړې اسیر ...................................................... | ۴۱ |
| ۷ . | بینوایان ...................................................... | ۶۵ |
| ۸ . | اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ........................................ | ۷۵ |
| ۹ . | ډارن مین ...................................................... | ۸۰ |
| ۱۰ . | څلور هالنډیان ...................................................... | ۸۴ |

# کابلی والا

## د رابندر ناتهـ ټاګور اثر

زما کوچنۍ لور (میني) لا د پنځو کالو وه ، مګر یوه شېبه هم آرامه نه کېناسته ، هغه له زېږېدو دولس میاشتې وروسته په خبرو راغله .له کومې ورځې يې چې خبرې زده کړې وې یو ساعت هم آرامه نه وه ناسته .

مور به يې کله کله د میني د غلي کولو لپاره له قهر او غصي نه کار اخیست، مګر دا کار زما لپاره سم نه ښکاریده ځکه خو مې هیڅکله هم د میني د ډېرو خبرو په خاطر پر هغې تندی نه وو تریو کړی.زما په باور د میني غلي کول او له خبرو څخه بندول يې د فطرت او طبیعت خلاف کار وو ،چې ما تر ډېره وخته د میني پر وړاندې د خپلې میرمنې دا کار نشو زغملای .ځکه خو به زما او د میني تر منځ کله کله په ډېرې خوښۍ سره د زړه خبرې کیدې او هغه به ډېره خوشاله وه .

یوه ورځ سهار چې زه د خپل داستان په اوولسم څپرکې لګیا وم ، میني راغله او ویې ویل : بابا جانه ! هغه زمونږ د دروازې پیره دار ډېرې احمقانه خبرې کوي ، ډېر نادان دی هیڅ په څه شي نه پوهیږي .

میني یوه شېبه غلي شوه ، له کړکۍ يې بهر وکتل هلته وړاندې په پارک کې ماشومان هر ه خوا په منډو وو ، ټولو خپلې لوبې کولې ، میني به چې کله له کړکۍ بهر د نورو ماشومانو تماشه کوله بیا به يې په همدې مهال ډېرې پوښتنې له ما څخه کولې ما به لا یوې پوښتنې ته ځواب نه وو پیدا کړی ، چې هغې به بله پوښتنه وکړه ، په همدې شېبه کې يې یو دم مخ بلې خواته واړوه او ویې ویل : بابا جانه ! بهولا وایي چې په آسمان کې یو غټ فیل دی ،هر کله چې له خپل خرطوم نه اوبه باد کړي نو پر ځمکه باران وریږي .

بابا جانه ! ته وګوره دا سړی ( بهولا ) څه خبرې نه دي چې هغه یې جوړوي ، شپه او ورځ لګیا وي هسې بې ځایه خبرې جوړوي ، زه نور د هغه خبرو ته غوږ نه نیسم .

د همدې خبرو په ویلو سره هغه زما د کار او لیکلو میز خوا ته نژدې راغله زما پښو ته نژدې کېناسته په دواړو لاسونو یې زما له زنګنو سره لوبې پیل کړې . میني خپلې لوبې کولې ، خو ما د داستان په اولسم څپرکي کې دا تصویراوه چې پرتاب سنګ د زندان له پورتنۍ برخې څخه کنچن مالا له لاسه ونیوه او ځان یې اوبو ته واچاوه .

زما کور د پارک خواته نژدې دی ، ناڅاپه میني له لوبو څخه لاس واخیست او د کوټې کړکۍ ته یې منډه کړه په لوړ آواز یې غږ کړ . کابلي والا ، کابلي والا !

هلته وړاندې یو کابلی چې شلیدلې او زړې جامې یې په تن وې ، غټ پګړۍ یې له سره تاو وو ، یوه غټه خلطه یې پر شا وه او څلور وړې صندوقچې یې د انګورو په لاس کې ځوړندې نیولې وې ، لوړه ونه او مناسب اندام یې درلود له هغه ځایه د تېرېدو په حال کې وو .نه پوهیږم چې د هغه سړي په لیدو سره زما د معصومې کوچنی لور په زړه کې څه تېرېدل چې په بې صبرۍ سره به یې پر هغه سترګې خښې کړې او د هغه هر قدم به یې په سترګو کې لارې کولې .

ما داسې فکر کاوه که چېرې دا بې درمانه بلا چې خور جینه یې پر شاه ده پر ما نازله شي او دلته راشي زما خواته کیني ، نو داسې وګڼه چې زما د کتاب اوولسم څپرکۍ نیمګړۍ پاتي شو. مګر کابلي والا به هر کله د میني په لیدو او د هغې د غږ په اورېدو د موسکا څپه پر شونډو خوره شوه او په خندا خندا به زموږ د کور خواته را نژدې شو .

خو زما ماشومې لور به خپل حواس له لاسه ورکړل په منډو منډو به یې ځان د ښځو کوټې ته ورساوه او داسې به یې هلته ځان غیب کړ ، چې آن تا به فکر کاوه خپل سیوری هم غواړي له کابلي والا نه پټ کړي

.شاید زما معصومې مینې به د هغه کمیس ته کتل داسې ګومان به یې کاوه که چیرې څوک له کابلي والا څخه تالاشي واخلي زما په شان به درې څلور ماشومان د هغو له پراخه جامو نه بهر شي .

په هر حال کابلي والا راغی ماته یې سلام واچوه او ودریده ، زه په دې فکر کې شوم چې زما د داستان اتل پرتاب سنګ او د داستان اتله هغه انجلی ... مالا.دواړه په یوه خطرناکه حالت کې واقع شوي دي . اوس به ښه داوي چې یو څه نا څه کوم شی له دې کابلي والا څخه واخلم ، ځکه خو مې څه نا څه بې ضرورته شیان ترې واخیستل .په همدې شیبه کې ځینې خبرې هم دلته او هلته زما او دهغه ( کابلي والا ) تر منځ وویل شوې د امیر عبدالرحمان خان پاچا په هکله مې وپوښتل او هغه هم څه خبرې له ما وپوښتي چې بابوجي : هغه وړه انجلۍ چېرته ولاړه ؟ د دې لپاره چې د کابلي والا خبرې مې د مینې له زړه څخه اوربدلي وي ، هغه مې دننه کوټې ته راوغوښته ، هغه بلآخره راغله ؛ مګر ځان یې کلک په ما پورې نیولي وو د کابلي والا پراخو او زړو جامو ته یې په مشکوک نظر کتل ، کابلي والا خپلې خورجیني ته لاس کړ یو څه ممیز او انګور یې را وویستل او مینې ته یې ونیول . مګر مینې د هغه له لاسه ممیز او انګور وانه خیستل بلکې وېره یې نوره هم پر بدن خوره شوه ، نور یې هم ځان زما په زنګنو پورې کلک ونیوه . دا وو د مینې او کابلي والا لومړی وار لیده کاته .

څو ورځې وروسته زه د یو ضروري کار لپاره سهار لږ وختې له کوره بهر شوم ، ومې لیدل چې مینې د دروازې تر څنګ په اوږده څوکۍ ناسته ده او هي لګیا ده کابلي والا سره خبرې کوي او کابلي والا یې هم تر څنګ ناست دی او په ډېر دقت سره د مینې خبرې اوري . کله کله مینې په خندا راولي او بیا کله کله ور ته په ماته ګوډه بنګالۍ ژبه خپل نظر څرګند کړي . مینې د خپل عمر تر پنځه کلنۍ پورې پرته له خپل پلاره بل داسې کس لکه کابلي والا نه وو لیدلی چې په دقت سره د هغې خبرې واوري ، ما ولیدل چې د مینې کوچنۍ او ښایسته لمن له بادامو ، چهارمغزو اوممیزو څخه ډکه وه .

ما وویل : خان ! ولې زحمت وباسي هغې ته څه مه ورکوه . له دې خبرې سره مې هغه ته اته ((انې )) بنګالې روپۍ ورکړې ، کابلي والا هم د سترګو په رپ کې هغه په خپله خورجینه کې واچولې ، کله چې د ورځې ناوخته بېرته کور ته راوګرځېدم دې اتو ((آنو)) یوه لویه ډرامه زما په کور کې جوړه کړې وه . د مینې مور کوم شی په لاس کې نیولي وو ، او په ډېره غوصه یې مینې ته ویل :ژر شه ووایه چې دا اته آنې چا درکړې ؛ مور یې ویل چې تا ولې دا اته آنې له کابلي والا څخه اخیستې ؟ زه د مینې د بچ کولو لپاره د خپل کار خونې ته ورغلم ، له ډېرو پوښتنو څخه وروسته پوه شوم چې ، دا د مینې او کابلي والا دویم وار لیدل نه وو ، بلکې کابلي والا به اکثر وخت زموږ د کور خواته راته ، د بادامو ،ممیزو او نورو تحفو په ورکولو سره یې د مینې تمایل د ځان خواته وراړوي وو.

هغوی به ډېر کله په خپلو کې سره خبرې کولې ، مینې به د کابلي والا چې نوم یې عبدالرحمان وو په لیدو ، سم د لاسه ترې وپوښتل چې په خورجینه کې دې څه دي ؟عبدالرحمان به بې ضرورته په خپلو خبرو کې یو ((نون)) ورزیات کړ او وبه یې ویل : هانتهی ! چې په اصل کې د هغه مطلب هاتهي یاني فیل وو . په خورجینه کې لرم . کابلې والا فکر کاوه چې دا یوه ډېره ښه او عالي ټوکه ده چې د مینې سره یې کوي ؛ مګر که څه هم دا ډېره ښه ټوکه نه وه ، خو بیا هم هغه به د دې کلیمې په ویلو سره ډېر خوند اخیسته .

ما نه غوښتل چې د هغوی په لیدو کتو قیودات وضع کړم . په سهار کې د یوې کوچنی انجلی او پاخه عمر سړي خبرو ماته د خوښۍ احساس راکاوه ، عبدالرحمان به له مینې څخه پوښتل چې ؟ مینې ته دې د خسر کور ته څه وخت ځې ؟ یوه بنګالۍ انجلۍ ممکن له زېږېدو وروسته د خسر او خسرخیلو له کلیمې سره آشنا وي ؛ مګر دا چې مونږ د پرمختللي پېر تر اغېزې لاندې راغلي وو ، زمونږ کوچنی لور مینې د دې کلیمې سره آشنایي نه درلوده ، نوځکه د عبدالرحمان دې خبرې ته نه متوجه کېده.مګر د مینې ځواب نه ورکول او چوپ پاتې کیدل ، د هغې د عادت خلاف کار وو . هغې به هم له کابلي والا څخه وپوښتل ته دې د خسر کور ته څه وخت ځې .

عبدالرحمان به د لاس ګوتي سره راټولې کړې ، لاس به يې څوک کړ او خپل خيالي خسر ته به يې ونيوه او بيا به يې وويل : زه به خپله خسرګنۍ په دې څوک ووهم ، چې ظاهرآ د عبدالرحمان اشاره به پوليسو ته وه ، مينې سره له دې چې په موضوع به نه پوهيده ، مګر د عبدالرحمان د څوک په حرکت سره به کټ کټ په خندا شوه او هغه ته به يې خندل .

د منې موسم وو ، هغه موسم چې د نړۍ شاهان او شاهنشاهان به د نړۍ د فتح کولو لپاره له خپل قلمروه بهر وتل ، مګر زه هيڅکله له کلکتي څخه بهر لاړ نشوم . همدغه دليل دی چې زما د فکر مرغه بې له نړۍ څخه آلوته کوي . زه خپله هم د کوټې په څنډه کې د کور دايمي استوګن شوي وم ؛ مګر زړه مې د بهر ملکونو د ليدو هوا په سر کې درلوده ، هر کله چې يو بيګانه ووينم ، د خيال په وزرونو د هغوی سېمې ته ورشم ، دريابونه ، غرونه ، ځنګلونه او نور مې د ذهن په لويه صحرا کې د هغوي په سېمه کې يوه جونګړه جوړه کړي او په ذهن کې مې د سوکاله او آزاد ژوند څپه موجونه ووهي .

که څه هم زما زړه د ټولې نړۍ ليدو ته هوس کوي ،مګر ما د يوې داسې ونې بڼه ځانته غوره کړې چې د ځمکې او خپلې ريښو په بند کې راګير يم . هر کله چې له کوره د وتلو اراده وکړم دا احساس کوم چې يو غر مې پر سر راپريوځي ، په همدې خاطر هره ورځ سهار په خپله وړه خونه کې د ميز تر څنګه ناست يم او د کابلي والا د خبرو په اورېدو سره مې د نړۍ د ليدو تنده لږه ډېره ماتوم .

کابلي په سل رنګه مهار تونو او په ماته ګوډه بنګالي ژبه د خپلې خاورې حالات ماته بيانوي او د خپلې خاورې نقشه مې مخې ته ږدي . يو غرنۍ سېمه چې سرې خاورې ته ورته په لوړو غرونو کې پرته ده ، نه په هغه ځای کې اوبه شته او نه هم شنه ګياه . د دې لوړو غرونو په لمنو او تنګو درو کې پګړۍ والا سوداګر او داړه ماران په ګډه تګ راتګ کوي ، څوک په اوښ سپور وي او څوک هم په پښو پياده روان وي ، يو کس وګوره چې ټوپک يې په لاس کې دی ، او هغه بل کس چاړه په لاس مسلح دی .

د میني مور ډېر حساس طبیعت لري او په جزیي خبرو یې هم مزاج خراب شي .که چېرې د سړک له خوا ځخه کوم غږ پورته شي هغه داسې فکر کوي چې د سپمې ټول شراب خواره د کور خوا ته راروان دي ، د میني د مور عمر ډېر ندی مګر بیا هم د ژوند له ترخو او خوږو ډېره خبره ده . بیا یې هم په زړه کې وېره شته چې د نړۍ هر برخه له شراب خورو ، غلو ، داړه مارانو ، د ملریا له ماشو او انګریزان ډکه ده . په دې خاطر د عبدالرحمان لخوا بې تشویشه پاتې کیدل هغې ته درونډ کار دی .

هغې به هر ځل پر ما ټینګار کاوه چې د کابلي والا حرکات تر نظر لاندې وساتم ، ما به هم ډېره هڅه کوله چې د مینې د مور بدګمانۍ په خندا ځواب کړم ، مګر هغې همدا پوښتنې کولې چې مثلآ :آیا تر اوسه د چا ماشومان نه دي غلا شوي ؟ په کابل کې د مریبې یا غلام خرڅون رواج نلري ؟ آیا د یوه قوي کابلي نارینه لپاره د یوې کوچني ماشومې اختطاف کوم ګران کار دی ؟ زه په دې اعتراف کوم چې زما میرمنې چې کومې خبرې کولې هغه له واقعیت نه لېرې نه وې ،مګر د عبدالرحمان کابلي په اړه بیا دا ډول خبرې سمې نه وې .زما د میرمنې په زړه کې دې ډول ګومانونو ځای نیولی وو ، مګر سره له دې ټولو بیا هم ما عبدالرحمان خپل کورته له راتګ ځخه منع نکړ .

عبدالرحمان کابلی به هر کال د اکتوبر په میاشت کې خپل هېواد ته تلو او په دې ورځو شپو کې به هرې دروازې ته ولاړ وو ، خپل پاتې قرضونه به یې له خلکو راټولول ،دخپلو ډېرو بوختیاوو سره سره به بیا هم د مینې لیدو ته راته ، که به سهار نشو را رسیدی نو ماښام به هرومرو د مینې لیدو ته راته ، ممیز او بادام به یې هغې ته په لمن کې اچول ، خلکو چې به هغه زمونږ په کور کې ولیده حیران به پاتې وو . یو جیګ او لوړ شخص له پراخو جامو او پر اوږو له ځوړندې خورجیني سره به که چا د شپې په تیاره کې ولیده حتمن به ویرې اخیسته ،مګر د کابلي والا په غږ سره به ، د مینې او کابلي والا په خندا او ټوکو خلک بیرته غلي شول او حواس به یې راټول شول .

یوه ورځ سهار په خپل کور کې د کار په خونه کې ناست وم او د خپل کتاب په تصحیح لګیا وم ، چې د یخنۍ آثار مې په کوټه کې احساس کړل ، دلمر وړانګې د کوټې له وړې کړکۍ څخه زما پر پښو لګیدې چې د لمر تودوخه په دې شېبه کې زما لپاره ډېره خوندوره وه .د ورځې نژدې اته بجې وې ، هغه کسان چې د قدم وهلو لپاره بیرون ته تللي وو ، په داسې حال کې چې مخ او سرونه یې په څادر او ژمنیو خولیو پوښلي وو ، بیرته خپلو کورونو ته راستنیدل ، په همدې شېبه کې په یوځه لیرې واټن کې شور ماشور او غږ پورته شو، ما هم هماغه خواته وکتل ، ومې لیدل چې پولیسو عبدالرحمان له لاسو نیولی او په کشولو ، کشولو یې له ځان سره وړي .

د نندارچي ځوانانو په ګڼه ګوڼه کې ، چې د عبدالرحمان پر جامو د وینو څاڅکي هم پراته وو ، یوه پولیس چې چاړه یې په لاس کې نیولې وه ، د هغوی خواته لاړم له خلکو مې وپوښتل چې خبره څه ده ؟څه مې له خلکو واورېدل او څه مې له عبدالرحمان څخه واورېدل . زمونږ په ګاونډیو کې یوه کس یو رامپورۍ پټو له عبدالرحمان څخه په بیه اخیستی وو ، څه پیسې یې ورکړې وې او څه پیسې پاتې وې ،مګر زمونږ هغه ګاونډۍ د کابلې والا په پاتې پور منکر وو ، په همدې اړه دوړه کې عبدالرحمان هغه په چړې وهلی وو .عبدالرحمان هغه ته کنځلي کولې او ناسزاوې یې ورته ویلې .په دې شېبه کې میني بیرون راغله او ناري یې کړې کابلي والا ! کابلي والا !

د عبدالرحمان رنګ تک سپین الوتي وو ، دا چې دا ورځ له عبدالرحمان سره د هغه خور جینه نه وه ، میني هم له هغه پوښتنه ونکړه . خو په همدې شېبه کې میني ناڅاپه له کابلي والا نه وپوښتل : کابلي والا ته دې د خسر کور ته روان یې ؟( سسرال یا خسر اوس په هندوستان کې یو طنزیه ټوکه ده چې د زندان په عوض کې یې خلک کاروي ، یاني که پولیس وغواړي څوک زندان ته بوځي ورته وایي تا سسرال یا د خسر کور ته بیایم).

عبدالرحمان میني ته په خندا وویل :زه هماغه ځای ته ځم ؛ خو څنګه چې یې ولیدل میني له دې خبرې نه خوشاله نشوه ، بیا یې وویل : خسر مې په څوک واهه ،مګر څه وکړم چې لاسونه مې تړلې دي .

په هر حال عبدالرحمان د یو قاتلانه حرکت په تر سره کولو سره په څو کلو زندان محکوم شو ، څه موده وروسته نور مونږ هم هغه له یاده وویسته او په خپلو کارونو بوخت شولو ،بیا مو هیڅکله دا فکر هم ونکړ چې هغه د غرونو مېړني انسان په زندان کې څنګه ژوند تېر کړ او څه پرې تېر شول ، او بیا په تېره چې کله متوجه شوم چې میني هم هغه نور هېر کړی وو، بیخي مو د خجالت احساس کاوه ، میني خپل یو پخوانۍ دوست هېر کړي وو ، او له ( بهولا سایین ) سره یې دوستي پخه شوې وه ، بیا همدارنګه د عمر په تېرېدو سره میني له خپلو همزولو انجونو او ملګرو سره ناسته ولاړه کوله ، اوس نو دومره لویه شوې وه چې زما اطاق ته هم ډېره کمه او په ندرت سره راتله ، داسې لکه چې زما نه هم خفه شوي وي .

کلونه تېر شول ، د مني هماغه موسم وو ، د میني د واده ټول ترتیبات نیول شوي وو ،په راتلونکي رخصتۍ کې یې باید واده کړي وای . هغه میني چې زمونږ د کور ښایست وو باید مونږ یې پریښي وای او د خسر ګنۍ کورته تللې وای ، د دې سهارني نسیم نرم نرم باد زما د مخ رګونه لمسول ، موسمي باران هم پر ټوله سیمه آرام ورېده ، د وریځو له منځه به کله کله د لمر وړانګي لکه د سرو زورو تنابونو نرۍ نرۍ بریښنا کوله ، تر دې چې د کلکتې د کورونو ماتې او شړېدلې خښتې هم ښایسته ښکارېدې . زموږ په کور کې د سهار شهنایي زمزمې موجونه وهل ، د دې راګ هر ساز به زما زړه نور هم خپه کاوه . زموږ په کور کې د خلکو او ګاونډیو ښه ګڼه ګوڼه وه ، د ماښامي میلې لپاره هرې خواته خیمې درول شوې وې او د څراغونو د ځړولو لپاره د خیمو شاوخوا اوسپینزې پایې خښې شوې وې دخلکو تګ راتګ هم ډېر زیات وو ، هیڅ آواز مې نشو تشخیصولی چې څوک له ماسره خبرې کوي .

زه په خپل دفتر کې ناست وم د واده د لګښتونو حساب مې کاوه ، په همدې شېبه کې ناڅاپه په دروازه کې کابلې والا راته ودرېده ، ماته یې سلام وکړ او مخامخ راته کېناست . په اول ځل ځیر کېدو مې هغه ونه

پېژانده ، ځکه چې نه يې له ځان سره خورجينه درلوده او نه يې هم ويښتان اوږده وو ، او نه يې هم په وجود کې هغه پخوانۍ چستي او ځواک ليدل کېده .ومې پوښتل عبدالرحمانه ته کله راغلې ؟

ويې ويل : بابوجي ( جناب ) پرون مازيګر له زندانه را خلاص شوم او دا دی راغلم ، دا خبره مې په غوږ ښه ونه لګېده . ما يو قاتل هيڅکله له نژدې نه وو ليدلی ، د عبدالرحمان په ليدو مې په زړه کې وېره پيدا شوه . هغه ته مې وويل ، نن زموږ په کور کې د واده مراسم دي زه هيڅ وخت نلرم . ته نن لاړ شه ، د دې خبرې په اورېدو سره هغه له دروازې ووت ،خو کله چې دروازې ته ورسېد مخ يې را واړوه ، آيا زه نشم کولی هغه ماشومه ووينم ؟

عبدالرحمان فکر کاوه چې مينې اوس هم لا هماغسې کوچنی ده ، اوس به کابلې والا ! کابلي والا ! په ويلو سره په منډه منډه زما خواته راشي او بيا به هماغسې ټوکې ورسره وکړم او هغه به راته په خندا وي .عبدالرحمان په يوه پاکټ کې لږ بادام ، مميز او چهارمغز له خپل کوم هېوادوال څخه اخيستي وو او مينې ته يې راوړي وو .ځکه چې هغه نور خپله خورجينه له ځان سره نه درلوده .

ما کابلې والا ته وويل: چې زمونږ په کور کې نن مراسم روان دي مينې له هيچا سره نشي کولی چې ووينې ، لږ څه خپه شو ، څو شيبې غلی وو او بيايې مخ ماته راواړوه او ويې ويل : بابو ! سلام او له کوره ووت .

په زړه کې مې د خفګان احساس وکړ ، غوښتل مې چې هغه ته نارې کړم ، چې ومې کتل هغه خپله بېرته را وګرځيد او ويې ويل : يو څه مميز ، بادام او چهارمغز مې ماشومې ته راوړي په دې پاکټ کې دي مهرباني وکړئ ، بيا دا ورته ورکړئ.

ما غوښتل چې د ميوې پيسې ورته وکړم ،مګر هغه مې لاس ونيوه او ويې ويل : بابوجي تا هميشه له ما سره مهرباني کړي او زه به هيڅکله ستا مهربانۍ له ياده ونه باسم ، ما ته د ميوې پيسې مه راکوه ، بابوجي ! لکه څنګه چې هغسې کوچنۍ لور ستا ده زه هم په وطن کې د هغې په څېر يوه کوچنۍ لور لرم ، ما

دخپلې کوچنۍ لور په یاد ستا لور ته میوه راوړه ، زه د خرڅون او سوداګرۍ لپاره دلته ستا تر کوره نه یم راغلی .

په همدې حال کې هغې خپل جیب ته لاس ښکته کړ ، یو زوړ او خیرن کاغذ یې له جیبه را وویست، ورو ورو یې په خپلو لاسونو خلاص کړ او ماته یې پر مېز کېښود . د هغه کاغذ پر مخ د یوې کوچنۍ د لاس چاپ وو ، کوم تصویر په کې نه وو، کوم چا د ماشوم په لاس رنګ وهلی وو ، او بیا یې د هغې ماشومې لاس پر کاغذ ایښی وو ، په دې خاطر چې هر کله عبدالرحمان کلکتې ته د میوې د خرڅون لپاره راځي ، نو دا کاغذ به ورسره وي او چې کله شپې د خوب بسترې ته ځي او سترګې پټوي نو دا کاغذ پر سینه ږدي او آرام خوب به کوي . کیدای شي چې عبدالرحمان به د خپلې لور د بیلتون ډېر احساس کاوه ، د کوچني ماشوم د لاس د چاپ په لیدو سره مې اوښکې په سترګو روانې شوې . په دې شېبه کې زما او د کابلي والا تر منځ کوم توپیر نه وو ، ما په دې شېبه کې دا هېر کړل چې هغه یو میوه خرڅوونکی کابلي والا دی او زه یو معزز بنګالي شخصیت .ما په دې شېبه کې دا احساس کړه چې هغه زما په شان د یوې انجلۍ پلار دی ، د یو غرني هېواد په زړه کې د یوې معصومې کوچنۍ انجلۍ د لاس چاپ زه د خپلې لور مینې په یاد کې کړم .

ما په خپله ، خپله لور مینې دننه اطاق ته راوغوښته او د ښځو په پر له پسې اعتراضونو مې بیا هم اعتنا ونکړه ، مینې چې سور رنګې وریښمین ساري کمیس یې پر تن وو ، او د سندر خطونه یې پر جبین راښکلي وو ، د واده په جامو کې شرمیدلې ، شرمیدلې راغله او زما تر څنګ ودرېده .کابلي والا د مینې په لیدو سره طبیعت وور ورو خراب شو او ویې نشوای کړای چې د پخوا په څېر له مینې سره خبرې وکړي او په ټوکو ور ته څه ووایي ، بیا یې په خندانه لهجه وویل : مینې لورې ته خو دا دی د خسر کور ته روانه یې که څنګه ؟ مینې چې اوس په پوره مانا د خسرګنۍ د کور په مانا پوهېده ، په داسې حال کې چې شرم او حیا د مینې په څېره سیوری غوړولی وو ، ورو یې مخ بلې خواته واړه ، نرۍ اوښکې یې په سترګو راښکته شوې ، زه په همدې شېبه کې د مینې او کابلي والا د لومړي ځل لیدو په یاد کې لاړم . عبدالرحمان ، یو ځل بیا مینې ته غږ کړ ، مینې مخ را وګرځاوه په همدې شېبه کې عبدالرحمان جیب ته لاس کړ ، یو

وړوکی پاکټ یې له جیبه راوویسته او میني ته یې ونیوه ، میني لاس اوږد کړ ، له سترګو یې څو څاڅکي اوښکې د وچې میوې پر پاکټ تویې شوې او بیا یې د سر په اشاره له کابلي والا څخه مننه وکړه ، کابلي والا میني پر سر ښکل کړ ،مګر دا ځل یې ورته ونه ویل ، چې په خورجینه کې مې (هانتهی) دی ، ځکه کابلي والا خورجینه نه درلوده ، میني دوو میرمنو له لاسو ونیوله او له دروازې ووتله .

د میني له وتلو وروسته کابلي والا یو سوړ اسویلی له خولې وکیښ او په ځمکه کیناست ، ښکاره وه چې د هغه لور هم لکه د میني په څېر اوس لویه شوې وه ، او له خپلې لور سره یې باید په بله ژبه خبرې کړی وای . دا هم مالومه نه وه چې له اتو کالو بیلتون وروسته به د عبدالرحمان پر لور څه تېر شوی وو او اوس به هغه په څه وضیعت کې وه ؟په لمرین سهار کې ،شهنایي نغمې د ټول مجلس ناستو کسانو غوږونو ته نوازش ورکاوه ، کابلي والا په یوه څنډه کې غلی ناست وو ، کیدای شي په سترګو کې یې خپل کور په افغانستان کې لیده ، چې هلته ،دی له خپلو خلکو سره ښکته پورته کیږي او لور یې هم اوس ځوانه شوې ده.

د پیسو یو غټ بنډل مې هغه ته ورکړ او ورته مې وویل : عبدالرحمانه لور څخه دې ولاړ شه ، ته پوهیږي ستا او د لور په وصال کې به دې ،زما د لور واده نور هم رنګین شي . کابلي والا ته د پیسو په ورکولو سره مجبور شوم ،چې د خپلې لور د واده په لګښت کې کمۍ راولم ،ما د ځراغونوشمېرکم کړ ، او له موسیقۍ څخه هم په واده کې تېر شوم ، دا یو حقیقت دی د دې کار په تر سره کولو سره یو داسې معنوي ارامش زما په وجود کې پیدا شو ، چې ممکن د دنیا د ټولې شتمنۍ په درلودلو سره مې دا معنوي سوکالي نه وای په نصیب شوې .

# زړه ور خیاط:

**لیکوالان: د ګریم وروڼه؛ د المان له فولکلوریکو کیسو څخه**

د وړي د ګرم موسم په یو سهار کې د ښار په یوه لېرې څنډه کې د میز تر شاه ناست وو او په ډېر شوق سره یې خپل کار کاوه . ناڅاپه یوه کلیواله میرمن له لېرې را ښکاره شوه او نارې یې وهلې: خوندوره مربا خرڅوم ! خوندوره مربا! هلئ ژر شئ! خوندوره مربا واخلئ !

د مربا خرڅوونکي کلیوالې میرمنې غږ په خیاط ډېر خوږ ولګید ، وړوکی سر یې د خیاطۍ له کړکۍ بهر وویست او غږ یې کړ: هئ میرمنې راشه دلته !

پاس راوخېژه ، هرڅه چې لرې دلته به ټول په ښه بیه خرڅ شي . کلیواله میرمن په ډېر تکلیف له زینو پورته لاړه . د مربا له کاسو ډکه ټکرۍ یې د خیاط مخې ته کېښوده ، خیاط د مربا ټولې کاسې په یو نظر له سترګو تېرې کړې ، یوه کاسه یې له سبدې څخه را پورته کړه ، پزې ته یې ونیوه ، بوی یې کړه د مربا بوی خوند ور کړ ، د بوی کاږلو پر مهال یې سر پورته آسمان ته ونیوه ، اوویې ویل: آه !څومره خوندوره مربا ده!

میرمنې ته یې وکتل هغه هماغسې په دوو پښو ولاړه وه ، هیڅ یې نه ویل یوازې خیاط ته متوجه وه ، چې څه وایې . خیاط بیا هغې بلې کاسې ته وکتل ، په کاسه یې سترګې رډې رډې راوویستې، بیا یې ولاړې کلیوالې میرمنې ته خوله خلاصه کړه . امممم زما په نظر چې ښه خوندوره مربا ده ، د یو خورد په اندازه خو راکړه ، که لږه ډېره هم وه خیر دی پروا نکوي .

کلیوالې میرمنې چې هیله یې وه ، ډېره مربا خرڅه کړې هسې ونه شول ، یو څه یې وتلله او خیاط ته یې ونیوله ، بیا له ځان سره په خبرو خبرو له دوکانه کوزه شوه .

خیاط له ځان سره وویل : خدایه زما په مربا کې خیر او برکت واچوي ،څو زما مټو ته ډېر قوت او ځواک راوبخښي .بیا یې د الماری دروازه خلاصه کړه یو ټوټه وچه ډوډۍ یې راواخیسته مربا یې پرې واچوله ، له ځا سره یې وویل : هرمرو دا مربا تریخ خوند نلري ، ځکه هغې میرمنې یې ډېر صفتونه وکړل .خومخکې له دې چې مربا خولې ته کړم ، ښه به وي چې د چرمي کرتۍ د ګنډولو کار ورخلاص کړم .

ډوډۍ یې څنګ ته کېښوده او ګنډولو ته یې ادامه ورکړه ، خو هر ځل چې به یې د ډوډۍ پر سر مربا ته وکتل ، خولې به یې اوبه پرېښودې . په دې شېبه کې د مربا خوندور بوی د دوکان دیوالونه ته چې هلته د مچانو ډلې پر دیوالونو نښتې وې ورسېده . مچانو پر خوندورې مربا ، یرغل پیل کړ او ډله ، ډله مچان به پر مربا کېناستل او پاڅېدل . خیاط یودم په مچانو غوسه شو ، هی خدایه تاسو ته نو چا بلنه درکړې وه ؟ خیاط پر نابللو میلمنو ( مچانو) حمله وکړه .مګر مچان د خیاط په ژبه نه پوهېدل ، بیا ، بیا ځلې تر پخوا په لویو ډلو کې پر مربا را کوز شول . خیاط چې نور یې د صبر کاسه نسکوره شوه ،د خیاطۍ له جعبې یې یو دروند دستمال را وویسته او بیا یې وویل : اوس نو صبر وکړئ چې تاسو ته یې وښایم ! په ډېرې بې رحمۍ یې پر مچانو ګوزارونه وکړل . کله چې یې دستمال راټول کړ او مړه مچان یې وشمارل ، اووه مړه مچان اوږده لینګې پراته وو . بیا یې مړو مچانو ته وکتل او خپله زړورتیا یې وستایله او خپل ځان ته په خطاب کې یې وویل: عجب مېړه یې والا ! ټول ښار باید له دې خبرې خبر شي ! د ټوکر یو برخه یې را

پرې کړه ، يو غټ کمربند يې ځان ته جوړ کړ او په غټو تورو يې پرې ګلدوزي کړل : اووه تنه په يوه ضربه کې .

بيا يې وويل : ای بابا ، ټول ښار څه دی ؟ ټوله دنيا بايد زما له دې کاره خبر شي !له ډېرې خوشالۍ يې زړه لکه د پس لم داسې لړزېده .

خياط کمربند له ما وتړه او پرېکړه يې وکړه چې پر ټوله دنيا به راګرځي ،ځکه خياط داسې فکر کاوه چې د خياطۍ دوکان يې د زړ ورتيا د ښودلو لپاره ډېر تنګ او کوچنۍ ځای دی .

مخکې له دې چې له کوره ووځي ، ټول ځايونه يې ولټول ، هره خوا يې نظر واچوه کتل يې داسې څه پيدا کړي چې د سفر پر مهال يې په درد وخوري .مګر بې له يوې ټوټې پنيره نور يې داسې څه پيدا نکړل چې هغه له ځان سره واخلي د پنير ټوټه يې په جيب ومنډله . کله چې د کور له دروازې بهر شو ، لږ وړاندې هلته يوه کوچنۍ مرغۍ په بوټو کې بنده پاتې وه ، هغه يې راخلاصه او په هماغه جيب کې يې چې د پنير ټوټه وه ، مرغۍ يې هم واچوله .

په ډېره زړورتيا يې د سفر لاره ونيوه ، خو دی چې څنګه ډنګر او چابکه وو ، نو پر لاره يې د ستړيا ډېر احساس نه کاوه . د يو لوړ غره تر څوکې غزېدلې نرۍ لاره يې په مخکې ونيوه ، کله چې د غره لوړې څوکې ته ورسيد، يو ډېر غټ او قوي ديو د يوې تيږې خواته ناست وو ، او هره خوايې په ډېر دقت کتل . خياط سل زړونه يو کړل په ډېر جرآت د ديو خواته نژدې شو او ويې ويل : ورځ مو پخير ملګريه ! ته دلته ناست يې لويه او ستره نړۍ ننداره کوې ؟ مګر زه اراده لرم چې په دې ستره نړۍ کې سير و سياحت وکړم او خپل بخت وازمايم . آيا غواړې چې زما ملګرتوب وکړي ؟ ديو برګ برګ خياط ته وکتل او ويې ويل : ای بيچاره ضعف او ډنګر انسانه ! خياط د ديو په خبره کې ورغبرګ شو، بس کړه !خياط د خپل کميس څو تڼۍ خلاصې کړي ، ورو يې تر ملاتړلۍ کمربند ديو ته وښود : دلته وګوره ، ولوله چې زه څوک يم بيا به خبرې کوو ! ديو کمربند ته وکتل ، اووه تنه په يوه ضربه . ديو داسې ګومان وکړ چې دا اووه تنه به هغه

انسانان وي چې ده په یوه ضربه له منځه وړي . د دیو په ذهن کې لږ احترام د هغه کمزوري خیاط په نسبت پیدا شو ، مګر بیا یې هم غوښتل چې خیاط و آزمایي ، یوه تیږه یې له ځمکه راواخیسته دومره یې په لاسونو کې ورته فشار ورکړ، چې ان اوبه ترې تویې شوې . بیا یې وویل : ای انسانه که ته دومره قوي یې همدا کار وکړه ؟ خیاط په ځواب کې وویل : دا خو زما لپاره ډېره وړه خبره ده . زما لپاره دا د ماشومانو لوبه ښکاري ، خیاط جیب ته لاس کړ ، نرم او ملایم پنیر یې راوویست ، ښه یې په لاسونو کې ورته فشار ورکړ ، تر دې چې د پنیر شیره تویې شوه بیایې وویل : زه له تا ډېر پیاوړی یم ، دیو پوه نشو چې څه ځواب ورته ورکړي ، او په دې پوه نشو چې کمزوري خیاط له څه هنره کار واخیست . وروسته له هغې چې دیو ځواب ورنکړ خیاط ته یې هیڅ ونه ویل ، یو تیږه یې په لاس کې واخیسته او دومره یې لیرې وویشته ، چې خیاط نوره په هوا کې هم پیدا نکړه . دیو خیاط ته مخ راواړوه ، ورته یې وویل ، کمزوریه انسانه ته هم دا کار وکړه ووینم ، چې څومره قوي یې !خیاط دیو ته وکتل ، لنډه موسکا یې پر شونډو ، خوره شوه بیایې وویل ، تیږه دې ډېره ښه وویشته ډېره لیرې مګر ته پوهیږې ، چې هغه تیږه بیرته ځمکې راښکته شوه .زه به داسې تیږه په هوا کې وولم ، چې هیڅکله به بیرته ځمکې راستنه نشي .بیا یې جیب ته لاس کړ ، مرغۍ یې هوا ته ور وویشته ، مرغۍ چې له خپلې آزادۍ خوښه وه ، پورته آسمان ته والوته ، لیرې لاړه او هیڅ کله بیرته را ونه ګرځیده .خیاط دیو ته وکتل ، ښه اوس ووایه چې زما هنر دې خوښ شو او کنه ؟دیو خیاط ته وکتل ،په تیږه ویشتلو کې ښه مهارت لري مګر اوس ووینم ،چې د بار په وړلو کې څومره طاقت لري .دیو، خیاط د یوې غټې څېرۍ ونې ته چې لږ لېرې پر ځمکه پرته وه ودراوه ،او ویې ویل : که په کافي اندازه ځواک در کې وي نو ژر شه مرسته راسره وکړه ، چې دا ونه له ځنګله وباسو . کمزوري خیاط ځواب ورکړ : په ډېره مینه زه دا کار کوم ،ته د ونې تنې ته اوږه ورکړه زه به یې ښاخونه در پورته کړم چې ډېر وزن لري .دیو د ونې غټه تنه په اوږه کېښوده ،مګر خیاط د ونې په یو ښاخ داسې کیناست چې د تګ پرمهال دیو هغه ته نشوای کتی ، په دې توګه دیو مجبور وو ، چې ټوله ونه سره له خیاطه په اوږه پورته کړي . خیاط د دیو تر شا د ونې پر یو ښاخ ناست وو ، له ځان سره یې د ( دري خیاطان پر آس سواره دي ، د ښار له دروازو

بهر ځي ) سندره په ډېر شوق زمزمه کوله او داسې يې ښودله چې د ونې پر اوږه پورته کول ، د هغه لپاره د ماشومانو يوه لوبه ده . ديو چې دا دورند بار تر يوه ځايه پر اوږو يوړ ، نور يې وس ونه رسيده ويې ويل : غوږ شه ، زه مجبور يم ونه خوشي کړم نور مې وس پرې بر ندی . خياط په چټکۍ سره له ښاخه لاندې ټوپ کړ .له غټې ونې يې داسې لاسونه را تاو کړل ، لکه چې دا درنه ونه ده تر دې ځايه راوړې وي .بيايې ديو ته وويل : ته دې،دې غټې تنې ته وګوره يوه ونه نشي وړئ ؟

ديو او خياط خپلې لارې ته ادامه ورکړه ، د ګيلاسو ونې ته ورسيدل . ديو د ګيلاس د ونې له ښاخونو چې ميوې ترې ځوړندې وې را وشکولې. د ونې يو ښاخ يې راټيټ کړ ، خياط ته يې په لاس کې ورکړ ، چې څه ميوه ترې وخوري .مګر کمزوري خياط ونشواى کړاى چې د ونې ښآخ ټينګ کړي ، همدا چې ديو ښاخ خوشي کړ ، ښاخ نيغ شو او خياط يې هوا ته پورته کړ . وروسته له هغې چې خياط روغ او رمټ ېبرته پر ځمکه را پرېووت ، ديو وويل : دانو څه کار وو ؟ د دې زور نلري چې يو کمزورى ښاخ په لاس کې ونيسي؟ خياط ځواب ورکړ : زور خو په پوره اندازه لرم ، ته څه فکر کوې چې د يو ښاخ ټينګول هغه چاته چې په يوه ضربه اووه کسان وژنې کوم سخت کار دی ؟ ما د ونې سر ته خيز وواهه په دې خاطر چې هلته په ها بله خوا کې ښکاريان غشې ولې . که ته کولی شي زما په شان د ونې سر ته خيز ووهه .ديو هڅه وکړه مګر ويې نشواى کړاى چې د ونې سرته خيز ووهي ، د ونې د ښاخونو په منځ کې بند پاتې شو .په دې لوبه کې هم خياط وګټله .

ديو خياط ته وويل : که ته دومره زوړر انسان يې ، راځه له ما سره چې لاړ شو زمونږ سمڅې ته شپه به هلته تېره کړو. کله چې خياط د ديوانو سمڅې ته ورسيده ، هلته له لوى اوره ګرده چاپېره غټ غټ ديوان ناست وو ، هر يوه وريت شوى پسه په منګل کې نيولی وو ،اوپه خوله يې ورمنډه . خياط د لويې سمڅې شاو خوا ته نظر واچوه ، بيا يې له ځان سره فکر وکړ ، چې دا ځاى د هغه تر خياطۍ ډېر لوى او پراخ ځاى دى . ديو خياط ته د هغه د خوب تخت په نښه کړ ، چې خياط هلته څملي . مګر د خوب تخت د خياط لپاره ډېر غټ وو . خياط د خوب په تخت کې يوې څنډې ته ځان واچوه ، کله چې شپه نيمايي ته ورسيده

،دیو داسې وګڼله چې خیاط نور په خوب ویده دی ، له ځای پورته شو د اوسپنې یوه غټه میله یې را
واخیسته ، په یوه ضربه یې تخت دوه ځایه کړ ، له ځان سره یې داسې وګڼله چې د کمزوري خیاط کار یې
ورختم کړ ، سهار چې کله دیوان ځنګله ته لاړل ، نور یې خیاط بلکل له یاده وواته . ناڅاپه خیاط د دیوانو
مخې ته په خندانه خوله ودرېده ، دیوان د خیاط په لیدو په وېره کې شول ،دیوانو یو بل ته وکتل د هر یوه
په سترګو کې د وېرې څپه له ورایه ښکاره شوه، هر دیو یو بل ته په هیبت کتل ، هر یوه داسې ګومان وکړ
هسې نه چې خیاط په غوسه شي او ټول له منځه یوسي یو دم ټولو منډه کړه او په منډه منډه د ځنګله
خواته لاړل . خیاط په لوړ دماغ له هغه ځایه وخوځېده ، او له ډېر سفر وروسته د پاچا ماڼۍ ته ورسید. خو
هغه ډېر ستړی شوی وو ، له ډېرې ستړیا د ماڼۍ په شنه چمن کې دراز پرېوت او په خوب ولاړ .په داسې
حال کې چې خیاط د ماڼۍ پر شنه چمن ویده وو ، شاوخوا یې ټول خلک راټول شول، د هغه پر ملا تړلې
کمربند لیکه یې ولوسته ، چې پرې لیکل شوې وو : اووه تنه په یوه ضربه .هر چا به ویل ، چې اې لویه
خدایه دومره زړور او لوی جنګیالی د سولې په دې زمانه کې دلته څه کوي ؟ بیا به هر یو بل ته کتل وبه یې
ویل ، بې له شکه چې دی به کوم شهزاده وي .د خلکو څو تنه مشران پاچا ته ولاړل، د خیاط ټول تعریفونه
یې ورته وکړل اودایې هم پاچا ته وویل ،که چېرې په وطن کې جنګ شروع شي بې له شکه چې دی به
زمونږ له پوځ سره یو قوي مټ وي، چې باید له لاسه یې ورنکړو .د خلکو دا مشوره پاچا ته د منلو ښکاره
شوه ، یو درباري یې خیاط ته واستوه، چې هر کله هغه له خوبه راوېښ شو ، نو درباري به ورته د پاچاهۍ
په پوځ کې د خدمت کولو وړاندېز وکړي .د پاچا قاصد د خیاط سرته ودرېد ، په تمه شو چې څو خیاط
پښې اوږدې وغځولې ، لاسونه لږ څه کش کړل ، بیا یې ورو ، ورو سترګې پرانیستې .د پاچا قاصد خیاط ته
د پاچا وړاندیز اعلان کړ .خیاط په ځواب کې وویل : هوکې ، په همدې خاطر زه دلته راغلی یم اودې ته
حاضر یم چې د پاچا په پوځ کې خدمت وکړم .په ډېر درنښت له خیاط نه هرکلی وشو ، په ماڼۍ کې یوه
ځانګړې خونه هم ورته په پاّم کې ونیول شوه .

خو نورو جنګيالو له خياط سره د مخالفت لار را واخيسته ،د ټولو جنګيالو هيله دا وه چې دی ترې په زرګونه ميله لېرې چېرته لاړ شي . ټولو په خپلو کې سره مشوره وکړه ، چې برخه ليک به موځه کيږي ؟ ټولو داسې ګومان کاوه ، که چېرې له خياط سره په جګړه واوړي ، په هره ضربه به اووه تنه له منځه لاړ شي پّه دې توګه به ټول ختم شي . هيڅ يوهم مقاومت نه شو کولی . ټول جنګيالي په يوې حل لارې سره سلا شول ، يوځای ټول پاچا ته لاړل ، خپل عذر يې وړاندې کړ ، چې نور مونږ په پوځ کې دنده نشو تر سره کولی .ټولو په يوغږ پاچا ته وويل : چې مونږ کې دومره قوت او طاقت نشته چې له هغه چا سره چې په يوه ضربه اووه تنه له منځه وړي د هغه په څنګ کې ودريږو . پاچاهم ددې لپاره چې د يوه تن لپاره ټول پوځي جنګيالي له لاسه ورکوي ډير خفه وو ، سوچ کې شو له ځان سره يې سوچونه کول ، کله کله خو به يې وويل ، چې ای کاش هغه مې نه وی ليدلی ، په همدې خاطر په ډېر شوق سره دې ته حاضر وو، چې خياط ته له پوځي دندې نه ځواب ورکړي ،مګر د لېرې کولو جرآت يې نه کاوه ، ځکه له پاچا سره د دې وېره وه ، که چېرې هغه ته ځواب ورکړي هسې نه چې هم دی او هم د ده ټول رعيت له منځه يوسې او خپله د پاچاهۍ پر تخت کيني .

پاچا ډېره موده په دې فکر کاوه ، چې هغه (خياط) څنګه له پوځه لېرې کړي بلآخره يې زړه نا زړه يوه حل لاره ذهن ته ورغله . پاچا خپل يو قاصد خياط ته ولېږه او دايې ورته وويل چې هغه خو د جګړې يو ستر اتل دی ، نوځکه پاچا ترې يوه غوښتنه لري : د هېواد په يو ځنګل کې دوه غټ ديوان اوسيږي ، په خپل زور او ظلم سره يې ډېر لوی تاوانونه هېواد او خلکو ته را اړولي ، هيڅوک هغه ديوانو ته د نژدې کېدو زړه نه کوي ،مګر هغه څوک چې خپل سره پّه تلې کې واخلي او هلته لاړ شي . که چيرې دی ( خياط ) وکولی شي ، چې هغه ديوان له منځه يوسي ، هېواد او خلک له دې ستونزې خلاص کړې ،نو پاچا به خپله يوازينۍ لور هغه ته په نکاح کړې او د واده په ډالۍ کې به هم د هېواد نيمايي خاوره هغه ته ورکړي .د دې کار لپاره به سل قوي جنګيالي له خياط سره مرسته وکړي . خياط غلی شو له ځان سره يې فکر کاوه ، چې دا کار يوازې زما په شان يو اتل کولی شي او بس . يو ښکلي شهزادګۍ او نيمايي هېواد هر کله انسان ته نه

میسر کیږي . بیا یې له څه سوچ وروسته د پاچا قاصد ته په وینا شروع وکړه ، زه دا کار کوم ، د دې کار لپآره سلو تنو جنګیالو ته هم اړتیا نشته ، هغه څوک چې اووه تنه په یوه ضربه له منځه وړي ، له دوو تنو خو بیا هیڅ کله وېره نکوي .

خیاط د ځنګله پر لور روان شو ، سل تکړه جنګیالي یې تر شا وخوځیدل . کله چې د ځنګله یوې څنډې ته ورسېدل ، خپلو ملګرو ته یې وویل : تاسو همدلته پاتې شئ ځنګله ته دننه مه ورځئ ، زه په یوازې ځان له دیوانو سره جوړیږم .خیاط ځنګل ته ورننوت ، هاخوا دېخوا یې ټوله سېمه له نظر تېره کړه ، له څو شېبو وروسته یې دوه دیوان ولیدل چې د یوې غټې ونې لاندې په درانه خوب پراته دي او داسې خرهارۍ له سوږمو وځې چې آن د ځنګله ونې ورسره خوځیږي .خیاط خپل دواړه جیبونه له تیږو ډک کړل د هماغې ونې سرته وخوت چې تر لاندې دیوان ویده وو .کله چې د ونې منځنۍ څانګې ته ورسید ، ورو ،ورو په سینه وښوېده د ونې هماغې برخې ته یې ځآن وربرابر کړ ، چې لاندې ترې دیوان پراته وو .بیا یې یوه یوه تیږه د دیوانو پر ټټر را وغورځوله ، دیوانو تر یوې اوږدې مودې پورې څه حس نکړل . خو بلاخر یو دیو راویښ شو ، د څنګ دیو یې په اوږه ټیل واهه او ویې ویل : ولې مې وهې ؟ بل دیو وویل : ته خوب وینې ما نه یې وهلی .دواړه دیوان بیا په خوب ولاړل .خیاط یوه غټه تیږه د دویم دیو پر ټټر ګوزاره کړه . دیو خپل ملګري ته وویل : دا کار څه مانا ؟ ولې ما په تیږه ولې ؟ لومړني دیو وویل : ما خو ته په تیږه نه یې ویشتئ ، له ځان سره یې غر غر کړې ، خو دیوانو څو شېبې یو له بل سره ژبه واړوله ، خو دا چې ډېر ستړي وو ، جګړې ته یې زړه ښه نکړ بېرته د دواړو سترګې پټې شوې . خیاط خپله لوبه له دیوانو سره بیا پیل کړه ، یوه غټه تیږه یې پورته کړه او په ټول قوت یې د لومړني دیو پر ټټر را ګوزاره کړه ، دیو چیغه کړه : دا ډېر بد کار دی ! لکه لیونۍ له خپله ځایه پورته شو ، خپل ملګری یې داسې په ونه وتپه ،چې ټوله ونه ورسره وخوځیده ، دویمې دیو هم همدا عکس العمل وښود .دواړه داسې غوسه شول ،چې ونې یې له بیخه را وویستې او د یو بل پر سر یې وړې وړې کړې په یوه وخت کې دواړو ساه ورکړه او پر ځمکه غټ غټ را پرېوتل . خیاط له ونې لاندې ځان را واچوه او ویې ویل : له نیکه مرغه په هغه ونه کې چې زه ناست

وم هغه یې له بیخه راونه ویسته ،او کنه لکه بیزو باید بلې ونې ته مې ټوپ کړی وای ، بیایې له ځآنه سره وخندل ، او ویې ویل : خیر مهمه نده مونږ خیاطان همداسې چابکه یو ! خیاط خپله توره له تیکې راوویسته ،ځوکاري ضربې یې د دواړو دیوانو پر بدن واردې کړې او بیا یې خپلو ملګرو خواته یې درانه درانه قدمونه پر ځمکه کېښودل او روان شو.هغوی چې کله خیاط ته وکتل چې توره یې سره ده او هغه هیڅ څنګه ندی شوی ټول ووېرېدل . خیاط هغوی ته وویل : کار ختم شو ، دواړه مې ووژل . مګر سخته جګړه مو وکړه ، دیوانو د ځآن د دفاع لپاره ونې له بیخه را وویستې ،پر ما یې ګوزارونه وکړل مګر نتیجه یې ورنکړه .ځکه تاسو پوهیږئ ، چې د دیوانو دا مقاومت د هغه چا پر وړاندې چې په یوه ضربه اووه تنه له منځه وړي هیڅ پایله نلري .سپرو جنګیالو پوښتنه وکړه : څنګه وشول چې ته په دې دومره ستره جګړه کې ټپي نشوي .خیاط په ځواب کې وویل : ډېرې لارې او ګودرې شته ، ان چو یو ویښته مې هم له ځایه بیځایه نشو . سپرو د خیاط په خبرو باور ونکړ یو دم ټولو ځنګله خواته ولګول ،کله چې هلته ورسېدل دیوان یې په وینو کې لت پت ولیدل ، شاو خوا یې غټې ونې چې له بیخه راوتې وې پرتې وې .

خیاط له پاچا د هغه ډالۍ غوښتنه وکړه چې له هغه سره یې ژمنه کړې وه . مګر پاچا له هغه ژمنې چې له خیاط سره یې کړې وه ، پښېمانه شو . پاچا بیا د خیاط له شره د خلاصون په فکر کې شو . خیاط ته یې وویل : مخکې له دې چې ته زما لور او د هېواد نیمایې خاوره تر لاسه کړې ، ته مجبور یې چې یوه بله اتلولې هم تر سره کړې .په یو ځنګل کې یو ښکر والا آس دی چې ډېر خسارې یې خلکو ته ور اړولي ، لومړی ته باید هغه آس را ونیسي .خیاط وویل : زما وېره له یو ښکر والا آسه نه ده ،ما چې دوه خطرناکه دیوان ووژل ، نو یو ښکر والا آس خو هیڅ شی هم ندی ،پاچا صایب ته باید په یاد ولري چې زما کار ، اووه تنه په یوه ضربه کې دي !

خیاط رسۍ او تبر واخیستل ، ځنګل خواته ولاړ . مګر خپلوملګرو ته یې وویل ، چې له ځنګله بهر ورته په تمه شي .خیاط اړ نه وو چې ډېر وخت انتظار وباسي ،ځکه چې یو ښکر والا آس ډېر ژر له یوې خوا را پیدا شو ، او نیغ یې پر خیاط حمله وکړه . یو ښکر والا آس غوښتل چې په یوه حمله خیاط په ښکر پورته کړي ،

خیاط ورته وویل : آرام ، آرام په دومره عجله خو هم نکیږي . خیاط غلی ودرېد انتظار یې ویست ، څو حیوان ښه ورته رانژدې شو ، هغه وخت په ډېرې چالاکۍ سره د ونې شاته تاو شو .حیوان په خپل ټول قوت سره په ونه کې ښاخ بند کړ ، ښاخ یې دومره په ونه کې ښخ شو ، چې حیوان د ښاخ بیرته د راویستو ځواک نور له لاسه ورکړی وو ،په دې توګه حیوان د خیاط په دام کې راګیر شو .خیاط بیا له ځان سره وخندل ، مرغۍ مې ډېره ښه په دام کې راګیر کړه !

د ونې له شانه را ووت رسۍ یې د حیوان په غاړه کې واچوله ، تبر یې را وویسته د حیوان ښکر یې والوځوو ، حیوان یې مخکې واچوه او پاچا څخه ولاړ.

پاچا تر دې دمه هم دېته حاضر نشو ، هغه ژمنه چې یې له خیاط سره کړې وه ،هغه ته یې ور کړې ، دریم شرط یې پرې کېښود .خیاط مجبور وو هغه خنځیر چې په یوه ځنګله کې یې ډېرې ورانۍ رامنځته کړې وې ونیسي . د پاچا ښکاریان هم په دې کار کې باید له هغه سره مرستې ته تللې وای . خیاط وویل : ډېر ښه .دا خو زما لپاره لکه د ماشومانو لوبه هم نه ښکاري . خیاط د پاچا ښکاریان له ځان سره د ځنګل منځته دننه نکړل ، د پاچا ښکاریان هم په دې کار راضي وو .ځکه چې هغه وحشي خنځیر څو ځله داسې د پاچا له ښکاریانو نه ښه ګرم هرکلی کړی وو، چې بیا هیڅکله د پاچا ښکاریان د هغه خنځیر سره د مخامخ کېدو شوقیان نه وو .

خو کله چې په ځنګله کې خنځېر خیاط ولید ، خوله یې له ځګه ډکه شوه او په تیرو غاښونو یې مخامخ په خیاط برید وکړ ، غوښتل یې چې په یوه ټېله خیاط پر ځمکه نقش کړي . مګر زموږ د کیسې اتل خیاط دمقابلې پر ځای په منډه شو ، هغې کوچني عبادت ځای ته چې نژدې یې هلته موقیعت درلود د دروازې له لارې ور ټوپ کړ، خو کله چې خیاط د عبادت خونې له بلې کړکۍ بهر ته ټوپ کړ ، په ډېره عجله د خونې له شاه خوا نه راتاوو شو، د وتلو دروازه یې په خنځېر وتړله ،په پایله کې حیوان چې نه یې شوای

کولی د کړکۍ له لارې بهر ته ټوپ کړې په دام کې پرېوت ، خیاط د پاچا ښکاریانو ته غږ کړې چې راشي او په خپلو سترګو په دام کې راګیر شوی خنځیر ووینې .

خو تاسو پوهیږئ ،چې دا ځل د کیسې اتل خیاط بیا پاچا ته ولاړ ، پاچا زړه نا زړه دا ځل مجبور وو ، چې خپله لور او د هېواد نیمایي خاوره خیاط ته په واک کې ورکړي که چیرې پاچا پوهېدلی ، چې هغه یو زړه ور جنګیالی نه بلکې یو حقیر او بیچاره خیاط دی ، کیدای شي تر دې هم خفه شوی وای . له ډېرې مودې وروسته د پاچا لور په دې پوهه شوه چې خاوند یې په خوب کې له ځان سره لګیا وي خبرې کوي مثلاً وایي : واه هلکه ژر شه زما کورتۍ وګنډه، زما پتلون را جوړ کړه . او کنه سم به دې برابر کړم ! شهزادګۍ پوهه شوه چې دا ځوان یانې خاوند یې په څه ډول یو ناپاکه کوڅه کې دې نړۍ ته راغلی ، بله ورځ سهار وختې شهزادګۍ خپل پلار ته شکایت ورغله ، چې د هغه مېړه له شره یې خلاصه کړي چې هغه یوازې یو ساده خیاط دی او بس .پاچا په دې خبره یو څه خفه شو، خو بیا یې هم خپلې لور ته ډاډګېرنه ورکړه ، چې راتلونکې شپه دې د کوټې دروازه خلاصه پرېږدې ،زما خدمتګاران به له دروازې بهر ولاړ وي ، کله چې خیاط په خوب ویده شو ، هغوی پرې حمله کوي لاس اوپښې یې تړي په یوه قایقه کې به یې واچوي او د نړۍ یو لېرې ګوټ ته به یې ولیږي چې بیا هیڅکله هم رانشي .د پاچا لور په دې خبره راضي شوه ،مګر د پاچا یو مسلح ساتونکې چې له ځوان خیاط سره یې مینه وه د پاچا له دې توطیې یې خیاط خبر کړ .خیاط وویل : د دې نقشې د له منځه وړلو لپاره به یو کار کوم . هماغه شپه په خپل وخت له خپلې میرمنې سره د خوب ځای ته ولاړ ،څه وخت چې تېر شو ښځه یې پوهه شوه چې خیاط په خوب ویده دی ، له خپله ځایه پورته شوه ، د کوټې دروازه یې خلاصه کړه او بېرته په خپل ځای اوږده وغځېده .خیاط چې په دروغو یې ځان په خوب وهلی وو، په لوړ غږ یې په خبرو کولو شروع وکړه : واه هلکه ! ژر شه کورتۍ مې جوړه کړه او پتلون مې وګنډه . که نه داسې به دې برابر کړم چې یاد به یې ساتې ! ته پوهیږې ما اووه تنه په یوه ضربه له منځه وړي ، دوه دیوان مې د مرګ په خوب ویده کړل ، یو ښکر والا آس مې ونیو او وحشي خنځیر مې په دام کې واچوه . ته فکر کوي زه له هغه خلکو وېرېږم چې زما د کوټې د دروازې

شاته ولاړ دی ؟ دا چې سرتېرو د خیاط خبرې واورېدې . داسې ټول په منډو شول ، چې تا به ویل یو وحشي لښکر يې شاته را خوشي دی هیڅ سرتېري له خیاط سره د جګړې زړه ونکړ ، له دې وروسته خیاط خپل ټول عمر په پاچاهۍ کې تېر کړ .

۱۷/۸/۱۳۹۸

## ګوګړ پلورنکې انجلۍ:

**لیکوال :کریستین اندرسن**

د کال وروستۍ شپه د لوړ اسمان په زرې زرې تنابونو کې په ډوبېدو وه . نوی کال ورو ورو په رار سېدو وو . هوا ډېره سړه وه ، د سپېمې پر ټوله خاورینه سینه واورې ورېدې ،د وارو سړو څپو سره هوا هم ورو ورو تیاره کېده .

په همداسې یوه سړه او تیاره شپه کې ، یوه کوچنۍ او بې وزله انجلۍ په لوڅو پښو په لارو او کوڅو کې لالهانده ګرځېده . کله چې له کوره راوته یوه جوړه لرګینې کټاوې يې په پښو وو ، هغه پښې چې مور يې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ هغه په پښو وې . پښې يې ډېرې زړې وې ، څو ځایه شلېدلې وې ، د کوچنۍ انجلۍ په پښو کې دومره لویې وې ،چې کله به هغه ورسره په لاره تله ، نو ترق ، ترق به يې له پښو آواز پورته کېده . مګر بیا يې هم د انجلۍ پښې يو څه ګرمې کړې وې . خو کله چې کوچنۍ انجلۍ غوښتل د دوو ټانګو(بګیو) له منځه تېره شي پښه يې بنده شوه پښې له پښو ووتې او لېرې وغورځېدې . یوه پښه خو

يې هيڅ پيدا نشوه ، هغه بله يې هم يو كوچني هلك په لاس كې واخيسته او وتښتېد ، هلك له ځان سره
وويل ، هې ته همدلته ژاړه ، دا ښه به له ماسره وي ، كله چې لوی شوم واده مې وكړ او زوی مې پيدا شو بيا
به له دې ښې ور ته ګهواره جوړه كړم او پكې زنګوم به يې .

كوچنۍ انجلۍ په شوخ هلک پسې څو غبرونه وكړل خو هغه لاړ وتښتېد ، انجلۍ په لوڅو ښنو چې له
ډېرې سړې هوايې ښنې تكې سرې اوښتې وې په لاره روانه شوه. په مخامخ ځوړنده كڅوړه كې يې د
ګوګړو څو قطيان پراته وو .يو قوطی يې په لاس كې نيولی وو . په هماغه ورځ يو قوطی ګوګړ هم چا ترې
نه وو اخيستي ، يوه روپۍ يې هم نه وه ګټلې .انجلۍ به هر چا ته حيران ، حيران كتل د بې كسۍ سخت
درد اخيستي وه ، له لوږې يې قدمونه سست سست كېدل ، سړې هوا يې ټول بدن لكه پاڼه رپاوه .هغه
ريښتيا هم د درد او بدبختۍ يو ژوندی تصوير وو .

غټه ، غټه واوره يې پر هغه طلايي ويښتانو چې تر ستونې لاندې يې حلقه تاو شوی وو ، ورېدل، ټول
ويښتان يې واورې سپين اړولي وو ،مګر هغې كوچنۍ انجلۍ اصلآ دې څېزونو ته پام نه وو.

د كوڅې له دواړو غاړو د كورونو رڼاوې د آرامه كوڅې پر سينه ځای ، ځای تياره ګوټونه رڼا كړې وو . د
خوندورو خوړو بوی يې تر پزې لاسونه را غزولې وو ، كله چې به كوچنۍ انجلۍ د هر كور د كړكۍ تر
لاندې تېرېده نو د مزه ناكه خوړو بوی به يې اشتها نوره هم زياته كړه ، په هر كور كې د ښار خلكو ځانته
مراسم نيولی وو ، ځكه چې د نوي كال شپه وه ، ګوګړ پلورنكي انجلۍ هم يوازې همدې شپې ته فكر كاوه.

د كوڅې په يوه څنډه كې دوه كورونه څنګ په څنګ واقع وو .د يوه كور يوه څنډه لږ بهر راوتلې وه ، تقريبآ
يو پناه ځای يې جوړ كړی وو .كوچنۍ انجلۍ چې يخ په عذاب كړې وه ، هلته كېناسته ، كوچنۍ ښنې
راغونجې كړې په داسې حال كې چې سړې هوا لكه د ليوه په څېر پرې خوله لګوله ، لاسونه يې تر ځان
چاپېر كړل آسمان ته يې وكتل ، تپه تياره وه ، هيڅ څه يې ونه ليدل بيا يې سر پر څنګل كېښود او كېناسته
.څو ځله يې له ځان سره پرېكړه وكړه ، چې ښه به دا وي چې كور ته لاړه شي ، مګر هر ځل به بېرته

پښیمانه شوه او کور ته د تللو جرآت به یې پرېښود ، ځکه هغې په ټوله ورځ یو قوطی ګوګړ هم نه وو خرڅ کړې ،که چېرې کور ته تللې وای ،پلار یې حتمن بیا ورسره د کوتک په ژبه حساب کاوه .

کور یې هم داسې وو لکه بیرون کوڅه ، سړه او تیاره کوټه نور څه نه وو .

په کور کې یې نه بړستن وه او نه توشک ، یوائې د کوټې چت وو او ساړه دېوالونه .د کوټې دروازه او دېوالونه زاړه او سورې سورې وو ، چې سوړ باد به د کوټې له سمڅو په سړې خوله لګوله .د دیوالونو یو څه درزونه یې په خټو او خځلو پټ کړې وو . مګر بیا به هم سوړ باد کوټې ته مخه کوله او ټوله کوټه به سړه او یخه شوه .

کوچنې لاسونه یې له ډېره یخه بې حسه شوې وو . که چېرې هغې دا توان درلودای چې یو اورلګیت بل کړي څومره ښه کار به شوی وو ، هغې بیا کولی شول چې خپل کوچني لاسونه د اورلګیت اور ته ګرم کړي .

یو اورلګیت یې را واخیست په دېوال یې را کش کړ ،کشش یې غږ کړ او ولګېده ، د شمعې په څېر یې رڼا وکړه ،ګرمه څپه یې خپره کړه ، کوچنۍ انجلۍ خپل لاسونه لکه حباب ورته ونیول ، څو لږه ګرمه شي .

په یوه شېبه کې یې خپل ځان د یوې ګرمې بخارۍ تر څنګه ولیده ، چې د بخارۍ لاندینۍ پایې له برونزو جوړې وې .په بخارۍ کې اور لمبې کولې ، د لمبو شنې څوکې یې لکه د پسرلې ښایسته مرغۍ هوا ته الوتلې ، ډېر ګرم او په زړه پورې اور .انجلۍ غوښتل چې پښې اوږدې کړې څو یې پښې لږ څه ګرمې شي په همدې شېبه کې د اورلګیت لمبه مړه شوه . کله چې د اورلګیت پر سر لګېدلې اور مړ شو ، بخارۍ هم ورکه شوه. کوچنۍ انجلۍ لږه ببرته په هوش راغله . اوس نو یوازې هغه وه او په لاس کې یې سوځېدلې اورلګیت ،په ریښتیا سره چې دا څومره په زړه پورې خیال وو .

بل اورلګیت یې را واخیست بل یې کړ . کله چې د اورلګیت رڼا پر دېوال ولګیده ، دېوال لکه یوه نازکه او شفافه پرده د انجلۍ سترګو ته بریښنا وکړه .کوچنۍ انجلۍ یو لوی تالار ولید چې میز یې په منځ کې ایښودل شوی ، لوی او سپین دسترخوان د میز پر سر خور دی ، د دسترخوان پر سر ښایسته چینې لوښې قطار ایښودل شوي ، د سور کړې چرګ په سینه کې چې جوش شوې مڼې او آلوګان سر پر سر ایښودل شوی وو یو خوندور خوند یې احساس کړ ، ناڅاپه وریت شوی چرګ د میز له سره ټوپ کړ ، د چرګ سینه څیرې وه چاړه چې یې په سینه کې خښه وه ، چرګ څوړند ، څوړند ګامونه یې واخیستل او په سالون کې روان شو .وریت شوي چرګ کوچنۍ انجلۍ ته ځان ورساوه ، انجلۍ په خوشالۍ سره لاس اوږد کړ، چې را پورته یې کړي ، یو دم بیا د اورلګیت رڼا ورکه شوه ، کوچنۍ انجلۍ یوازې یو زوړ ، کنډواله او خیرن دېوال ولید نور هیڅ نه وو .

بیا یې اورلګیت ولګاوه ، دا ځل یې په خیال کې ولیدل ،چې د کرسمیس د یوې غټې ونې لاندې ناسته ده ، د کرسمیس دا ونه دومره ښایسته ده ، چې کله تېر کال هغې د یو مال دار پّه کور کې په رڼا ګانو پوښل شوې د کرسمیس ونه لیدلې وه ، تر هغې هم ډېر ښایسته ده . زرګونه شمعې یې په ښاخونو کې سوځېدلې ،چې ټول ځایونه یې روښانه کړې وو .زرګونه د رڼاګانو تنابونه هماغه چې د ښکلو دکانونو پّه دروازو کې به بل وو، پر ونه را ځړېدلې وو .بې کسه کوچنۍ انجلۍ خپل نري لاسونه د ونې خواته ونیول ، د اورلګیت رڼا مړه شوه د شمعې رڼاوې پورته لاړې ، دومره دا رڼا ګانې پورته لاړې چې ان اسمان ته ورسېدې،کوچنۍ انجلۍ ولیدل چې په هغو رڼا ګانو سره د اسمان ټول ستوري ښایسته وځلیدل .ناڅاپه یو ستوری لاندې را ولوېد، د را لوېدو پر مهال یې شنه کرښه په اسمان کې لکه یو اوږده لیکه پاتې شوه کوچنۍ انجلۍ له ځانه سره فکر وکړ، شاه یې په یخ او زاړه دېوال ولګوله او په همدې شېبه کې یې آه له خولې ووته، بیا یې ورو له ځان سره وویل ، خدایه لکه چې کوم بل څوک هم مړ شو ، دا خبره یې انۍ یانې هغه څوک چې له کوچنۍ انجلۍ سره یې ډېره مینه کوله ، کله چې هغه وخت ژوندۍ وه دا خبره یې ورته کړې وه ،چې کله یو ستوری له اسمانه راغورځیږي نو یو څوک خدای ته ورځي.

کوچنۍ انجلۍ په هغه لاسونو چې د سړې هوا په وجه بې حسه شوې وو یو بل اورلګیت په دېوال را کش کړ ، بیا ځلې ټول ځایونه روښانه شول ، کوچنۍ انجلۍ خپله نیا ولیده . نیا یې لکه لمر ځلېده په خندانه څېره په اسمان کې ولاړه وه او کوچنۍ انجلۍ ته یې کتل، انجلۍ چیغه کړې : نیا جانې ! ما هم له ځان سره بوځه! پوهیږم چې د اورلګیت د دې رڼا په مړه کېدو سره ته هم لکه ، ګرمه بخارۍ ،د کرسمیس ونه او وریت شوی چرګ له ما څخه ورکه کیږي او ما یوازې پریږدي .

نیا یې په داسې حال کې چې له ځان سره یې خندل ، آرامه ،آرامه له انجلۍ څخه لېرې کېده. کوچنۍ انجلۍ چیغې وهلې : نیا جانې ، مه ځه ... مه ځه ... !په عجله یې ټول اورلګیت چې په قوطي کې پاتې وو را وویستل او بل یې کړل . په دې ډول یې غوښتل چې خپله نیا بیا ځلې ووینې ، خو اورلګیت داسې تیاره رڼا کوله چې په ټول عمر یې د اورلګیت داسې تیاره رڼا نه وه لیدلې، ټَول ځایونه لکه سپینه ورځ روښانه او راڼه ښکاره شول د اورلګیت رڼا په هغه سپینه رڼا کې هیڅ نه ښکاریده .هغې خپله نیا تر دې وړاندې هیڅکله داسې آرامه اوښکلې نه وه لیدلې .نیا یې کوچنۍ انجلۍ په غیږ کې کلکه ونیوله ، دواړه هوا ته پورته شوې ، ډېرې لوړ ې لاړې ، پورته اسمانونو ته وختل، داسې ځای ته ورسېدل،چې هلته نه نوره سړه هوا وه ، نه لوږه او تنده ، نه وهل ټکول او نه لالهاندې او بې وزلې ... اوس هغوی دواړه خپل څښتن (خدای) ته رسېدلې وو .

بله ورځ په سهارنۍ سړه هوا کې ، فقیره کوچنۍ انجلۍ چې نرۍ موسکا یې پر شونډو خوره وه ، د ښار د یوې کوڅې په څنډه کې یې دېوال ته شاه لګولې وه ، د تېر کال په وروستۍ شپه سړې هوا ترې ساه اخیستې وه !

د روښانه لمر وړانګې د نوي کال په لومړۍ ورځ د کوچنۍ انجلۍ پر جسد خورې وې ، هغه جسد چې سوړ او بې حرکته وو، څو سوځېدلې اورلګیته یې شاوخوا پراته وو . لارویان چې په بېړه د هغې د جسد له

ځنګه تېرېدل د کوچنۍ انجلۍ جسد ته به یې سر وخوځاوه او وبه یې ویل : بیچاره انجلۍ ! غوښتل یې ځان ګرم کړي.

مګر هیچا فکر نه کاوه چې هغې د اورلګیت رڼا ته څومره ښکلې صحنې لیدلې وې او په څومره دبدبه یې له خپلې نیا سره یوځای نوې کال ته ښه راغلاست ووایه .

## رضایت پاڼه

***زه محمد حسین د حسن خان زوی له خپل زوی جمیل خان څخه په ټولو کارونو کې رضایت لرم .***

ټول زده کوونکی مجبور وو ،چې هره شنبې ورځ ، کله چې به په ولاړو کتارونو کې د هغوی ویښتان ، نوکان او د جامو د نظافت کتنه او څارنه کېدله ، رضایت پاڼه یې هم باید د ښوونځي مدیر صایب ته په همدې الفاظو  سپارلې وای .

د رضایت پاڼې له ورکولو وروسته به د هر زده کوونکی حواس راټول شول او په آرامو عصابو به خپل ټولګي ته تلل .خو هغه زده کوونکو چې هغوی به  د کورنۍ لخوا رضایت پاڼه نه درلوده ، حالت به یې خراب شو د لرګي او کوتک په مټ به بیا ترې پوښتنه کېدله .

په همدې سبب د جمعې ورځ له سهاره تر ماخوستنه به ټول هلکان او انجونې ډېر معقول او کارکوونکي انسانان شول ، ټولو به د مور او پلار خبرې په ډېره مینه اورېدلې چې انسان يې احساس هم نشو کولی . په دې ښوونځې کې څو د ګوتو په شمار انجونې هم وې ، چې د جمعې په ورځو کې به يې د خپلې مور ټولې خبرې د زړه په غوږو اورېدې چې میندې به يې هم ورته په حيرت وې .انجونو به له ځان تيرونې او تنبلۍ څخه د جمعو په ورځو کې لاس اخيست. باغ ته به تللې د غرونو لمنو ته به تللې او تر هر وخته به يې غټ د لرګو او ځځولو پنډ پر سر وو او کور ته به راتللې .له خپلو میندو سره به يې په تناره کې ډوډۍ پخوله ، غواوې به يې لوشلې ، د کور د دروازې مخه به يې پاکوله او د ګرد د مخنيوې په خاطر به يې اوبه هم پر خاورو شيندلې .لوښې به يې مينځل د خپلو پلرونو شلېدلې جامې به يې پيوندولې ، په ډېره خوږه ژبه به يې له خپلې مور سره خبرې کولې ،چې مور جانې ، مور جانې ! تر هغې چې رضايت پاڼه به يې تر لاسه کړه . هلکان هم همداسې سم سړي به ترې جوړ شول کله چې به د جمعې ورځ را ورسېده په ډېرې چالاکۍ سره به يې کارونه کول ، غوايانو او مالونو ته به يې واښه او اوبه په خپل وخت رسول ، د منې د موسم رژېدلې پاڼې به يې د ونو تر لاندې راټولولې . د پلار سره به په وخت ځمکو او پټو ته تلل .او هی لګیا به وو سل رنګه غوړه مالۍ به يې خپلو پلرونو ته کولې ، پلار جانه! پلار جانه ! په ويلو به يې خپلو پلرونو ته په خوږه ژبه غږ کاوه ، ان کله کله به د ټولوهلکانو پلرونه حيران پاتې وو ، چې دوی ولې په يوه ورځ ټول ښه او کاري هلکان شي ، خو هلکانو به په دې ډول د پلرونو زړونو نرمول او رضايت پاڼه به يې تر لاسه کړه ، کله چې به هلکانو او انجونو د میندو اوپلارونو څخه رضايت پاڼه تر لاسه کړه او هغه به يې د کتاب په منځ کې کېښوده ، بيا به په يوه شېبه کې هر څه بدل شول ، بېرته به هماغه خرک وو او هماغه درک . د میندو او پلارونو خبره به نه اورېدل کېده ، تنبلۍ او بې ځايه غوښتنې به زياتې شوې ، يانې هر څه به بدل شول .

پلرو اومیندو ته هم يوه ښه موقع په لاس ورغلې وه ، د اونۍ له سره به يې اولادونه چوپ ګرځېدل ، هر څه به يې منل که به هر چا سرغړونه کوله نو د رضايت پاڼې په نه ورکولو به يې تهدېدول ، د رضايت پاڼې په

ښودولو به یې هغوی ته ویل،چې بیا به شنبې شي او دې ته به ضرورت پیدا کړي ، هلکان او انجونې به غلې شول ، بله لاره یې نه درلوده بې له دې چې د مور او پلار خبرې ومني .

یوه ورځ هلکان ټول سره راغونډ شول ، او یوځای د ښوونځي د مدیر صایب دفتر ته ولاړل . مدیر ته په خبرو شروع شول ،چې مدیر صایب ته ښه پوهیږي چې د ډېریو پلرونه اومیندې بې سواده دي ، هغوی نشي کولی چې څه ولیکي او یا یې امضا کړي . هغوی مجبور دي چې د بر کلي میرزا رسول ته ولاړ شي او یا خپل کوم دوست او ملګري ته زارۍ وکړي،یا دا چې روپۍ ورکړي څو هغوی ته رضایت پاڼه ولیکي .

هلکانو ریښتیا ویل په ټول کلي کې دوه کسه باسواده وو، چې یو څه یې لیکلی او لوستلی شول ، د زده کوونکو پلرونه به هغوی ته تلل سل رنګه زارۍ او دپیسو ستونه به یې کول څو د زده کوونکو پلرونو ته یو څو کرښې رضایت پاڼه ولیکي .

د زده کوونکو په دې خبرو د ښوونځي د مدیر زړه وسو او ویې ویل : خپل پلرونه او میندې په شنبې ورځ ښوونځي ته راولئ چې په خپله ژبه هغوی ووایي ، چې موږ له خپلو اولادونو څخه رضایت لرو.

د شنبې ورځې په سهار به زده کوونکو خپلې میندې او پلرونه په زاریو ، سل رنګه غوړه مالۍ او ژړا په سوکه سوکه د ښوونځي په لور را وخوځول ، د زده کوونکو میندې او پلرونه به د ښوونځي د کلا دېوال ته په یوه لیکه کې لکه د فاتحې صف ځوړند سرونه ولاړ وو ، څو یو ، یو د ښوونځي مدیر ته نژدې ولاړ شي او ووایي چې زما زوی یا لور لکه ګل پاک دی او هر خبره مو مني ،همیشه زموږ احترام کوي ، ټول خپلو کارونو ته پام کوي ، د چا کور او دېوال په تیرو نه ولي ، حیوانات په لرګیو او ډبرو نه وهي، خو خلاصه چې هر یوه به د خپلو اولادونو ډېر تعریفونه مدیر ته وکړل ، بیا به زده کوونکی معاف شو.

په دې کار سره به ټولې کورنۍ زیاتې په تکلیف وې ، د شنبې ورځ سهار به د ښوونځي مخ ته د کورنیو کتارونه ولاړ وو تر ماسپیښینه به دا لړۍ روانه وه ، ټول خلک به له کار او روزګاره پاتې وو او بیا به هر یو مدیر صایب ته ویل چې دا څه حال دی .چې تا په لاره اچولی ، مونږ خپل کار او روزګار لرو ، ژوند لرو ،

حیوانات مو له لوږې او تندې مري ، ځمکه مو وچه پاتې ده ، یانې د دې څه ضرورت دی چې مونږ له هغو لیرو ځایونو نه دلته راشو ، تر غرمې په یوه پښه ودرېږو ځو تاسو ته ووایو چې زمونږ بچیانو څه کړي او څه یې ندې کړي !

که چیرې زمونږ زامنو او لورګانو په کور کې زمونږ خبره ونه منله موږ یې خپله سموو ، چې تاسو هم راسره په زحمت نشئ .

د ښوونځې مدیر په دې خبرو غوصه شو اوویې ویل : کومه ستونزه نده ، خپله پوهیږی او کارمو ،هیڅ ښوونځي ته مه راځئ ، هیڅ رضایت پاڼه هم له دې وروسته ضرور نده .ټول زده کوونکي له خوشالی پورته پورته وارېدل ، عجیب او غریب غږونه یې له خولې وتل ،هر یوه به ویل د رضایت پاڼې له شره خدای خلاص کړو ،ټول په مستۍ سر شول ، اور یې بل کړ ، غوایان ، خره او نور حیوانات خو هیڅ ترې په آرامه نه وو ، د کلي ټولې ونې یې په تیږو وویشتلې ، یوه مرغۍ یې هم په ونه کې پرې نښوده چې کینې ، له مور او پلار سره کار کول خو پرځای پریږده ، چې آن کور ته به نه راتلل . کور ته به هله راتلل چې وږي به شول او خیټې به یې ځوړندې شوې ، کوټې بر سر کې به کېناستل هره مړۍ به اخیسته لکه د پیشو سر ، د ورځې دوه درې جوړه جامې به یې په مستیو او لوبو کې شکولې ، کله کله به په ډېر جنګي کې سرونه هم مات شول .د مور او پلار قهر او غوصې ، لرګې او کوتک هم نور کار نکاوه ، هیڅ به یې په مور او پلار خیال هم نه راته، ټول په خپله دنیا کې غرق وو .

انجونو هم په کورنو کې د مور خبره نه منله ، که به یې مور یوه خبره وکړه ، هغوی به ورته درې خبرې کولې ،هیڅ یوې یې د مور خبرو ته سر نه ټیټاوه .د کلي په منځ به یوځای سره راټولې شوې ، په خپلو کې به لګیا وې او هرهر ټولو به خندل . مور او پلار چې به کومه ښکته پورته خبره ورته وکړه بیا به یې شونډې ځوړندې وې او هیڅ خبرې به یې نه کولې .

کله چې په کلي کې وضیعت دې حالت ته را ورسید ، یوه ورځ په کلي کې ټول نارینه او ښځې راټولې شوې چې له خیره سبا ټول ورځو ښوونځي ته د ښوونځي مدیر صایب سره به خبرې وکړو ، عذر به یې وکړو که کومه چاره وسنجوي ،څو د ماشومانو د شیطانۍ او بې ځایه کارونو له شره خلاص شو .

دوی ټولو یو کس د نماینده په توګه وټاکه چې په ښوونځي کې به له مدیر صایب سره خبرې کوي ، یوځای ټول وخوځېدل : مدیر یې هر کلی وکړ ، دننه په ښوونځي کې له مدیر سره جرګه شول ،مدیر صایب : مونږ بیا دلته راغلي یو ، خپل عذر تا ته وړاندې کوو ، زمونږ زور خو ونه رسېده ، زمونږ د ټولو رایه داده چې هماغه رضایت پاڼه ډېره ښه وه ،هغه بیا په ټولو زده کوونکو باندې وضعه کړه .

مدیر پرېکړه داسې وکړه ، هغه هلکان چې سواد لري ، خپل ځان او نورو کوچنیو ماشومانو ته چې په اول او دویم ټولګې کې دي باید هره اونۍ رضایت پاڼه ولیکي ، میندې او پلرونه به هم تر لاندې امضا کوي او هغه چې امضا نشي کولی ، هغوی به ګوته لګوي .

د زده کوونکو کار بیا خراب شو . د رضایت پاڼې لاندې د امضا اخیستلو او ګوتې لګولو لپاره بیا مجبور شول چې مور او پلار ته اړ شي او زارۍ وکړي ، هغوی ټول مجبور شول چې له مستۍ او بې ځایه کارونو نه لاس واخلي ، د مور او پلار یوه یوه خبره باید پرځای کړي ، همدا وو چې باسواده هلکانو به خپلو دوستانو او ملګرو ته غوړه او ډېره نرمه رضایت پاڼه ولیکله ، د رضایت پاڼې په پای کې به یې ګوته ولګوله او پاڼه به یې د ښوونځي مدیر صایب ته وسپارله .د ښوونځي مدیر چې هم ډېر ځیرک او هوښیار سړی وو ، کله چې به یې د ګوتې چاپ ولیده چې نرۍ او نازک دی ، پوه به شو چې دا ننبه یې د هغه پلار او مور چې ټوله ورځ په ځمکه کې لګیا وي کار کوي او زحمت باسي ، د هغه پلار او مور لاس دومره ښوی او نازک نه وي . کله چې به مدیر په دې ډول مشکوک زده کوونکي تشخیص کړل هغه به یې اداري ته راوغوښتل ، ګوته به یې ور ته ښه په دقت له نظره تېره کړه ، بیا به یې یوه ښه نرۍ او تازه لښته را واخیسته او په هماغه

لاس یا ګوته به یې تر هغې وواهه ،چې دورغجن زده کوونکی به توبې وویستلې آو په آخر کې به یې ور ته وویل ، چې سبا ته دې مور او پلار ښوونځي ته راوله .

ټول زده کوونکي داسې نه وو ، یو شمېرو یې کار سم وو . دا شمېر یې ډېر زرنګ ، هوښیار او باادبه وو ، هغوی به داسې رضایت پاڼه له مور او پلاره راوړله که به دې پر تیړه کېښوده ، تیره ور لاندې اوبه کېدله .مګر په دې منځ کې وو داسې زده کوونکي چې هغوی به ډېره شیطاني کوله ، ددې پر ځای چې د مور او پلار رضایت تر لاسه کړي او په لاره برابر شی نور خطرناک کارونه به یی هم کول . مثلآ د پښې پر غټه ګوته به یې خاوره یا د حیواناتو سره وسولوله، ښه به یې ګوته زیږه شوه او بیا به یې په ډېر مهارت د رضایت پاڼې په آخر کې ولګوله .هغوی په دې ډول د ښوونځي د مدیر له نظره تېرېدل ، د مدیر هم نور حواس ټول وو ، چې هر څه سم دي. خو یوه ورځ مدیر له دې رازه هم خبر شو ، کوم هوښیار زده کوونکي دا خبر ور ته ورساوه .

له دې وروسته چې به کله د شنبې ورځ شوه ټول زده کوونکي مجبور وو ، چې د پښې غټه ګوته مدیر ته وښیي چې کوم کار یې ندی کړی .آن هغه زده کوونکو چې بهانه به یې کوله چې د پښې غټه ګوته یې زخمې ده ، یا به په ریښتیا هم زخمې وه ،خو مجبور وو ، چې پر زخم پیچل شوی ټوکر خلاص کړي او مدیر ته خپله ګوته وښیي .خو هر کار چې زده کوونکو وکړ ،چې خپله ګوته ولګوي ونشو ه، مدیر به پرې پوهېده . ټولو هلکانو به د اونۍ له پیله د پلار د لاس غټې ګوتې ته په حسرت کتل ، په حیران نظر به یې په زړه کې وویل ، کاش چې هغه د پلار غټه ګوته زما وی ، هره اونۍ به مې د رضایت پاڼې په آخر کې هم د ځآن لپاره او هم د ملګري لپاره پّه بیغمه زړه لګوله او په ښوونځي کې به له دومره لوی شرمه خلاص وم .

میندې او پلرونه هم له دې وروسته چې پوه شول د هغوی غټه ګوته څومره ارزښت لري ، ډېر به یې ور ته پآم کاوه او له غټې ګوتې به یې په کلکه ساتنه کوله .شپې ، شپې به میندو او پلرونو آرامه خوب نه کاوه ، کله چې به د خوب څپه پرې راغله ، نو لاس به یې تر بالښت لاندې تېر کړ ، هسې نه چې دوی ویده وي او زوی

یا لور یې راشي او د رضایت پاڼې په پای کې یې ګوته ولګوي .هغوی په ریښتیا وېرېدلي وو ، ځکه یوه ورځ یو هلک چې موسی نومېده ، نیمه شپه پاڅېدلی وو ، د پلار سرته ناست وو، د هغه لاس یې په رنګ کې ښکته کړی وو آو د رضایت پاڼې په پای کې یې په بیغمه زړه د پلار ګوته لګولې وه .سهار چې د موسی پلار کله راویښ شو ، ګوري چې ګوته یې رنګ ده ،هماغسې تللی وو د ښوونځي مدیر ته او موسی یې په ټول ښوونځي کې شرمولی وو .په همدې خاطر له هغې ورځې وروسته میندو اوپلرونو خپلو غټو ګوتو ته ډېر پام وو او له هغې به یې په کلکه ساتنه کوله.

ورځ په ورځ د مور او پلار د غټې ګوتي ارزښت مخ په بره روان وو . د ښوونځي مدیر هم دا موضوع ډېره کلکه نیولې وه ، چې د رضایت پاڼې په آخر کې باید ګوته سمه او بې عیبه لګول شوی وي .شیطان او تنبل هلکان چې پوه شول ، چې هغوی باید دوه کاره زغملي وای ، یا یې باید د مور او پلار خبره منلي وای او یایې باید د مدیر وچ او کلک کوتک ته ځان سپارلی وای ، چې په دې دواړو کې یو یې هم د دوی له مزاج سره برابر کار نه وو .لاړل درې بوټه سکینې ترور خواته ، څو یې له غټې ګوتې نه درضایت پاڼې په خاطر کار واخلي . سکینه ترور یو زړه ښځه وه چې په کلي کې یې یوازې ژوند کاوه او سترګو یې هم سم کار نکاوه .هغې عادت درلوده چې تل به یې یو بوټ په لاس کې نیولی وو ،او دوه بوټان به یې په پښو وو ، په دې ډول په ټول کلي کې ګرځېده را ګرځېده ، هر کله چې به د ګرځېدو پر مهال د سکینې ترور یو بوټ په اوبو کې ، یا په وښو او سیند کې وغورځېد بیایې سر پسې نه خوړاوه ، دریم بوټ چې هغه به یې تیار په لاس کې وو ،پښې ته واچوه ، کړ پ ،کړ پ له خپلې امسا سره به روانه شوه .د دې یې هم پروا نکوله چې څه رنګ بوټ یې په پښه ده ، همیشه به یې بوټان دوه رنګه او بدل وو ، دا چې تل به ورسره درې بوټان د ګرځېدو پر مهال وو ، په ټول کلي کې په درې بوټه سکینه ترور مشهوره وه .د درې بوټه سکینې ترور د لاس غټه ګوته د رضایت پاڼې لپاره یوه ډېره ښه ټاکنه وه ، هیچا ګومان هم نه کاوه چې درې بوټه سکینه ترور د رضایت پاڼو په پای کې ګوته لګوي .

سکینه ترور په اول کې نه پوهېده چې د ګوتې په لګولو سره څومره غټ کار د هلکانو لپاره تر سره کوي ، خو ورو ، ورو د خپلې ګوتې په قدر پوهه شوه ، بیا به یې مفته ګوته چا ته نه لګوله ، هر چا ته چې به یې په رضایت پاڼه کې ګوته ولګوله نو هرومرو به یې یو څه ترې اخیستل .د مستو کټوه ، وچ چای ، وچ انځر ، شرینې ، پتاسې ،خلاصه هر چا چې به هر څه ورکړل سکینې ترور اخیستل .خو د وخت په تېرېدو سره درې بوټه سکینه ترور هم ورو ، ورو زرنګه اوهوښیاره شوه ، له هر هلکه به یې پوښتل چې ولې یې پلار په رضایت پاڼه کې ګوته نه لګوي ، کله چې به هلک خپله کارنامه بیان کړه ، نو سکینې ترور به جرم ته په کتو قیمت ټاکه . جرم چې به غټ وو ، سکینې ترور به هم نازونه زیات کړل او د ګوتې لګولو لپاره به یې بیه لوړه کړه ، که کوم هلک به پیسې یا څه د ورکولو لپاره نه درلودل ، نو له پور ته چینې به یې غټ سطلونه پرې را ډک کړل د ضرورت وړ اوبه به یې پرې تر بسه پورې راوړي .کوټه به یې پرې جارو کړه ، لوښې به یې پرې ومینځل ،څو چې به د درې بوټه سکینې ترور زړه لږ نرم شو او په رضایت پاڼه کې به یې ګوته ولګوله .ډېرې اونۍ همداسې د درې بوټه سکینې ترور د ګوتې په لګولو سره رضایت پاڼې ښوونځې ته تللې او هیڅ چا بوی هم نه ووړ ، تر دې چې یوه ورځ د رضا مور ښوونځې ته راغله .

مدیر صایب ته نه پوهېږي چې څومره خراب کارونه شوي ، هیڅ هلک زمونږ میندو او پلرو خبرو ته غوږ نه باسې ، داسې کارونه کوي چې سړی پرې خجالت باسي ، یو چا ته ووایه . دا څو اونۍ کیږي چې پتاسې په شیرینې دانۍ کې کمیږي ، خو اوس پوه شوم چې رضا هغه پتاسې درې بوټه سکینې ترور ته وړي . مونږ خپله یوه پتاسه نلرو چې له چایو سره یې خولې ته کړو ، خو د میلمه برخه پتاسې ټولې رضا سکینې ترور ته سپارلې ، خدای پوهیږي چې سکینې کور به له پتاسو ډک وي ، تاسو ولې ترې پوښتنه نکوئ؟

مدیر په حیرانتیا سره کتل بیا یې وویل : ښه تاسو پتاسې ولې ټولې سکینې ترور ته ورکړي ؟

مدیر صایب د رضا خوله مې ولټوله ،آخر پدې پوه شوم چې ټولې پتاسې یې دسکینې ترور د ګوتې لګولو لپاره په رضایت پاڼه کې هغې ته ورکولې او بیا به یې هغه تقلبې رضایت پاڼه تاسو ته سپارله ، تاسو هم هیڅ پرې نه پوهیدئ.

مدیر یو هلک سکینې ترور پسې ولیږه ،چې هغه ښوونځي ته حاضره کړي . خو سکینه ترور ښوونځي ته رانغله ، د کلي یو بل مشر هغه په زوره ښوونځي ته راوسته .

له هغې ورځې وروسته چې به کله ټول هکلکان د شنبې په ورځ په کتار کې ودریدل دنظافت د لیدو پر مهال به یې خپله رضایت پاڼه مدیر ته ښووله ، نو درې بوټه سکینه ترور به هم د کتار په یوه څنډه کې ولاړه وه او خپله ګوته به یې مدیر صایب ته ښودله .

له دې وروسته ټولو هلکانو خپل کارونه په وخت کول ، د مور او پلار خبرې یې په دقت سره منلې ، پلار جانه ، پلار جانه ! ویل یې نور عادت ګرځیدلې وو .انجونې هم هوښیارې شوې وې ،په ورین تندي به یې هره شیبه ویل ، مورجانې ! مورجانې !ٌ

له دې وروسته بیا رضایت پاڼه په ډیر ښه خط لیکل کیده د ګوتې نښه به هم سمه او بې عیبه لګول کیده ، او ټول کلي په آرامه فضا کې ژوند کاوه .

## په ښار کې ډینګرۍ

کله چې باد له لیرې سیمو  د ښار په لوري را آلوزي ،ډېرې ښایسته ډالۍ له ځانه سره راوړي چې یوازې حساس انسانان یې درک کولی شي . لکه هغه کسان چې د زکام په ناروغۍ اخته وي کله چې د ښایسته عطرو او ګلانو بوی یې په پزه ولګي ، نو بیا یې پریشنۍ نه ټنیګیږي .

یوه ورځ چې په ښار کې باد له کومي نامالومي خوا را والوته ، د طبعیت له زړه یې داسې دانې او تخمونه له ځان سره راړول ،چې په ښار کې د یوې کوچنۍ باغچې په خاورین جدول کې ترې ډینګریو سر را پورته کړ ، هیڅوک بې له مارکو والدو ، چې هر ورځ سهار به په هماغه ځای کې اتوبوس ته ولاړ وو ، د ډېنګریو شنه کېدو ته پام نه وو .

دا مارکووالدو هم عجیب سړی وو، عجیب مزاج یې درلوده تا به ویل چې هیڅ دی خدای په ښار کې د اوسېدو او ژوند لپاره نه دی پیدا کړی ، په ښار کې هره خواته ، رنګه څراغونه ، اعلانونه ، په دوکانونو کې لګېدلې ښکلې ویترونونه چې په رنګه څراغونو ښایسته شوی وو ، لوحې ، نیون څراغونه او نور ، ټول خلکو او دولت په ښار کې د ښآر د ښایست او د خلکو د توجو د جلبولو لپآره ځړولي وو ، مګر د ښار دې ټولو ښایستونو یوه ورځ هم د مارکووالدو پام ځانته جلب نکړ ؛ خو یوه زیړه پاڼه چې به ونه کې له ځایه بې ځایه شوه ، په ونو کې د مرغانو ځاله او په طبیعت کې لږ بدلون هم د مارکووالدو له نظره پټ نه پاتې کېده . مچ چې  به پر آس کېناسته هم به د ده ورته پام وو ، د میږیانو په غار کې د خاورو اندازه ورته مالومه وه ، په لاره کې د انځر لوېدلې پاڼه یې له نظره پټه نه وه ، مارکووالدو به د طبعیت دې ډول بدلون ته حیران وو ، روح به یې ورسره خوشاله وو ،ټول دی وو او د چاپیریال طبیعت .

یوه ورځ سهار مارکووالدو اتوبوس ته په تمه وو ، چې دی د کار ساحې ته ورسوي ، د اتوبوس تر راسېدو پورې دی یو ځل بیا د طبیعت ملګري شو یوې نرۍ لارې ته یې په ځېر ځېر وکتل ، دا لاره لږه مخکې تللې وه، د ښآر ښاروالۍ لږ وړاندې د ښار د ښایست لپاره د ډول ډول ونو باغ جوړ کړی وو  ، تر لاندې د

خلکو دمه ځای هم وو ، خو د نرۍ لارې په وروستۍ برخه کې د يوې ونې لاندې په يوه خاورين سمنټي جدول کې يوې عجيبې صحنې د مارکو والدو نظر ځان ته جلب کړ .

د ونې په بيخ کې شاوخوا يو څو ځايه راوتلې برخې وي ، مارکووالدو ورته ځير شو ، تازه تازه په ځينو برخو کې يو څو نور بوټي له خاورو راوتي وو ، خولې يې وازې نيولې وي .

مارکو والدو په دې خاطر چې ښه ورته ځير شي د بوټ بند د تړلو په بهانه ورته ټيټ شو ، ويې خندل د بوټ بند يې بېرته کلک وتاړه له ځان سره يې وويل : دا خو ډينګرۍ دي . سر يې وخوځاوه څو کسان چې لږ ليري په لاره تېريدل هغوی ته يې بد بد وکتل بيا يې په زړه کې تېره کړه ، په موسکا يې وويل: اووو دا خو واقعي ډينګرۍ دي ، هغه ښاّر چې له دې وړاندې ورته ډېر خراب او غريب ښکارېده په يوه شېبه کې ورته د نړۍ د نعمتونو ډک ښار ښکاره شو په خپل ښار يې شکرونه وويستل . يوه شېبه غلی وو بيا يې وويل : ګوره ژوند خو يوازې قراردادي کار ، ورځنۍ مزد ، د هرې ورځې په تېرېدو سره د مصارفو لوړوالی نه دی ، بلکې تر اوسه هم بايد انسان خوشاليو ته هيله ولري ، ګوره دا ډينګرۍ زما لپاره پيدا شوې څومره د خوشالی خبره ده ، ای خدايه ته د نعمتونو بادار يې ، داسې يې ډير شکرونه وويستل .

د سرکار فکر ډېر پريشانه وو ، فکر يې کاوه چې دی هلته صندوقونه خالي کوي ، مګر دا مارکووالدو وو ،چې د هغه ډينګريو په ليدو يې ساه تازه کوله او هره شېبه يې له خوشالۍ په هوا کې پراوزونه کول . بيا به يې له ځان سره وويل : بس يوه شپه چې باران وورېږي بله ورځ ټولولو ته آماده دي . زړه يې له ډېرې خوشالۍ ټوپونه وهل څو دا د خوښۍ خبر ژر تر ژره خپلې ميرمنې او اولادونو ته ورسوي .

خو بلآخره يې د خوراکي توکو په مختصر دسترخوان کې کورنۍ ته مخ واړوه او ويې ويل : ښه غوږ شئ ! راتلونکي اونۍ کې به له خيره د ډينګريو يو خوندور کتغ پر تاسو خورم . له همدا اوسه زه تاسو ته وعده درکوم چې دا کار به کوم ، بيايې خپلو کوچنيو اولادونو ته وکتل ، هغوی چې لا تر اوسه يې د ډينګرۍ اصلاً نوم نه وو اورېدلی ،په ډېر آب و تاب سره يې د ډينګريو دپخولو طريقه هغوی ته بيان کړه او دا چې

هغه څومره خوندور خواږه دي هر څه يې ورته ښه په خوند تشريح کړل تر دې اندازې مارکووالدو د ډينګريو په ستاينه لګياوو چې نور يې د هغې دميرمنې ( دوميتلا) چې لا تر دې دمه يې د هغه خبرو ته پام نه وو ، هم پام را را واړوه .

بچيانو يې وپوښتل دا ډينګرۍ چېرته دي ؟ مونږ ته نه وايي چې هغه چېرته پيدا کيږي ؟ په دې پوښتنې سره د مارکووالدو د تندي خطونه سره لېرې او نژدې شول له ځان سره يې فکر وکړ ، که چېرې دوی ته د ډينګريو موقعيت وښيم ، هسې نه چې د کلي نور شوخ او بې سره ماشومان خبر کړي د ډينګريو موقعيت به افشا شی ، په دې توګه به ټول کلي خبر شي ، هغه زما د دسترخوان خواږه به د نورو شي !

له دې وروسته مارکووالدو د هغه ډينګريو اصلي مالک ځان ګاڼه د هغې په موندلو سره يې زړه په سينه کې ټوپونه وهل ، د کرکې او حسادت موج يې نور هم په زړه کې ځای ونيو ، خپلو بچيانو ته يې وويل : د ډينګريو ځای يوازې او يوازې ماته مالوم دی ، خو پام که په دې هکله مو يوه خبره هم چېرته له خولې ووته بيا زه پوه شه او تاسو .

بله ورځ سهار چې بيا دی اتوبوس ته په تمه وو ، مګر ډېر زړه نا زړه او پښيمانه وو ، کله چې د باغ کونج ته ورسيد ټيټ شو ، ډينګرۍ يې وليدې سر يې ډېر له خاورو پورته کړي وو ، مګر لا يې شکولو ته وخت وو ، ځکه هغه وړې وړې ډينګرې لا د خاورو لاندې وي ، بېرته نيغ ودريد ،آرامه ساه يې واخيسته .

خو بېرته ډينګريو ته ورټيټ شو کله چې بيا ځلې ورټيټ شو ، پام يې شو چې څوک يې شاته ولاړ دی ، يو دم نيغ ودريد کوښښ يې وکړ چې ځان بې خبره وښيي ، د ښاروالۍ جاروکښ چې هغه ته يې پآم وو په خپله جارو يې تکيه کړي وه او هغه ته يې کتل .

دا جاروکښ چې هغه ساحه يې د کار او جارو کولو محدوده وه ، يو په ونه لوړ او عينکي ځوان وو چې آماديجي نومېده ، د مارکووالدو له پخوا هم له هغه سره جوړه نه وه ، کيدای شې د هغه تورې عينکې يې نه خوښېدې ، چې د جارو کولو پر وخت به يې هر څه په لاره او سړک کې په دقت سره کتل او هيڅ شي

هم ترې په امن کې نه وو ، د جارو په يوې ضربې سره به يې هر څه د ځمکې په مخ له يوې مخې محوه کول.

يوه ورځ چې د شنبې ورځ وه او د مارکووالدو د رخصتۍ ورځ وه . هغه د ورځې تر نمياييي پورې په باغ کې تاو را تاو کېده په داسې حال کې چې پر ځان يې څوک نه پوهول ، جاروکښ او ډينګرۍ يې له لېرې څارلې له ځان سره يې حساب کاوه چې څو ورځې وروسته يې د شکولو وخت دی .د هماغې ورځې په شپه باران ووريد ، مارکووالدو له خوشالۍ په بستره کې ټوپونه وهل ، لکه هغه دهقان چې له کلونو وچ کالۍ وروسته د باران د لومړي څاڅکي په ليدو يې زړه په سينه کې ټوپونه وهي ، هغه شپه شايد مارکووالدو په ټول ښار کې لومړنۍ کس وو ،چې له خوبه پاڅېد او په خپل ځای کېناست . ښځه او ماشومان يې راويښ کړل په خندا يې ورته وويل : تاسو پوهيږئ چې باران ! باران وريږي . خاوره يې لمده کړي باران وچه خاوره له ځمکي ورټوله کړه .

بله ورځ چې د يکشنبې سهار وو ؛ مارکووالدو له ګاونډي څخه يوه ټوکري امانت واخيسته او له خپلو ماشومانو سره يوځای يې د باغ خاورين جدول خواته ورمنډه کړه .

ډينګريو په خپل ځاي کې له خاوري قدونه پورته نيولي وو ، د چتر ساحې يې لوړې ښکاريدې ، ټولو يوځای له خوشالۍ چيغې کړې او يو دم يې د ډينګريو په ټولو شروع وکړه .

ميکلينو وويل : بابا! هغه سړي ته وګوره څومره ډېرې ډينګرې يې ټولې کړې ، کله چې مارکووالدو سره پورته کړ ويې کتل چې اماديچي له ډکې ټکرۍ ډينګريو سره ولاړ دی .

جاروکښ اماديچې ورته وويل : آه تاسو هم ډينګرۍ ټولوۍ ! ښه نو خير دا خوراکي دي ها . ما خو يوڅه ټولې کړې مګر مطمين نه وم چې دا به خوراکي وي په هغه بله څنډه کې تر دې قوي ډينګرۍ دي ، ښه نو خير داسې چې ده ، اوس ورځم ټول خپل ،خپلوان او قوم مې راخبر وم چې راشي ، هغوی تر اوسه هم په

دې بحث کوي چې دا ډینګرۍ به خوراکې وي او که وحشي ؟ جاروکښ دا وویل او په یوه شېبه کې له سیمې ورک شو .

د مارکووالدو ژبه بنده بنده کېده ، په دې یې سوچ کاوه چې څنګه تر دې غټې ډینګرۍ دلته شنې شوې او د هغه ورته هیڅ پام نه دی شوی ، هغه حتا د دې تصور هم نکاوه چې یو بل څوک دې راشي او د هغه د سترګو پر وړاندې دې ټولې ډینګرۍ ټولې کړي ، یوه شېبه له ډېرې غوسې پر ځان را وګرځېد ، خو بېرته یې حواس په خپل ځای شول او د سخاوت حس یې په وجود کې را وپارېده ، مارکووالدو ، یودم تم ځای کې د خلکو ولاړې اوږدې لیکې ته وکتل چې د باراني هوا په وجه ټولو چترۍ سرونو ته نیولې وې؛ په لوړ غږ یې وویل : هې خلکو تاسو نه غواړئ چې نن شپه د ډینګریو له کتغه خونده واخلئ ؟ راشئ دلته وګورئ د باغ په دې څنډه کې څه راشنه شوي ! په دې وخت کې د امادیچي تر شا یوه لیکه خلک را ورسېدل او د ډینګریو په لوري روان شول .

ټولو ته ډینګرۍ ورسېدې چا چې ټوکرۍ نه درلودې په خلاصو چتریو کې یې ډینګري ټولې کړې ، په ډله خلکو کې یوه وویل : دا به څومره ښه وه چې ټول مونږ او تاسو سره یوځای را ټول شوي وای او یوځای مو یو ښه ماښامۍ له ډینګریو جوړ کړی وای ! مګر د هغه کس خبرو ته چا غوږ ونه نیوه هر چا خپلې ډینګرۍ ټولې کړي او کورونه ته وخوځېدل .

خو هغو ټولو خلکو ډېر ژر یانې په هماغه شپه یو بل سره ولیدل ، مګر دا لیدل یې د روغتون په عمومي خونه کې د معدو له مینځلو وروسته وو، سرته یې هغه ډاکټران لیکه ولاړ وو چې دوی یې له مسمومیت خلاص کړي وو ، یوه ډاکټر ووی: ډېر ښه کار خو دا وو چې ستاسو مسمومیت ډېر شدید نه وو ، ځکه کومې ډینګرۍ چې تاسو خوړلې وي اندازه یې کمه وه .

د مارکووالدو او امادیچي کټونه څنګ په څنګ وو ،له یو بل سره یې رډ رډ کاته ردو بدل کړل .

# د جګړې اسیر

لیکوال : اډوارډ فورسټر

د ۱۹۴۴ کال د مني په یوه میاشت کې چې کله د متفقینو لښکرو ، د ( کونتین تین پنین سولا ) کلکې مورچلې ماتې کړې او خپل سرتیرې یې فرانسې ته ورننه ایستل د خپل پلرنې ټاټوبې ( آلمان ) پر وړاندې یې منظمه پوځې جبهه را منځته کړه ، په همدې مهال جنرال فردیدریک فن دګستر د مسلح قواوو له اعلی سرقومندان څخه نوي اوامر تر لاسه کړل .

د مسلح قواوو د سر قومندان اعلی دغه فرمانونه د دوو موټرسایکل سپرو په واسطه د جنرال کورته په والفنس تراس کې را ورسېدل . د ساختمانونو له ویجاړو دېوالونو او کنډواله کورونو څخه چې تازه په هوایي حمله کې ویجاړ شوی وو ، لا د جګړې د روایت غږ پورته کېده ، په ټولو لارو او کوڅو کې ان مرغان هم په هوا کې نه ښکاره کېدل، پر کنډواله سړک د روانو موټر سایکلونو غږ په ډېر واضح ډول د ټولو ګاونډیانو تر غوږو رسېده . په کورونو کې میشتو کسانو له خپلو کړکیو سرونه بیرون را ایستي وو ، څو وګوري چې څه پېښه د واقع کېدو په حال کې ده . خلکو ولیدل چې جنرال فن دګستر د خپل کور دروازه خلاصه کړه ، او شخصآ یې هغه نظامي لیک تر لاسه کړ چې پوښ یې په دولتي مهر سره لاک شوی وو او د رسیداتو دفتر یې امضا یې کړ .

دوه موټر سایکل سپاره سرتیرې د لیک له ورکولو وروسته بېرته په خپلو موټر سایکلونو سپاره شول او په خپله لاره لاړل ، جنرال هم د کور دروازه وتړله او خپلې خونې ته ننوت .

دننه په خونه کې جنرال لیک پرانیست مګر دا چې لیک ډېر کوچنۍ او نامنظم ټایپ شوی وو ، جنرال ته یې لوستل ډېر ګران وو ، ځکه جنرال لا تر دې دمه خپلې عینکي نه وې په سترګو کړې . ( آلویس ) د جنرال میرمن بې حرکته په خپل ځای ناسته وه او خپل خاوند ته یې چې لیک یې په ډېر دقت لوسته کتل

. آلویس دا زده کړې وو ، چې د یو پوځي د میرمنې په توګه باید همیشه خپله وېره او هیجان پټ وساتي

.جنرال فن دګستر د لیک له لوستلو وروسته هغه لیک خپلې میرمنې ته ورکړ ، الویس هم لیک ولوست او بیا یې وویل :

د لیک موخه دا ده چې ؟

مګر مطلب ته یې دوام ورنکړ ، ساختماني کارګرو د هغوی په کور کې کار کاوه ، که څه هم دا وخت ټول کارګر ویده وو ، مګر مصلحت دا نه وو ، چې په هغه کور کې چې غریب خلک ژوند کوي د المان د اعلی سرقوماندان په فرمان باندې خبرې وشي . ځکه خو دواړو جنرال او میرمنې یې هڅه کوله چې په اشاره یو بل وپوهوي . هغوی له کلونو ګډ ژوند وروسته اوس په آسانۍ سره کولی شول یو بل ډېر ژر درک کړي .

جنرال فن دګستر په خونه کې ځوړند دېوالي ساعت ته وکتل ، یو دم یې په یاد شول چې دا هماغه ساعت دی ، چې ده ته د نظامي رتبې د لوړېدو په ویاړ ورکول شوی وو . بلآخره یې خپل تصمیم ونیو او خپلې میرمنې ته یې وویل : موږ لس دقیقې وخت لرو ، ښه به وي چې بیرون لږ قدم ووهو !

هغوی دواړو د ښار په ویجاړو لارو او سړکونو کې په قدم وهلو شروع وکړه ، هغوی د خلکو په ګڼه ګوڼه کې او د هغو سایکل سپرو په منځ کې چې په ویجاړو او شاړو سړکونو به څنګ په څنګ روان وو ، بې له دې چې له ځانه کوم هیجان ښکاره کړي په خپلو کې سره خبرې کولې . جنرال فن دګستر د آلماني پوځ سنتي جامې په تن وي ، ځکه کله چې هغه د مسلح قوتونو د سر قومندان اعلی په امر له قومندانۍ څخه لېرې شو، هغه ته د دې اجازه نه وه چې ورماخت یونیفورم واغوندي ، الویس هم د هغه تر څنګ روانه وه .

الویس یو پخوانۍ کوټ او اوږده لمنه اغوستې وه ، د دوی دواړو ظاهرې حالت دا ښودله چې دوی له پخواني او تاریخ تېره نسل سره تعلق لري . خو د جنرال فن دګستر له ظاهرې بڼې سړي نشوای کولی د هغه د عمر سنجش وکړي ، په همدې حال کې آلویس پوښتنه وکړه :

ګرانه د پوځ د لیک موخه څه وه ؟

جنرال ځواب ورکړ : له پیشوا څخه یو مستقیم امر دی ! زه د مونترویل د نظامي کربښي د قومندان په توګه ټاکل شوی یم !

ښه ګرانه ،دا سیمه په فرانسه کې ده ؟

جنرال پورته وکتل او بیایې وویل : د بلجیم په سرحدې سیمه کې .

دا څه ډول نظامي کربښه ده ؟

جنرال په ډېر دقت سره خپل شاوخوا وکتل او بیایې ځواب ورکړ :

زه خو په دې هم شک لرم چې هلته دې کومه نظامي کربښه موجوده وي ، زه مطمین یم چې هلته هیڅ ډول نظامي استحکامات شتون نه لري .

مګر ګرانه . . .

جنرال یو ځل بیا شاوخوا وکتل او په غلي غږ یې وویل :

پیشوا نوي تګلاره غوره کړې ، دا تګلاره تیر کال په روسیه کې تجربه شوه . هغه یوه سیمه د نظامي اساسي کربښې په توګه ټاکي او ټولو ته د هغې په هکله خبر ورکوي او بیا د هماغسې یوې کربښې لپاره یو قومندان او یو شمېر سرتیرې مقرروي .

میرمنې یې په بې صبرۍ ترې پوښتنه وکړه :

ښه ، بیا څه پېښیږي ؟

جنرال ځواب ورکړ :

ځکه چې هغه سیمه د پیشوا په اند یوه نظامي کربنه ګڼل کیږي ، باید تر وروستي سرتیري له هغې کربنې دفاع وشي ، شاته تګ هیڅ مانا نه لري .

آلویس په حیرت ورت وکتل او ویې ویل :

عجیبه ده ، زه خو اوس پوهه شوم !

جنرال ځواب ورکړ :

ګرانې تر هغې خو سخته لا دا ده چې پوه شي چې آیا دغه نظامي کربنه چې پیشوا ټاکلې ، په هغې کې په کافي اندازه نظامي استحکامات ، منظم سرتیري ، وسله ، مهمات ، خوراکي توکي او د دارو درملو شتون هم په شک کې وي . . .

او هر ډول اعتراض هم د دې تګلارې پر وړاندې خیانت ګڼل کیږي !

میرمنې یې وویل :

ناهیلې کوونکي خبره ده !

زما دنده . . .

جنرال خپلو خبرو ته ادامه ورکړه :

زما دنده یوازې له اوامرو څخه اطاعت دی ، او د هېواد لپاره جګړه ، مهمه نه ده چې څه واقع کیږي !

همداسې ده ګرانه !

مګر . . .

جنرال لږ غلی شو ، جنرال باید د یو پوځي کس په توګه له هر ځل (مګر) ویلو وروسته ی غلی پاتې شوی وای ، په ځانګړې توګه کله چې به یې د دندې په هکله خبرې کولي .

مګر څه ؟ ګرانه !

جنرال بیا په خپلو خبرو کې وړاندې لاړ :

مګر مطلب دلته نه خلاصیږي ، د یوې محاصرې پر مهال ...

جنرال فن دګستراو میرمنې یې څلویښت کاله کېدل چې سره ګډ ژوند یې کاوه ، د دې ګډ ژوند په بهیر کې دوی ډېر کله د نظامي مسایلو په اړه سره خبرې کړې وې ، مګر جنرال په دې باور وو ، چې ښځه باید یوائې د یو شمېر مسایلو لکه کلیسا ، د اولادونو روزنه ، او اشپزې سره مینه ولري او بس . خو دا ډېره ستونزمنه وه ، چې په څو محدودو کلیمو کې د یوې بشپړې نظامي محاصرې ټول وضعیت خپلې میرمنې ته بیان کړي، بیا په ځانګړې توګه هغه ډول چې خپله جنرال یوه نظامي محاصره په خپل ذهن کې ترسیموله .

میرمنې یې وویل : په یوه محاصره کې ګرانه ؟

جنرال په خپلو خبرو کې مخ ته لاړ .

په جګړه کې داسې وخت هم راځي چې مقاومت او دفاع بې ګټې وي . کله چې د جبهې لومړۍ کرښه وپاشل شي او دښمن لوړې نقطې ونیسي ، کله چې د دښمن توپخانه پر مدافع سرتیرو مسلطه شي ، هغه وخت ارتباطي کرښې پرې کیږي او په دې مهال ، باید وحشتناکه تلفات د یو جنرال لښکر تحمل کړي .

جنرال هڅه کوله چې په ساده کلیمو حرفوي نظامي مسایل خپلې میرمنې ته تشریح کړي . جنرال د جګړې د زده کړې په پوهنتون کې ډېرو ځوانو سرتیرو ته دا ډول تاکتیکونه تدریس کړي وو . جنرال په همدې شېبه کې مجبور شو چې خپلې خبرې قطع کړي ځکه دوی اوس یو داسې محل ته رسیدلي وو ،

چې یوه لیکه خلک د سودا اخیستلو لپاره د دوکان مخې ته ولاړ وو . جنرال غلی شو خبرې یې بندې کړي څو د ډله خلکو له منځه تېر شي ، میرمنې یې بیا وپوښتل :

تا د محاصرې په هکله خبرې کولې ګرانه !

هو ! کله چې د دښمن سرتیرې پر مدافعینو بشپړ مسلط شي ، او هغوی په دقیق ډول د دښمن په تیر رس کې واقع شي ، بیا نو هیڅ څه د مدافعینو لاسته نه راځي . هغوی په بشپړ ډول تر محاصرې لاندې راځي او د دښمن درنه توپخانه د هرډول اقدام فرصت له مدافعینو سلبوي . نو که چېرې دا وضع همداسې ادامه پیدا کړي ، بیا نو دا یو شرافتمندانه جګړه نه ده ، بلکې قتل عام دی . سرتیرې وژل کیږي ، بې له دې چې د شاتګ لپاره کوم فرصت تر لاسه کړي .

آلویس په حیرانیتا وویل :

د دې علت درک کول واقعاَ یو سخت کار دی !

جنرال کوښښ کاوه چې په بشپړ حرفوي لحن سره خبرې وکړي ، د هغه له نظره کله چې د جګړې او وژنې خبرې کیږي ، نظامي استحکامات ، اوامر او جګړییز تاکتیکونه بیا مهم نه دي ،هغه څه چې د هغه د میرمنې په شان یوې ښځې ته ضرور دي او هغوی ترې رنځ وړي ، وژل شوي نارینه ، بې پلاره ماشومان او کونډې ښځې وي . هغه په دې پوهېده چې د یو نظامي جنرال میرمن باید د نظامي تخصصي مسایلو په اړه داسې فکر ونکړي ، مګر جنرال چې کله په جګړه کې د خپلو زامنو د مرګ خبر اورېدلی وو ، دا ډول احساس یې درلود !

جنرال فن دګستربیا خپلو خبرو ته ادامه ورکړه :

هر څه ممکن دي ، ځینې وخت سرتیرې دنده لري چې نظامي استحکامات تر وروستي سرتیرې په خپله ولکه کې وساتي ، څو ساعته ډېر مقاومت ممکن ډېر ګټور ثابت شي . ځینې وخت ځان قرباني کول او له سره تېرېدل د دې ارزښت لري .

آلویس په شک او تردید سره وویل :

فکر کوم چې همداسې به وي !

جنرال فن دګسترد خپلې میرمنې شکمن احساس ته پام شو او ویې ویل :

دا ډول شرایط ډېر کم ، نادر ، او غیر معمولي تر هغې دي چې څوک یې په آسانه درک کړای شي .

آلویس په زړه کې په دې باورې وه ، چې هیڅکله او هیڅ موقعیت د دې ارزښت نلري چې هلته دې زرګونه انسانان قرباني شي ،مګر هیڅ یې ونه ویل او د خپل خاوند د پاتې خبرو په تمه شوه ، جنرال وویل :

فرض کړه زه شل زره سرتیرې لرم ، او د دښمن د څلویښت زره پوځ پر وړاندې دوه یا درې هفتې بریا خپله کړم ، او مقاومت له ځانه وښیم . دښمن په دې مهال زمونږ د قوت ساحې په نښه کوي او پر هماغو نقطو برید کوي ، که چېرې د دښمن د برید شدت ډېر ځواکمن وي او په کافي اندازه قوي او موثّر واقع شي . زه به د هغوی پر نظامي ستنو مرګونې ګوذارونه وکړم ،مګر که چېرې هغوی وکړای شي چې زمونږ له مستحکمو نقاطو څخه تېر شي او پوځي کرښه سره وپاشي هغه وخت بیا مونږ جګړه بایللي ، او په قوي احتمال چې پنځه زره پوځ به مو قرباني شوي وي .

آلویس د جنرال سترګو ته وکتل ، هڅه یې وکړه چې د پنځه زره پوځ مړه جسدونه سترګو ته ودروي ، خو جنرال بیا په خبرو کې مخ ته ولاړ :

مګر دا هم ومنه چې دښمن به په دغسې یوه جګړه کې لس تر دولس زره پورې لښکر له لاسه ورکړي وي . دا خبر ظاهرآ ښه خبر دی ، خو مونږ په داسې وضعیت کې یو چې خپل دفاعي ځواک به مو له لاسه

ورکړی وي . توپخانه بیا نور کار نه ورکوي او خپلې ټولې ثقیله سلاوې به مو هم له لاسه ورکړي وي، په دې توګه به محاصره د دښمن له خوا بشپړه شي . که چېرې دښمن د هر اړخیز یرغل پلان ولري ،او زه له پنځلس زره پوځ سره په جګړه کې له منځه لاړ شم .مګر په مقابل لورې کې به دښمن یواځې زر تنه سرتیري له لاسه ورکړې وي او کیدای شي تر دې هم لږ !

آلویس په خورا حیرانتیا سره ځواب ورکړ :

پوهه شوم !

جنرال خپل ساعت ته وکتل او ویې ویل :

بخښنه غواړم ګرانې ، باید بېرته وګرځو.

آلویس په تیزو سترګو خپل خاوند ته وکتل . په دې شېبه کې د جنرال فن دګسترغږ ولړزېد. سره له دې چې جنرال ظاهراً ځان آرام ښوده ، مګر په زړه کې یې ډېر ژور احساسات په خوځښت وو . جنرال عادت شوی وو، چې ټول مسایل په ظاهراً آرامه بڼه وزغمي ، په وروستی جمله کې یې خپلې میرمنې ته وویل :

یو یا دوه نظامي ستنې د سرتیرو مهمې نه دي ، مونږ باید د آلمان د ټول پوځ په فکر کې یو او همدارنګه باید د آلمان راتلونکي ته فکر وکړو ! سرتیرې همیشه د تکړه افسرانو تر قومندې لاندې ښه جګړه کوي ، او په دې وخت کې یو قومندان کولی شي له سرتیرو څخه د ډېرو فداکاریو توقع ولري .

جنرال یوه شېبه غلی شو ، شنې او مړاوې سترګې یې تیرو وحشتناکو خاطرو ته وګرځېدې . مګر سرتیرې نشي کولی دا هر څه وزغمي چې خپل ځانونه بې له کومې موخې او مقدس هدفه قرباني کړي . په دې صورت کې سرتېرې له امر څخه سرغړونه کوي ، ځکه هیڅوک نه غواړي چې خپل ځان بې له کومې موخې په خطر کې واچوي .

آیا پوهیږي ؟

آلویس ځواب ورکړ :

پوهه شوم !

په واقعیت کې د المان پوځ خپل واقعي مفهوم ورک کړی . جنرال فن دګستر د دې جملې په ویلو سره شاوخوا وکتل . که چیرې کوم چا د جنرال د دې خبرې ګزارش ورکړی وای ،هغه به تر را رسیدونکي شپې پورې د مرمیو په خوله کې تورې ایرې شوي وای او د خیانت په نوم به په ناځوانه مرګ هغې نړۍ ته تللی وای .

جنرال او میرمن یې په پاتې لاره کې تر کوره نورې خبرې ونکړې . جنرال په دې فکر کاوه چې ځنګه وکړای شي هغه مهم نظامي مطلب چې یو راز وو خپلې میرمنې ته وایي . د خبرو دا مرحله ډیره دردناکه وه ، مګر ناڅاپه آلویس له خپل خاونده پوښتنه وکړه چې دې پوښتنې د جنرال لپاره کار آسانه کړ .

ګرانه آیا تا په دې فکر کړی چې څه باید وکړې ؟

زه خپل اوامر لرم .

د غږ په لحن کې یې د پوزخند او انتقاد حس لیدل کېده.آلویس دا احساس کړه چې خاوند یې ډېر مایوس او ناهیلی دی . ډیری خلکو فکر کاوه چې د جنرال فن دګستر په وجود کې هیڅ داسې څه نشته چې یوه میرمن دې له هغه سره مینه وکړي .یو حرفه ای سرتیری ، سرسخته او کله شخ، چې د عمر شپیته کاله یې تېر شوي وو .

زیاتو خلکو په هغه پورې خندل او هیڅ ارزښت یې ورته نه ورکوه . مګر داسې کسان هم وو ، چې د هغه له کارنامو یې یاده کوله ، هغوی ټول هغه ځوان افسران وو، چې په واقعې ډول جنرال پرې ګران وو . کله چې به جنرال د تېرو یادونو نړۍ ته تلو ، د خارکوف او وارلن کورت جګړې یې په یاد راتلې . ډېرې سختې جګړې چې هغه او سرتیرو یې تر سره کړي مګر بیاهم د پیشوا د منلو وړ نه وې .جنرال هغه شېبه په یاد شوه چې کله د هغه د اخراج امر د آلمان د اعلی سرقومندان له خوا هغه ته صادر شو ، ځوان سرتیرې او افسران د هغه د لاسه ورکولو په خاطر ډېر خواشیني شول ، مګر هغوی د مقرراتو په وجه د اعتراض او غږ پورته کولو حق نه درلود . جنرال فن دګستر حرفوي نظامي جنرال ، د سر قومندان اعلی فرمان بې له

کومه تاثره ولوست ، له خدای پامانۍ وروسته په ډېر مات زړه خپل کور ( الفنس تراس ) ته ولاړ . مګر یواځینۍ کس چې د جنرال د احساساتو ژورو ته یې پام شو هغه یې میرمن آلویس وه ، میرمنې په ډېره مینه هغه ته ښه راغلاست ووایه ، ځکه چې جنرال پرې ډېر ګران وو .

کله چې یوه شپیته کلنه زړه ښځه او دوه شپیته کلن زوړ نارینه انسان د ښار په ویجاړو لارو او سړکونو کې د خزان تر سپیره آسمان لاندې د شل زره سرتیرو د ویر او مرګ خبرې کوي ، آیا د مینې او محبت په نوم به نور کوم څه باقي پاتې شي ؟ هو یو څه پاتې وو ، مینه د دې میرمنې او نارینه لپاره د هغه څه په څېر وو ، چې د وحشي ګړنګونو له منځه د تورو وریځو په لمن کې یې سر را پورته کړی و .

جنرال فن دګستروویل :

په هر حال زه باید یوازې له امره اطاعت وکړم !

آلویس ځواب ورکړ .

زه پوهیږم ګرانه . جنرال ادامه ورکړه : حتا که د دندې د ترسره کول بحث یوې خواته پرېږدو ، د پیشوا امر باید تر سره کړم ، او یا باید مرګ پر ځان قبول کړم .

په همدې شېبه کې یې خپلې میرمنې ته وکتل او بیا یې ډېر ژر سترګې ترې واړولې ، ځکه نور یې د دې جرآت نه درلود چې دخپلې مهربانې میرمنې سترګو ته وګوري .

لیرې سیمو ته یې نظر واچوه او دوباره یې وویل :

آیا ته د اسیرانو د قانون په نامه کوم څه پېژنې ؟

آلویس ځواب ورکړ : هو . آیا ښه پرې پوهیږې ؟ هو .

کیدای شي ډېر المانیان په دې ډول قانون پوه نشي .د دې قانون طرحه تیر اوړۍ د پیشوا له خوا صادر شوه . د مسوولو افسرانو د کورنۍ غړي د خپلو میړونو او پلرونو د کړنو مسوول دي . که چېرې یو نارینه اشتباه وکړه ، نو پلار ،مور ، ښځه او اولادونه یې په مرګ محکومیږي . که چېرې یو نارینه کوم قصور

ولري ، د کورنۍ غړي يې په مرګ محکوم دي . هغه انسان چې په خپلو انساني کمزوريو به يې غلبه نشوای کولی ، د کورنۍ غړي او نژدې عزيزان يې د مرګ کومې ته ورتلل .

ګرانې ته يواځينۍ ښځه يې چې په بشپړ ډول له دغې غيرې انساني قانونه خبره يې !

د جنرال فن دګستر مشر زوی د ( آل لمين ) په جګړه کې مړ شو ، بل زوی يې په ( استالينګراد ) کې ووژل شو ، آرنست وروستی زوی يې هم د مفقود الاثرو په ليست کې وو ، او داسې په نظر راتله چې هغه به هم د ( ارستف ) په جګړه کې وژل شوي وي .په دې توګه له دې کورنۍ يواځې همدا دوه زاړه انسانان ژوندي پاتې وو ،چې له دوی نه هم يو يې بايد مونټرويل کې د جګړې قومندانۍ ته تللی وای او ښځه يې له پيشوا سره د اسيرې په توګه پاتې وای .

جنرال فن دګستر خپلو خبرو ته ادامه ورکړه .

آيا پوهيږي چې څه ډول کسان زما د مرستيال او کميسر ټيپ په توګه ګمارل شوي؟

نه !

زه هغه نه پېژنم ، يو ګشتاپو افسر دی !

آلويس وپوښتل ؟

آيا هغه ستا جاسوسي کوي ؟

نه ، هغه يې زما د څارنې لپاره چې خپله دنده په سمه توګه تر سره کړم ټاکلی دی .هغوی خاوند او ميرمن اوس کورته رسېدلي وو ، نور څه د ويلو لپاره نه وو پاتې .بې له دې چې ژر يې له يو بل سره مخه ښه کړې وای .

ځکه چې جنرال فن دګستربايد ژر تر ژره ځان د سر قومندان په توګه معرفي کړی وای .

په هغو ورځو کې دا ډول خدای پامانيانې ډېر تر سره کېدې . ځکه هيټلر تجربه لرونکو ، مشهورو او د نيک نامه افسرانو ته اړتيا لرله ، څو مطمين شي چې سرتيرې له هغو څخه اطاعت وکړي . او خپله هيټلر هم د

( اسیرنیوني یا ګروګان ګیری ) له قانون سره ډېر موافق وو، څو مطمین وي چې جنرالان یې له امره سرغړونه نشي کولی . د هیټلر لپاره دا مهمه نه وه چې پوځي جنرالان یې ترې خوښ دې او کنه ، هغه صرف له جنرالانو وچ کلک اطاعت غوښته او بس . په دې توګه جنرال فن دګسترخپله میرمن ښکل کړه او کور یې پرېښود ، په داسې حال کې چې په ډېرې وېرې یې د اسیرنیونې پر قانون فکر کاوه .

***

د مونترویل د محاصرې په اولسمه ورځ د متفقینو ځواکونه په دې بریالې شول ، چې د جنرال فن دګستر د دفاعي نظامي کربښې یو شمېر سمیې لاندې کړي . المانیانو د سختو بارانونو تر وربښت لاندې بیهوده جګړې ته ادامه ورکوله ، هغه جګړه چې جنرال فن دګستر په مستقیمه توګه په هغې کې ګډون درلود ، د همدې جنرال حضور د جګړې په ډګر کې وو، چې د هغې ورځې تر پایه یې دفاعي کربښه وساتله ، او له بشپړې ماتې یې مخنیوی وکړ . یوځل خو د توپ مرمۍ څو قدمه وړاندې له جنراله وچاودله چې لږ یې زخمي هم کړ ، باران په ډېر شدت سره ورېده ، او بیهوده جګړه هم ډېره سخته روانه وه . ټپي شویو سرتیرو د خپلو مورچو شاوخوا چیغې وهلې ، طبي امکانات د هغوې د درملنې لپاره موجود نه وو ، هاخوا دېخوا د مړو سرتیرو جسدونه هم پراته وو، دا وضعیت د دې سبب شو چې الماني سرتیرې د جګړې په ډګر کې خپله روحیه له لاسه ورکړي .خو بیا هم جنرال فن دګسترهڅه کوله چې خپله دفاعي کربښه د ساحل په کانال کې کلکه وساتي . په دې وخت کې د متفقینو سرتیرې کانال ته ډېر نژدې شوي وو، داسې چې ان د هغوی د خبرو غږ تر دوی را رسېده ، لږ ځنډ وروسته د متفقینو سرتیرو یو کس چې په المانۍ ژبه ښّه پوهېده ، دې ته آماده کړ چې په لوډ سپیکر کې الماني سرتیرې تسلمېدو ته تشویق کړي ،هغه وویل :

الماني سرتیر ! تاسو په کامله محاصره کې یاست ، جګړه نوره ختمه ده ، د مقاومت په صورت کې به ستاسو تلفات نور هم زیات شي ، که چېرې ستاسو لیوني قومندانان غواړي چې تاسو د مرګ کومې ته ټیل وهي ، تاسو نور د هغوی له امره اطاعت مه کوئ . له تسلمېدو سره هم خپل ځان او هم خپل ملګري وژغورئ .

په داسې حال کې چې باران په ډېر شدت سره ورېده ، جنرال دګسترد دښمن د سرتيري خبرو ته غوږ وو ، چې د ده سرتيرې يې تسلمېدو ته دعوتول ، په همدې شېبه کې جنرال دګستر په پښو ودرېده او ورو ، ورو د قومنداني خونې ته روان شو ، د لارې په اوږدو کې د وژل شويو الماني سرتيرو جسدونه هره خوا پراته وو ، د کانال په څو متري کې د لښکر د آسونو جسدونو هم هره خوا پراته وو .

جنرال له ځان سره فکر وکړ :

متفقين آسونه نلري ،کاش چې مونږ هم په جګړه کې له آسونو نه کار نه اخيستی ، متفقين د ځواک او تجهيزاتو له مخې تر موږ ډېر قوي دي ، موږ بله لار نلرو بايد د وژل شويو سرتيرو او آسونو جسدونه تر خاورو لاندې کړو ، او غير له دې نه د متفقينو د درنو توپونو د توغولو پر مهال به د توپ مرمۍ په مړو جسدونو ولګيږي د هغوی د بدن ټوټې به هره خوا وپاشي او په دې توګه به د نورو سرتيرو روحيه هم کمزورې کړي .

جنرال بايد په ياد وای چې د مړو جسدونو د ښخولو امر وکړي . جنرال په ننۍ جګړه کې بريالی شوي وو ، چې د متفقينو لښکر متوقف کړي ، مګر آيا جنرال واقعآ تر راتلونکو څو ورځو نور هم کولی شوای چې د هغوي د پرمختګ مخه ونيسي ؟ جنرال په دې پوهېده چې په مدرنو جګړو کې بايد ډېر منطقي وي ، تجربه يې هغه ته دا ويله چې ډېر مقاومت نشي کولی ، مګر له بل لورې هغه بې له مقاومته بله چاره هم نه درلوده ، د پيشوا د اسيرنيونې قانون يې په ذهن کې موجونه وهل ، ميرمن يې له هټلر سره ګرو پاتې وه ، جنرال د خپلې ميرمنې په خاطر هم بايد تر وروستي سرتيرې مقاومت کړی وای ، حتا که د هغه دا کار ډېر احمقانه او بيهوده هم تمامېده .لږ وروسته يې په ياد شول چې دوه فراري سرتيرې په انتظار خانه کې د هغه امر ته شېبې شماري ، دوه هغه بدبخته انسانان چې هڅه يې کړې وه د جګړې له ډګره وتښتي او خپل ځانونه وژغوري ، هغوی د جنرال فن دګستر امر ته په تمه ناست وو ...

د دوو سرتيرو وژنې څه اهميت درلود ؟ کله چې د دې امکان موجود وو ، چې لس زره نور لښکر هم په څو ساعتونو کې د مرګ کومې ته لاړ شي !

د پوځ ټول قوماندانان د کانال څنګ ته نژدې په یوه کلیسا کې راټول شوي وو ، همدا چې جنرال فن دګسترر اننوت ټول قوماندانان په پښو ودرېدل او نظامي سلام یې وکړ ، د ګشتاپو افسر ( فري ) په خوشالی سره وویل :

جنراله تاسو ته دې مبارک وي !

جنرال په ډېر تعجب او حیرت سره فري ته وکتل ، ځکه د دې ورځو په اوږدو کې کومه داسې خبره نه وه شوې چې د هغې په وجه دې جنرال ته مبارکي ورکول شي مګر افسر فري د میز جعبه خلاصه کړه او یو کوچنی شی یې را پورته کړ ، جنرال ته یې ونیو ، صایب دا ستاسو مډال دی !

فن دګستر په حیرت ور ته وکتل ، د ګشتاپو افسر فري زیاته کړه :

د زړورتیا اوسپنیز صلیب ، د پیشوا لخوا ډالۍ ده جنرال فن دګستر ته ! صایب تاسو یې وړتیا لرئ !

جنرال پوښتنه وکړه :

دا جعبه څه ډول ستاسو لاس ته را رسېدلې ؟

د الوتکي له لارې ، آیا تاسو د الوتکي غږ ته پام نه وو ؟ دا جعبه د الوتکي په ذریعه موږ ته را رسېدلې ده .

فن دګستر په تعجب سره وویل :

خیر ! زه ور ته متوجه شوی نه یم !

جنرال ډېر سخت د ساحل په کانال کې د جګړې کرښې ته متوجه وو ، تر دې چې الوتکي ته یې هم پام نه وو شوی ، بیا په تېره چې د محاصرې له پیله جنرال یوه الوتکه هم هلته نه وه لیدلې ، نو ځکه یې وپوښتل:

آیا د جعبې په منځ کې کوم بل پیغام نه وو ؟

د فري لاس یو ځل بیا د جعبې منځ ته ننوت او پلټنه یې پیل کړه :

یو لیک اعلی سرقوماندانۍ لخوا جنرال صایب تاسو ته ، چې ستاسو د زړورتیا ستاینه یې کړې .

جنرال له ځان سره فکر وکړ :

تقدیر نامه !

په داسې حال کې چې المان د نابودۍ په حال کې دی ، د دې پرځای چې د هېواد وضعیت ته پاملرنه وشي ، د دې بېهوده جګړې لپاره تقدیر نامې رالیږي !

بیا یې په سخته وپوښتل :

نور څه شته ؟

فري ځواب ورکړ :

زما شخصي امرونه دي ، چې د ګشتاپو لخوا راکول شوي دي جنرال صایب !

فن دګسترد دې خبرې په اورېدو لږ وخندل ، او بیایې له ځان سره وویل ، په دغسې نظام کې چې اوامر باید د جګړې لاربښود ته ورسیږي ، یو غیرې مسوّول کس ته رسیږي ، چې هغه اصلاً نظامي نه دی ، او هغه حتا نشي کولی چې د یو امر له ګټې خبر شي بیا یې وپوښتل :

آیا ماته څه را رسېدلې ؟

فري وویل : یو لیک دی جنرال صایب !

جنرال فن دګسترد لیک لیکواله فوراً وپېژانده او لیک یې د فري له لاسه واخیست ، فري د دې حق نه درلود چې د جنرال د میرمنې آلویس لیک ته لاس وړاندې کړي ، له بلې خوا جنرال هم سخت په تمه وو ، چې له مخې لیک پرانیزې او ویې لولې ،مګر هیڅکله هغه د ګشتاپو د یو افسر پر وړاندې دخپلې میرمنې لیک نه لوسته . د آلویس د لیک په لیدو سره جنرال یوې بلې نړۍ ته ولاړ ، د الویس د بې انتها مینې په وجه دی ډېر پر ځان ډاډه شو .جنرال په دې پوهېده چې د الویس چار چاپېره د اور لمبې بلې دي او هغه به هیڅکله له دې اوره خلاصون ونه مومي ،مګر د آلویس د لیک په لیدو سره هغه یو څو شېبې له دې جهنمه لیرې شو ، د څو شېبو لپاره د سولې ، امن ، مینې او محبت نړۍ ته ولاړ .

جنرال دګستروپوښتل :

آیا کوم راپور لرئ ؟

هغه مخکې له دې چې لیک ولولې باید خپله دنده یې تر سره کړې وای .

باس ـ د عملیاتي ټیم معاون په ځواب کې وویل :

د ډاکټر ګزارش صایب ، همداسې وو !

زما دنده صایب د دې ایجاب کوي ، چې د پوځ جنرال ته دا خبره ورسوم چې د زخمیانو لپاره نور هیڅ زما په واک کې نشته ، د عفوني ضد مواد ، بانداژ او استریل ګاز نور ختم دي . او ټول مرکزونه له درملو خالي دي په ځانګړې توګه مورفین چې د درد د تسکین لپاره ورکول کیږي .

هغه ټپیان چې تازه راوړل شوي په روغتون کې د ځای د کمبود په وجه باید له روغتونه د باندې په آزاده فضا کې بستري شي په داسې حال کې چې یو شمېر یې عاجلې دماغي جراحۍ ته اړتیا لري ، دا چې زه له دې وروسته د روغتون د اداره کولو لپاره په خپلو امکاناتو کې خپل توان نه وینم لازمه مې وګڼله چې موضوع عمومې قومندان یانې تاسو ته ورسوم .

دګستر ورته وکتل ، یوازې همدومره یې وویل : مننه !

ښاغلیه د ۵۰۷ شمېرې د توپخانې قومندان تاسوته راپور لري .

جنرال دګستر د هغه خبره پرې کړه او ویې ویل :

هغه مې ولیده د هغه راپور مې هم واورېده ، مهمات یې ختم شوې دي !

باس دوباره په خبرو شروع وکړه :

ښاغلیه جنرال فاسل له خپلو مواضعو د شاته تګ غوښتنه کړې !

جنرال فاسل په څو نظامي مانورونو کې د ۸۱۶ له خوا په کینې لورې کې له کانال څخه دفاع کړې او څو ځله یې د متفقینو پاټکونه او کربښې له ماتې سره مخامخ کړي .

فري ، د ګشتاپو افسر وویل :

جنرال فن دګستره ! تصمیم او فیصله ستاسو په لاس کې ده .

فن دګستر په ځواب کې وویل : جنرال فاسل او ټول ځواکونه یې باید په هماغه ځآی کې پاتې شي چېرته چې همدا اوس دي .

باس بیا وویل :

ښاغلیه ، جنرال فاسل تر شا نور تقویتي ځواکونه نلري .

جنرال وویل : پوهیږم نور څه ګزارش لرئ ؟

باس وویل :ښاغلیه د هغو دو سرتیرو محکمه چې غوښتل یې وتښتي !

هلته دوه انسانان دې ته په تمه ناست وو ، چې د جنرال فن دګستر په امر په مرمیو وویشتل شي .

دا هغه سرتیرې وو ، چې د وېرې او ناهیلي توب په وجه له خپلو مورچلونو یې د تښتې هڅه کړې وه . پر هغوی د هیڅ ډول رحم او شفقت پیروزینه نه وه موجوده . هر څومره ژر چې کیدای شول باید هغوی په مرمیو سوري سوري شوي وای ، څو د نورو سرتیرو لپاره د عبرت یو درس وي ،چې له خپلو مورچلو د وېرې او ناهیلی په وجه ونه تښتي .

جنرال دګستر په دې فکر کاوه چې د دې کار امر د ده په لاس کې دی ، یوه شېبه هم باید په کې تعلل ونکړي ، تر دې دمه د دګستر تر امر لاندې سرتیرو د متفقینو لښکرو ته ماتې ور کړې وه ، تر همدې ورځې دا اولسمه ورځ وه ، چې سرتیرو یې په خپلو سنګرونو کې مقاومت کاوه ، ددې وضعې په دوام سره د دې امکان هم موجود وو ، چې د پیشوا لخوا دوی ته غټې جایزې ور کړل شي . جنرال دګستر کولی شول چې د دوو فراري سرتیرو ځانونه قرباني کړي ، یا هم د لسو زرو انسانانو له سره تیغ تېر کړي !

ناڅاپه د جنرال پام شو ، چې د ګشتاپو د افسر فري هغه ته پام دی او سترګو ته یې نیغې ګوري ، جنرال هیله وه ، چې د ګشتاپو افسر د هغه د افکارو نه څه درک وکړای شي ، په همدې شېبه کې د تلفون زنګ راغی ، فري تلفون غوږ ته ونیوه له یوڅو خبرو وروسته یې جنرال ته وویل :

ښاغلیه ، جنرال فاسل دی ، هغه فکر کوي چې دښمن په خپل ټول زور سره وروستۍ حمله پیل کړې ، هغه نور د مقاومت تاب نلري !

فن دګستر وویل : زه په هرڅه پوهیږم ، مګر امر هماغه دی چې مخکې مې وکړ ، بدلون په کې نه راځي .

جنرال فاسل د تلفون تر شا چیغه کړه : هغوی له خپلو ټانکونو سره پر موږ برید پیل کړی او په ډېرې آسانۍ سره موږ قتل عام کوي ، هیڅوک به پاتې نشي !

باس وویل : کیدای شي دا به کومه حیله او مکر وي !

جنرال دګستر فکر وکړ : البته د دې امکان شته چې کومه حیله وي .

مګر په هر حال څه فرق کوي ؟ هغه په دې پوهېده چې په هر حال کې هغوی د جګړې بایلونکي دي او د نجات هیڅ لاره نشته ، په همدې حال کې جنرال سترګې بیا په فري خښې کړې ، فري په تحقیر آمیزه ډول لیک ته اشاره وکړه او ویې ویل: هیله لرم چې ستا د میرمنې آلویس حال ښه وي !

جنرال فن دګستر په آسانۍ پوه شو ، چې فري د ګشتاپو افسر د هغه د میرمنې له اسیرتوبه یاده وکړه ، چې هلته د پیشوا سره اسیره ده ، ځکه فري د پیشوا لخوا د اطمینان هغه سند وو ،چې بې له کومه تردیده یې غوښتل چې دا لس زره کسان باید په دې جګړه کې ووژل شي خو د جګړې میدان پرینږدي .ځکه فري د نازي حزب لخوا د هغو زرګونو تنو یوه نمونه وه ، چې باور یې درلود د جګړې په ډګر کې یا باید جګړه وګټو او یا باید ټول لس زره لښکر له منځه ولاړ شي . اوس فري دلته د جنرال دګستر مخې ته ولاړ وو ، او ډاډه وو چې باید همدا لس زره لښکر د سرحدي کربښې د جګړې په لومړۍ لیکه ټول له منځه ولاړ شي .

که چیرې د نازي حزب وغواړې چې ټول المان د ژوند له صفحې محوه شي ، فري او د هغه نور همفکره ملګري به په دې خبره کې لږ شانې تردید اوفکر هم ونکړي ، ځکه دا موضوع د آلمان د پیشوا هټلر لپاره مهمه نه وه چې د المان ټول ملت که ووژل شي ، نارینه نفوس یې په جګړه کې له منځه ولاړ شي او کوچنیان او ښځې یې له لوږې مړه شي ، ځکه هټلر او د نازي حزب غړو باور دا و چې کلي ، ښارونه او المانیان باید په جګړه کې له ماتې وروسته ټول ختم شي ، څو دښمن ونکړای شي چې جوړ څه ورته په

لاس ورشي . دا یوازینۍ لاره وه چې نازي حزب ته باقي پاتې وه او اوس د جنرال په وړاندې فري د دې مرګ ښه تمثیل کولی شو .

فري د حزب له مرکزي کمیټې څخه امر درلود ، چې په جګړه کې محاصره ټول لس زره لښکر باید تر خاورو لاندې شي .

جنرال فن دګستر د فري سترګو ته په دقت سره وکتل او عصاب یې شېبه په شېبه خرابېدل ، دې ته مجبور شوي و ، چې په یوه مرمۍ د دې لیوني سړي ګلم له ځمکې ورټول کړې ، مګر جنرال که دا کار کړی وای له خپلې میرمنې سره یې یوه مرسته کولی شوه ، چې ډېر ژر یې هغې دنیا ته لیږلې وای . ځکه تر دې دمه هغه د پیشوا له وژونکو او جلادو قاتلانو په اسارت کې وه .

که چېرې د جنرال د فکر خبر المان ته رسیدلي وای ، د هغې د میرمنې آلویس د ژوند پاڼه به د تل لپاره د ژوند له صفحې محوه شوې وه . ګشتاپو په ډېرې راحتۍ سره هغه په مرګ محکوموله او په وژنه یې ور ته هیڅ تعلل هم نه کاوه ، په داسې حال کې چې جنرال دګستر هڅه کوله چې خپل عصاب کنټرول کړي ، ویې ویل:

اوو زما خو دا لیک له یاده وتی وو !

مګر د دې جملې له ویلو وروسته یې د بیزارۍ ډېر قوي احساس وکړ . دا چې مجبور و چې خپل عصاب د فري په شان د یو کس په وړاندې کنټرول کړي ، بلآخره یې یو ډېر وحشتناکه فکر په ذهن کې راوګرځید او ویې ویل !

زه د استراحت لپاره ځم خو پنځلس دقیقې وروسته بیرته راځم !

فري او باس خپل سرونه وښورول د جنرال څېرې ته یې په دقت سره وکتل ، په کتو کتو یې تر هغې څاره څو چې جنرال له کلیسا ووته .

جنرال فن دګستر په خپله خونه کې پر تخت پریوته او لیک یې د زړه په سر کېښود ، په یاد یې شول چې د لیک د لوستلو لپاره شمعې ته اړتیا لري او بل د هغه کار لپاره چې غوښتل یې د لیک تر لوستلو وروسته یې تر سره کړي ، هم روښنایي ته اړتیا وه !

جنرال د کوټې له کړکۍ بهر وکتل ، مخکې له دې چې د کړکۍ پرده را کش کړي ، سترګې يې په باس ولګېدې چې په ډېر افسوس يې هغه ته کتل . د جنرال کوټه ډېره کوچنۍ وه ، يوازې يې همدومره کولی شول چې پر خپل تخت دراز پريوځي اوبس ، بايد بوټان يې له پښو ويستې وای کنه د خوب تخت يې په خټو ککړ کېده، په دې حال کې هغه نظامي قوانين هم له پامه غورځولې وو !

جنرال په ياد شول چې څنګه يې نظامي قوانين په خپلو سرتيرو په کلکه تطبيقول او هغوی به يې هڅول :

هر چا چې نظافت مراعت نکړ په شدت سره سزا ور کول کيږي .

سرتيري بايد ټول مقررات په سمه توګه رعايت کړي . . .

مګر اوس مزل آخر ته رسيدلی وو ،او دا هغه مزل وو ، چې جنرال نور ورته په وروستيو ګامونو کې وو. ځکه ډېر ژر يې د خوب تخت په وينو سور کېده،په خټو د ککړيدو خبره خو لا په خپل ځای پاتې وه .

جنرال په تخت دراز پريوته او په خټو لړلې بوټان يې په تخت وغځول .

د آلويس ليک يې په لاس کې واخيست ، ډېر ستړی او بېزاره و، جنرال د دې تمايل هم نه درلود چې په داسې حالت کې د ميرمنې ليک ولولي . هغه کار چې جنرال غوښتل د ليک تر لوستلو وروسته يې تر سره کړي د جنرال لپاره کوم سخت کار نه و ! د ټولو دردونو او زحمتونو پای و ، او د دې امکان هم موجود و ، چې د آلويس ژوند وژغوري . مګر د جنرال مرګ د هغه له سرتيرو سره هيڅ مرسته نشوای کولی . ځکه فري د لښکر قومنده په لاس کې اخيسته او لس زره انسانان يې د مرګ کندې ته ليږل ، هغه نشوای کولی چې د سرتيرو د ژوند لپاره کوم کار تر سره کړي . هغه هيڅکله د نورو د بدبختۍ لپاره فکر نه و کړی ، دا ناځواني هم وه . کومه تګلاره چې نازي حزب غوره کړي وه ، ان د فن دګستر په شان زوړور جنرال يې هم غلي کړې و ، هغه خپله وسله له ملا را خلاصه کړه او د ليک پر سر يې کېښوده . جنرال بايد ليک پرانيستی وای ، په ډېر شوق يې بايد لوستي وای ، د دويم ځل لپاره يې هم بايد مطالعه کړی وای ، او د دې ځل په لوستو يې بايد خپل ځان په خپله وسله له دنيا رخصت کړی وای ، هغه ليک پرانيست :

زما ګرانه !

زه دا لیک ستا د خوښۍ او روغتیا په هیله تا ته لیکم . هر څه چې وي او هره پېښه چې رامنځته کیږي ،خو زه له زړه له تاسره مینه لرم ، د دې خبرې ثبوت به زموږ له کلونو ګډ ژوند وروسته تاته شوي وي .

مګر زما ګرانه !زه ویریږم چې دا لیک او ستا مصروفیتونه ستا غمونه نور هم زیات نکړي . زه ډېر بد خبرونه تاته لرم . ما په دې هکله مخکې له تاسره خبرې ځکه ونکړې ، چې تا د مونتر ویل د دفاع په خاطر ډېر مصروفیت درلود ، ما نه غوښتل چې زما په خاطر تاته نوی مصروفیت هم پیدا شي . ما دا راز له ځان سره وساته مګر په دې شېبه زه مجبوره شوم چې هغه راز نور تا ته ووایم .

زما ګرانه ! هغه وخت چې ته د دې لیک په لوستلو بوخت یې زه به نوره په دې نړۍ کې نه یم ! زه د سرطان په ناروغۍ اخته یم . ډاکټر (موهون ویتز) دا مطلب ماته په روښانه ووایه . ما هغه مجبور کړ چې حقیقت را ته ووایي . ډاکټر ما ته وویل چې ستا د سرطان ناروغۍ هماغه ده ، چې ستاسو د ګاونډي ( فروانګل) وه .تر اوسه مې هر درد په هر ډول په یوازې ځان تحمل کړای شو ، مګر له دې شېبې وروسته یې د زغم وس په ځان کې نه وینم . ډاکټر موهون ویتز ماته د خوب د ګولیو هدایت هم وکړ ، څو د هغې په مصرف سره لږه آرامه شم ! همدا شپه وروسته له دې چې دا لیک تاته پوسټ کوم ټولې ګولۍ به یوځای خولې ته کړم ، او حتمآ مې مړه کوي ، خو ته خواشینې کیږه مه ما ټول کارونه برابر کړي .

په دې توګه زه مجبوره یم چې له تاسره مخه ښه وکړم . زما ګرانه ! زه باید د هغو ټولو شپبو په خاطر له تاته مننه وکړم چې هغه شېبې مې په خوښۍ له تاسره تیرې کړې دي . ته تل یوه مهربانه ، زړه سوانده او ګران خاوند وې زما لپاره ، زه په ټول وجود له تاسره مینه لرم . تل مې ستا ستاینه کړې ، زه ډېره یوه نیک مرغه میرمن وم ، چې ټول عمر مې ستا صفت کړی او له تاسره مې مینه کړې.

ستا صداقت ، مینه او لیرلید هر شببه ماته د ستایلو خبره وه . ما یوه بله هیله هم درلوده چې غوښتل مې ستا لپاره یو بل کار هم تر سره کړم ، ما غوښتل چې د خپلو زامنو مرګ په یوازې ځان تحمل کړم ،مګر ته خو اوس پوهیږي چې زه به له دې وروسته نور هیڅ غم او خپګان ونه زغمم ، ځکه هغه وخت چې دا لیک تاته رسیږي زه به نوره ژوندی نه یم .

زما ګرانه زه دا نړۍ په داسې حال کې پریږدم ، چې زما ټول افکار او هیلې تا ته نارې وهي ، والسلام !

ستاسو همیشنۍ مینه ، ستا میرمن ، آلویس

جنرال فن دګستر لیک یو ځل بیا ولوست ،مګر هغه نشوای کولی چې د لیک پر متن باور وکړي ، آیا په ریښتیا هم جنرال خپله میرمن له لاسه ورکړې وه ! جنرال په همدې شېبه کې یو بل ډول درد په زړه کې احساس کړ . جنرال له ځان سره وویل : په هغه نړۍ کې چې آلویس ژوندی وي له هغه نړۍ سره ډېر توپیر لري چې آلویس په کې نه وي دا نړۍ هغه نړۍ نه ده چې آلویس په کې نه وي ، جنرال خپله پرېکړه کړې وه ، وسله یې هم په لاس کې وه ، ځانته یې نیولې وه ! آلویس مړه شوې وه ، هغه مړه شوې وه ، نوره نه وه .

جنرال دا کلیمې څو ځله له ځان سره تکرار کړې ، آلویس ویلې وو چې نوره به درد او رنځ ونه زغمي ، د ګشتاپو وحشتناکه خلکو نور نشوای کولی چې آلویس ته ضرر ورسوي ، آلویس د دې نړۍ له غمونو او دردونو نوره آزاده شوې وه . اوس نو جنرال فن دګستر یوه دنده درلوده چې هغه یې باید تر سره کړې وای !

جنرال د عمل او میدان سړی و، هغه په پوځ کې دا زده کړې وو چې چټکه او په موقع پرېکړه وکړي . نور وخت هم نه وو . وسله یې په لاس کې واخیسته ، د اتاق دروازه یې خلاصه کړه او دوباره کلیسا ته ننوت . فري ، باس او بیکر درې واړه لا تردې دمه دې ته په تمه وو ، چې د جنرال له خونې د ډز غږ واوري ، ځکه هغوی نور ډاډمن وو ، چې جنرال ځان وژنه کوي ،مګر په دې شېبه کې جنرال هغوی ته مخامخ ودرېده ، جنرال وسله د فري خواته ونیوه او ویې ویل : که معمولي بې ځایه حرکت دې هم وکړ ژوندی به نه یې !

فري چې ډېر حیرت وهلی وو ویې ویل :

مګر .... مګر .....

په ډېرې ویرې یې د شاته تلو هڅه پیل کړه ، جنرال بیا ورته امر وکړ :

بې حرکته ! دواړه لاسونه دې پر سر کېږده!

کیدای شي د امریکایي ویسترن د فلم یوې صحنې چې جنرال کلونه پخوا لیدلی و، هغه دې امر ته مجبور کړ ،همدارنګه د روسی اسیرانو هغه کتار لیکه یې مخې ته ودرېده چې په جګړه کې اسیران شوي وو ، او لاسونه پر سر روان وو .

فري د جنرال له امره اطاعت وکړ او هیڅ یې له خولې خبره هم ونه وته .

بیا جنرال په لوړ آواز وویل :

باسه ! امر وکړئ ښاغلیه !

له جنرال فاسل سره اړیکه ونیسه !

سمه ده ښاغلیه !

فري چیغه کړه :

تاسو اراده کړې چې تسلیم شئ ؟

جنرال وویل : هو !

هغه غوښتل چې د آلمان د راتلونکي لپاره د لسو زرو انسانانو ژوند وژغوري .

فري بیا په لوړ غږ وویل : بیا ستاسو میرمن ؟آیا هغه مو هېره کړې !

جنرال په ټیټ غږ وویل : زما میرمن مړه شوې !

فري وویل : خیر بیانو زما میرمن څه ؟ زما اولادونه !

د فري غږ په لوړه چیغه بدل شو ، ټوله حادثه په یوه ثانیه کې پېښه شوه ، د فري هیجان پر هغه غلبه وکړه او وسلې ته یې لاس کړ ، مګر مرمۍ یې ډېر ځنډ وروسته تېره کړه . د جنرال فن دګستر دوه مرمیو د هغه د ژوند کمپله ورټوله کړه.

فري په ډېر حیرت مخکې له دې چې ځمکې ته ورسیږي مړ و .

جنرال وویل : اوس ښه شوه ! اوس غواړم له جنرال فاسل سره خبرې وکړم .

هماغه شپه د بې بې سي راډیو د مونټرویل د نظامي مورچل د تسلمېدو خبر خپور کړ ، دا خبر په پنځو ژبو په ټوله اروپا کې خپور شو .

لس زره سرتیرو له حتمی مرګه خلاصون وموند او د جنګي اسیرانو په توګه د متفقینو پوځې هډې ته بوتلل شول . ډاکټرانو د پوځ ټپیان تداوي کړل . په یوه لېرې محله کې په یوه پناه ګاه کې هټلر لکه لیوني نارې وهلې ، هټلر د لسو زرو کسانو د ژوندې پاتې کېدو په وجه چې ده یې د مرګ غوښتنه کوله ډېر عصباني شوی وو.

هماغه شپه څلورو نارینه ، د جنرال فن دګستر د کور زنګ چې په والفنس سړک کې یې موقعیت درلود کیکاږه . یوې زړې ښځې دروازه د هغوی پر مخ خلاصه کړه ، زړې ښځې د مخې د ګشتاپو د سرتیرو یونیفورم وپېژانده .

میرمنې هغوی ته وکتل او بیا یې وویل : زه ستاسو راتګ ته په تمه وم ښاغلیو !

دا هماغه زړه میرمن وه چې خبرې یې کولې :

زه اوس دې ته اماده یم چې له تاسو سره ولاړه شم .

یو وچ غږ وویل : راځئ !

زړې میرمنې خپله خولۍ پر سر کېښوده او له هغو څلورو نارینه وو سره د موټر خواته وخوځېده . هغه لا تر دې دمه ژوندی وه ، او د سرطان د ناروغۍ هیڅ نښه یې په وجود کې نه لیدل کېده. مګر لکه څنګه چې یې په لیک کې ژمنه کړې وه ، د هغې میرمنې وروستي افکار او اندونه ټول د خپل ګران او مهربان خاوند په مینه کې وو .

# بینوایان

*د ویکتور هوګو په داستاني آثارو کې تر ټولو مهم او مشهور رومان چې د نړۍ په ټولو ژوندیو ژبو ژباړل شوی او ګڼل شمېر فلمونه پرې جوړ شوي، په دې کیسه کې یې لنډیز لوستونکو ته وړاندې کیږي .*

د اکتوبر د میاشتې په لومړیو ورځو کې د لمر له پریوتو نه وړاندې ، د (ډیني ) ښار ګوټي ته یو نا آشنا لاروی رانتوت . په دغه شېبه کې د خپلو کورونو په دروازه کې ولاړو خلکو په شکمنو سترګو د دغه لاروي ننداره کوله ، ولاړو خلکو تر دې وړاندې په دغه څېره سړی نه و لیدلی . منځنی ونه ، پیاوړي تنه ، د اوو څلویښتو په شاوخوا کې عمر ، لمر سوی مخ ، ببره سینه یې له زاړه کمیسه مالومیده ، غونچه تاو شوې نیکټایي له غاړې راځړیدلې وه او د شلیدلې پتلانه د یوې پایڅې له سوري څخه یې د ګونډې ګردۍ ښکاریده ، یو پنډ یې په شا ، لکړه یې په لاس کې او زاړه شلیدلې بوټان یې بې جرابو په پښو وو . . .

نا آشنا لاوری د لارې واټ ته ورسید ، نیغ د ښاروال دفتر ته ننوت ، څو شیبې وروسته له دفتره ووت . . . دا مهال د ډیني په ښار کې یوه ښکلې مسافرخانه جوړه شوې وه ، نا آشنا سړی د مسافرخانې په لوړ ولاړ او نیغ یې پخلنځي ته ننوت . د مسافرخانې څښتن د وره د بېرته کېدو آواز واورید او پوه شو ، چې نوي پیرودونکي ورننوت ، پرته له دې چې خپل سر پورته کړي ، ویې ویل : څه مو زړه ته کیږي ؟

نا آشنا سړي ورته وویل : خواړه غواړم .

خو کله چې د مسافرخانې خاوند سر راپورته کړ ، د هغه څېرې ته یې په کتو وویل : خواړه د پیسو په بدل کې !

نا آشنا سړي خپل جیب ته لاس کړ ، د پیسو ډکه کڅوړه یې راویستله او ویې ویل : پیسې به در کړم ، خو د مسافر خانې خاوند په ده شک راغی . خپل شاګرد ته یې یو کاغذ ورکړ او هغه ښاروالۍ ته منډه کړه ، خو د نا آشنا لاروي دغه چلند ته پام نه شو ، دویم ځل پوښتنه کوي ، ښاغلیه ! ماښامنۍ تیاره ده ؟

کوربه ورته وايي ، په ځو شيبو کې به راوړل شي ،دا مهال همغه شاګرد را رسيږي او کوربه ته کاغذ نيسي ، کوربه يو ځل په چورت کې ډوبيږي او بيا د لاروي خواته ورځي او ورته وايي : ښاغليه ! ستاد ميلمستيا او هرکلي توان نه لرم .

لاروی له خپله ځايه نيم پاڅيد او ويې ويل : ډاريږې ، پيسې به در کړم ، ما خو درته وويل : چې ښې ډېرې پيسې راسره دي .

سمه ده ، خو خبره دا نه ده .

نو څه خبره ده ؟

تاسي پيسې لرئ خو ...

خو څنګه ؟

خو زه د کرايي لپاره کوټه نلرم .

خير دی ، زه په طبيله کې شپه تيروم .

امکان نه لري .

اخر ولې ؟

ځکه چې آسونو چټله کړې ده .

خير دی يو ځای به پيدا شي ، خو په دې اړه به د ډوډۍ له خوړلو وروسته پريکړه وړ کړو .

خو زه تا ته خواړه نه شم در کولی !

دمسافرخانې خاوند چې خپله وروستۍ خبره په ډېر جديت وکړه ، لاروی پاځيدو ته اړ شو او ويې ويل : آه ، نژدې ده چې له لوږې مړ شم ، نن مې له سپيده داغه تر دې دمه مزل کړی ، دولس فرسنګه لاره مې وهلې ،زه پيسې ورکوم غواړم يو څه وخورم .

د مسافرخانې خاوند  په سړه لهجه وويل : خو زه څه نه لرم .

لاروی يو دم خندا واخيست ، د اور خواته را وګرځيد او د خوړو ديګ ته يې ګوته ونيوه ويې ويل : چې څه نه لري ، نو دا څه دي ؟

دا ټول خواړه د بل چا لپاره دي .

د بل چا لپاره ، د چا لپاره ؟

د ګاډۍ چلوونکو لپاره .

هغوی څو کسان دي ؟

دوولس کسان .

خو دا خواړه د شلو کسانو لپاره بس دي . . .

د مسافرخانې خاوند يوه لوري ته کوږ شو او خپله خوله يې د لاروي غوږ ته نژدې کړه او په يوه هيبتناک آواز يې وويل : له دې ځايه ووځه ! . . . نور نو بس دی ، غواړې چې نوم دې دروښيم ؟ ستا نوم ژان والژان دی ، اوس غواړې چې درته ووايم ، چې څه کاره يې ؟ ته چې څنګه رانوتلې ، زه دربانديې له همغه شيبې شکې شوم او يو شاګرد مې د ښاروالۍ دفتر ته وليږه . . .

لاروي سر ځوړند ونيو ، خپل پيټۍ يې واخيست او له مسافرخانې څخه د باندې ووت ، د وړاندې تګ په حال کې د باندې وکتل ، ويې ليدل چې د مسافرخانې خاوند او يو شمېر نور پيرودونکي په وره کې ولاړ دي او دی يو او بل ته ښيي .

لاروی وړاندې ځي او د يوې بلې کمه بيه مسافرخانې په لټه کې کيږي ، يوه بل واټ ته رسيږي او په يوه بله مسافر خانه يې سترګې لګيږي . ځې هماغې مسافر خانې ته ننوځي او دخوړو او بسترې خبره ورته کوي . د مسافرخانې څښتن يې ورسره مني . لاروی کيني ، د سختو سړو له امله يې کلکې شوي ګوتې او ويدې شوي پښې د اور لور ته غځيږي ، د خوړو خوندور بوی ورباندې لګيږي او ډاډ ورته پيدا کيږي ، خو په دې ځای کې هم يو داسې څوک را پيدا کيږي چې په لاروي شک کوي او د مسافر خانې خاوند ته په ګوته کوي ، هغه يې هم شړي . کله چې راوځي ، ماشومان ورپسې کيږي او په کاڼو يې ولي ، خو دی يې د لکړې په ښورولو سره ډاروي او له ځانه يې شړي . وروسته يو زندان ته رسيږي او د زندان ساتونکي ته وايي ، اجازه به رانکړې چې نن شپه دلته تيره کړم ، هغه ورته وايي : دا زندان دی مسافرخانه نه ده ، ولاړ شه کوم جرم وکړه ، چې ځای درکړو .

لاروی له دې ځايه هم په ناهيلې زړه روانيږي ، د باغونو تر منځ لاره وهي ، چې يو وړوکي ښکلي کور ته يې پام کيږي ، له کړکيو يې رڼا راوليږي ، لاروی د کړکۍ شيشه ټکوي ، د کور خاوند ورته راوځي او دی د پيسو په بدل کې د لږې ډوډۍ او د خوب د ځای غوښتنه کوي .

د کور خاوند ورته وايي چې ته څوک يې ؟ لاروی ورته وايي ، مسافر يم ، دومره لاره مې وهلې چې نور له ستومانۍ نشم تللی . د کور خاوند ورته وايي ، ولې مسافرخانې ته نه ځې ؟ لاروی ورته وايي ، هغوی ته ورغلم راويې شړلم .

په دې وخت کې د کور خاوند هم ورباندې شک کوي اوتر لږ خبرو وروسته د کور خاوند ټوپک را اخلي او لاروی د مرګ په ګواښ سره شړي . لاروی د دروازې د بندولوغږ اوري. شپه نوره هم تياره کيږي ، د آلپ

د غرونو سوړ باد لګيږي او دی په باغونو کې ورګاندې ځي. ګوري د باغ د وره ترڅنګ يوه جونګړه ده، جونګړې ته ورننوځي، په جونګړه کې وابنه هوار وي، دی ځانته له وښو بالښت جوړوي، خو په جونګړه کې اوږد څملي، يو ډارووونکی غور غور يې تر غوږ کيږي، سر پورته کوي، ګوري چې يو غټ سپي سر ورننه ايستلی دی. لاروی پوه شو، چې دا د سپي استوګنځای دی، پاڅيد خپل پيټی يې د ډال په ډول خپلې مخې ته ونيو او له د لکړې په ښورولو سره يې ځان له جونګړې رااوويست...

لاروي له ښاره د وتلو هوډ وکړ. د لارې د نه پېژندلو له امله بې موخې او بې منزله روان وو. بلآخره ځي د يوې مطبعې مخې ته په يوې ډبرينې څوکۍ ځان اچوي. دا وخت يوه ښځه په لاره تيريږي، ده ته يې پام کيږي او ورته وايي: څوک يې او څنګه پر دغه څوکۍ پروت يې؟

دی وايي، زه پوره نولس کاله په لرګينه بستره پريوتلی يم او نن شپه په ډبرين بستر.

ولې سرتيری يې څه؟

هو سرتيری يم.

مسافرخانې ته ولې نه ځي؟

پيسې راسره نشته...

خو، دلته هم په داسې حال کې شپه نه شي تيرولی، هرومرو دې ساړه وهي.

زه هر وره ته دريدلي يم.

ښه نو څه وشول؟

ټولو را وشړلم.

دغې مهرباني ښځې د میدان بل لوري ته د روحاني مشر د بنګلې ترڅنګ یوه وړوکي کور ته ګوته ونیوه او پوښتنه یې وکړه :

هر ور دې ټکولی دی ؟

هو !

دغه ور هم ؟

نه

نو دغه ور هم وټکوه . . .

روحاني مشر په کور کې له نورو غړو سره خبرې کولې، د دغه کور یوه میرمن (ماګلور) څو شیبې د مخه د باندې وتلې وه ، ځینې خبرې یې اوریدلې وې ، ویل کیدل ، چې یو بدشکله ، بدقوارې سړی ، یو شکمن کوڅه ډب ښار ته راننوتلی دی . ښایې خلکو ته ستونزه پېښه کړي . . . د ښار ټول خلک باید خپلې دروازې اوکړکۍ بندي وساتي . . . دوی په دې خبرو کې وو ، چې د کور دروازه وټکول شوه ، روحاني مشر وویل : راننوځه ! دروازه بیرته شوه ، یو سړی راننوت ،دروازه یې پورې کړه . وړاندې ورغی ، پیتۍ یې په شا ، لکړه یې په لاس کې ، په سترګو کې یې د سختۍ ، کرکې او ستړیا نښې له ورایه ښکاریدې . . . د دغه سړي په لیدو ټول وډار شول ، سړی وویل : زه یو زندان تیر کړی مجرم یم ، نولس کاله مې د زندان په تیارو کې تیرې کړي دي ، څلور ورځې مخکې را خوشي شوی یم ، هرې مسافرخانې ته تللی یم ، راشړلی یې یم . حتا د یوه سپي کوډخې ته ورغلم ، هغه سپې هم را وشړلم ، زه پیسې لرم ، ډېر ستړی یم ، ډېر وږی یم ، که کولی شئ ، نن شپه ځای او لږه ډوډۍ راکړئ ؟

روحاني مشر د ده د تیر ژوند په هکله نورې خبرې هم له ده سره وکړي ، خو هر ځل چې به یې لاروي ته د (ښاغلیه ) کلیمه ویل ، د هغه څېره به له خوښۍ وغوړیده . . . روحاني مشر د خپلو خبرو په لړ کې ورته

وویل : دا زما کور نه دی ، دا د خدای کور دی او خدای له میلمنو څخه د نوم پوښتنه نه کوي ، بلکې په دې لټه کې وي چې څومره ستونزه لري . . . په دې اساس ستا قدر زموږ پر لیمو ، دې ته هیڅ اړتیا نشته ، چې نوم دې مالوم کړم ، ستا نوم زما ( ورو ) دی . . .

بیایې ور ته وویل : ډېر رنځونه دې ګاللې ؟

والژن ځواب ور کړ : آه ، ځنځیرونه ، اوسپینزې ډنډې ، د خوب لپاره ډبرینه تخته ، تودوخه،ساړه ، بد اخلاقه او بده چلنده مامورین . . .

روحاني مشر ور ته کړل : هو ، تا له کړاوونو ډک ځای پریښی دی ، خو باید په یاد ولري چې په ملکوتي نړۍ کې د یوه توبه کوونکي ګناهګار اوښکي د یوه نیک چلنده تر سپینې خرقې زیات ارزښت لري . . . .

دا مهال میرمن ماګلور مانښامنۍ راوړه ، او ټولو له لاروي سره یوځای په ورین تندي ډوډۍ وخوړه . . . روحاني مشر خپلې خور ته د شپې په خیر ویلو سره یوه نقره یې شمه دانۍ په خپله واخیسته او بله یې میلمه ته ور کړه او ویې ویل : ښاغلیه مهرباني وکړه ، چې تا خپلې کوټې ته ورسوم . . . د ودانۍ جوړښت په دې ډول وو ، سړی باید د عبادت ځای ته د ورننوتلو پر مهال د روحاني مشر له کوټې څخه تیر شوی وای . کله چې دواړه له دغه کوټې څخه ووتل ، میرمن ماګلور زرین لوښۍ د کټ له پاسه په لګیدلې الماړۍ کې ایښودل . . . روحاني مشر خپل میلمه یوې پاکې او سپینې بسترې ته ورساوه او شمه دانۍ یې د میز له پاسه ور ته کېښوده . روحانې مشر وویل : هیله ده ، چې شپه دې په خیر او آرامه تېره شي . خوسبا سهار له روانیدو وړاندې یو ګیلاس ګرمې شیدې وڅښئ . . .

نا آشنا سړي د خولې په پوکي سره ټولې شمې مړې کړې او د خپلو اضافي کالیو له ایستلو پرته یې په کټ کې ځان واچوه او په درانه خوب ویده شو ، څو شیبې وروسته د کور ټول استوګن ویده شول او یوه درنه چوپتیا خپره شوه .

ژان والژان د شپې په دوو بجو راويښ شو ،هغه کابو شل کاله پر بستره نه وو ، ويده شوي ، له ويښيدو سره سم يې په مغزو کې ډېر خيالونه او فکرونه وګرځيدل ، خو په دې ټولو کې يو فکر تر نورو پياوړی وو ، او دی يې نورو فکرونو ته ډېر پرې نښود ... د والژان په مغزو کې هغ شپږ زرين قابونه او شمه دانۍ ګرځيدې راګرځيدې ، چې ميرمن ماګلور پر سر ايښي و.

د دغه شيانو په اړه پرله پسې انديښنو په مخه کړی وو ... خبره د شپې تر درې نيمو بجو ورسيده . داسې ښکاريده لکه ساعت چې ورته ويل ( ژر کوه ژر کوه ) له خپله ځايه پاڅيد او څو شيبې زړه نا زړه ولاړ پاتې شو ، بيا يې غوږ ونيو ، په ټول کور کې چوپيتا خپره وه ، کرار کرار په بوڅو غوږونو د کړکۍ په لوري ولاړ . تياره دومره ډېره نه وه ، د څوار لسمې سپوږمۍ په آسمان کې ځليدله ، وريځې د باد د آلوتو له امله د سپوږمۍ پرمخ ورتلې اولرې کيدلې ...

والژان کړکۍ پرانيسته ، کوټې ته د شپې سړه هوا راغله ، کړکۍ يې بېرته بنده کړه ، لاندې يې باغ ته وکتل له باغه ګردچاپيره يو ټيټ ديوال را تاوو وو ...

بېرته غلی غلی راغی ، خولۍ يې په سر کړه ، له خپل پنډ نه يې يوه اوسپنيزه ډنډه راواخيسته ، د وره په لورې داسې کرار کرار ولاړ چې ساه يې په سينه کې بنده کړې وه ، لاروی پوهيده چې د دغه وره لار د روحاني مشر کوټې ته وتې وه . ګوري چې روحاني مشر ور نه دی بند کړی . په کرار يې ور پرانيسته ، خو يو دم وره د چغار غږ پورته شو ، دی ولړزيده او د وره د قبضو غږ هيڅوک را ويښ نکړل . مخکې ولاړ هماغه کټ ته ورنژدې شو ، خو دا وخت وريځ هم د سپوږمۍ له مخې ليرې شوه ، د سپوږمۍ وړانګې د کړکۍ له لارې داسې راخورې شوې چې تا به ويل له ژان والژان سره دښمني لري . والژان ته د روحاني مشر څېره ورښکاره شو ، هغه ژور ويده وو ،يو لاس يې د کټ له بازو نه را ځوړند شوی وو ، سر يې يوه لورې ته کوږ وو، ګوتمۍ يې په ګوته کې ځليده ... والژان حيران وو ، زړور تيا يې په ډار بدله شوه او وجدان يې هم له دغې پليتې کړنې ستومانه ښکاريده ... ويښتان يې نيغ ودريدل ، خو وړاندې لاړ ، د

روحاني مشر له کټه ورتیر شو او الماری ته یې ځان ور ورساوه . اوسپنیزه ډنده یې ورته پورته کړه ، خو ویې لیدل چې په کولپ کې کیلي پرته وه ، بې کړپه کړوپه مخ ته ولاړ ، خپله امسا او کڅوړه یې واخیسته او ټول زرین لوښي یې په کې واچول . . . له کوره غلی را ووت په باغ کې یې منډه کړه او له دیواله واوښت . . .

په سبا یې سهار روحاني مشر په باغ کې ګرځیده ، چې میرمن یې ماګلور په چیغو او منډو ورغله او ورته یې وویل : زر غلا شوي ، تېره شپه چې کوم سړی راغلی و ، هغه غلا کړي ! . . . څو شیبې تیرې شوې ، دوی په همدې خبرو کې وو ، چې د کور دروازه یې را خلاصه شوه او یوه غوسه ناکه ډله را څرګنده شوه . دریو کسانو څلورم کس را نیولی وو ، درې کسان پولیس او څلورم کس ژان والژان وو . . . د پولیسو قومندان د روحاني مشر خواته ورغی ، نظامي سلام یې وکړ ، روحاني مشر که څه زوړ و ، خو بیا هم په ډېره چټکتیا رامخکې شو او والژان ته یې وویل : آخ ! تاسي یاست ، په لیدو دې زیات خوشاله شوم ، ما خو هغه زرینې شمه دانۍ هم تا ته درکړې وې ، هغه دې ولې پریښي وې ؟ له قابونو سره دې ولې له ځانه سره نه وې وړې ؟ . . . د پولیسو مشر وویل : موږ دی په داسې حال کې وموند ، چې منډې یې وهلې ،موږ ګمان وکړ چې تښتي ومو کوت ، په کڅوړه کې یې څو زرین قابونه وو . . .

مهربانه مشر ، والژان د پولیسو له منګولو ژغوري ، هغه دوې شمه دانۍ یې هم ورته راوړې ،والژان سر تر پایه لړزیده ، په بې واکه ډول یې شمه دانۍ واخیستې ، روحاني مشر ورته وویل : اوس ورځه ، خدای دې مل شه ، خو که چېرې بل دلته راتللې ، نو د باغ له لارې مه رانوځه ، د کور دروازه درته تل پرانیستې ده . . . پولیس ووتل او روحاني مشر ، والژان ته په آرامه غږ وویل : هیڅکله دا خبره له یاده ونه باسې ، له دې شیانو څخه به په سمه لاره کې ګټه اخلي او ریښتینی سړی به جوړیږي . . .

ژان والژان له ښاره وځي ، په لاره کې د ( پتي روژه ) په نوم له یوه ماشوم څخه هم د زرو یوه سیکه غلا کوي ، بلآخره یوه ځنګله ته ځي . هلته ژاړي او په تیرو اعمالو باندې په کلکه توبه وباسي . له دې وروسته یو داسې انسان ورڅخه جوړیږي چې د ژوند تر پایه له نورو سره مرسته کوي . دی څه مهال خپل نوم

اړوي او له خلکو سره د بې سارو مرستو له مخې په ( مادلن بابا ) مشهورېږي او لکه څنګه چې يو وخت يې بد کارونه په پټه کول ، اوس يې خپل ښه کارونه په پټه سرته رسول ، د ښپې مهال به د بېوزلو په کورونو ګرځيده او پيسې به يې ور کولې ، خلک سلا مشورو ته ورتلل ، د خلکو ترمنځ به يې ګڼ اختلافات حل کول او وروروليي به يې راوسته ... دی نور په يو داسې شخص بدليږي ، چې د هغه مهربان شخصيت آوازه په ټول هېواد کې خپريږي او وروسته د خپل ښار د ښاروال په توګه د خلکو له خوا ټاکل کيږي ... خو داسې وخت هم راځي چې يو ځل بيا رسوا کيږي او د ژان والژان نوم يې بيا رابرسيره کيږي ، له يو شمېر نورو عجيبو او غريبو پېښو سره مخ کيږي ، خو دی تر پايه يو نيک او مهربانه انسان پاتي کيږي .

# اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ

دا کیسه زه د ( سوپ جو ) له کتابه په پښتو را ژباړم چې په مجازي نړۍ کې یې تر اوسه ۳۴۵ میلیونه لایکونه اخیستي او په لنډو کیسو کې د نړۍ ریکارډ لري .

زمونږ په کوچني ښار کې مونږ یو له هغو کورنیو څخه وو، چې په کور کې مو ټیلفون درلود. هغه مهال زه ۸ ـ ۹ کلنه وم . زما ښه په یاد دي چې هغه ټیلفون سور قاب درلود او ګوشي به یې یوې خواته ترې ځوړنده وه . زما قد ټیلفون ته نه رسېده ، خو هر کله چې به مې مور په تیلفون کې خبرې کولې ما به په ډېر شوق د هغې خبرو ته غوږ نیولی وو .

زه وروسته وروسته په دې پوهه شوم ، چې د ټیلفون په منځ کې یو داسې څوک ژوند کوي چې په هر څه پوهیږي او نوم یې دی ( اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ) او دا هغه څوک دی چې د هر چا او هرڅه په هکله مالومات لري ، د هر چا د ټیلفون نمبر او د کور پته ورته مالومه ده .

زما لومړنی شخصي تجربه له ( اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ) څخه هغه ورځ وه ، چې مور مې د ګاونډي کور ته تللې وه . دا مهال ما د خپل کور په تهکوۍ ( زیر زمیني ) کې د لوبو له وسایلو سره لوبې کولې ، چې ناګهانه مې خپله ګوته په څټک ووهله ، ډېر سخت او وحشتناکه درد یې کاوه ، ژړا هم ګټه نه لرله ځکه چې په کور کې هیڅوک نه و ، څو یې له ماسره همدردي کړې وای ، ګوته مې په خوله کې نیولې وه ، ګرد چاپیره له کوره تاویدمه ، چې ناګهانه مې سترګې په ټیلفون ولګېدې ، په چټکۍ سره مې یوه څوکۍ له آشپزخانې راوړه او د ټیلفون دېوال ته مې کېښوده ، ټیلفون مې را واخیست ، ګوشي مې غوږ ته نږدې کړه . په ګوشي کې یې وویل : د اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ! څو ثانیې وروسته مې یو غږ په غوږونو کې را تاو شو .

اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ !

زه په داسې حال کې چې اوښکې مې له سترګو څڅېدلې ومې ویل : ګوته مې ژوبله شوې ډېر سخت درد کوي .

له هغه لورې غږ راغی : مور دې په کور کې شته ؟

نه هیڅوک په کور کې نشته .

آیا وینه ترې ځي ؟

نه ، په څټک مې ګوته وهلې او ډېر سخت درد کوي .

ښه ، آیا کولی شې چې د یخچال ( فریزر )ــ یخه برخه خلاصه کړې ؟

هو خلاصولی یې شم .

ښه ډېر ښه له هغه ځایه لږ یخ واخله او پخپله ګوته دې کېږده .

له هغې ورځې وروسته به هر وخت ما د هرې خبرې لپاره د ( اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ) ته مراجعه کوله .

مثلاً د آزمویونو پر مهال ، بیا په ځانګړې توګه د ریاضي او جغرافیې په مضمون کې ، له ما سره به یې ډېره مرسته کوله .

یوه ورځ زمونږ طوطي مړ شو ، زه ډېره ناراحته شوم ، ما د اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ، ته مراجعه وکړه ، ټوله کیسه مې ورته بیان کړه .

هغه زما خبرو ته غوږ ونیو او له ماسره یې ډېره همدردي وکړه .

ما هغه ته وویل : ولې یوه مرغۍ چې دومره ښایسته ده او په خوند سره آواز باسي ، او د یوې کورنۍ ټول غړي خوشالوي ، خو بیا هم د قفس په یوه ځنډه کې مري ؟

هغه ما ته په ځواب کې وویل : چې په یاد ساته ، د آواز د ویلو لپاره بله نړۍ هم شته .

زه په دې خبره لږه تسکین شوم .

یوه بله ورځ مې بیا ورته ټیلفون وکړ ، چې د fix کلیمه به څنګه هجا کوم ؟

یو کال وروسته مونږ له خپل کوچني ښار ګوټي ( پاسفیک نورث وست ) څخه بوسټن ته کډه شوو ، مګر زما زړه خپل ملګرې ته ډیر تنګ وو .

د اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ، یوازې هماغه پخواني دیوالي ټیلفون لپاره یو دفتر وو ، چې په عاجلو شرایطو کې به خلکو له هغوی مرسته غوښته ، مګر دلته په بوسټن کې چې نوی ټیلفون زمونږ د کور پر میز ایښی وو ،هغه د پخواني ټیلفون تجربه مې ورسره نلرله .

زه هم ورو ، ورو د نوې پیغلتوب مرحلې ته ورسیدم ، مګر له هغه سره د خبرو خاطرې مې هیڅکله له یاده ونه وتلې .

غالبآ به ډیر کله د ځان د آرامښت او امنیت لپاره د خپل پخواني ملګري په یاد کې ډوبه شوم ، ریښتیا چې هغه څومره مهربان وو ، د یوې وړې ماشومې انجلی لپاره یې څومره وخت ورکاوه .

څو کاله وروسته کله چې زه پوهنتون ته روانه وم ، زمونږ الوتکه دنیم ساعت لپاره په سیاتل کې توقف شوه ، پنځلس دقیقې مې له خپلې خور سره چې په هماغه ښار کې یې ژوند کاوه خبرې وکړې ، له هغې وروسته بې له دې چې فکر وکړم څه کار تر سره کوم ، ټیلفون مې را واخیست د خپل پخواني ښار د کوچنیوالي ملګري ، اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ ، ته مې زنګ وواهه .

لکه یوه معجزه چې شوې وې ، هماغې پخواني غږ ،چې په ماشومتوب کې به ما ورسره خبرې کولې ځواب یې راکړ ،اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ!

ما بې له دې چې مخکې له مخکې مې پرې فکر کړ‌ای وای ، یو دم مې وپوښتل د fix کلیمه څنګه هجا کیږي ؟

یو څو شیبې هغه غلی شو ،او بیایې وویل : فکر کوم اوس به دې ګوته جوړه شوې وي .

ما ډېر وخندل ، بیا مې وویل : خپله یې ؟

بیا مې ادامه ورکړه ، نه پوهیږم چې ته به پوهیږې او کنه ، چې هغه مهال دې ما ته څومره ارزښت درلود ؟

هغه وویل : ته هم پوهیږي چې ستا ټیلفونونه ما ته څومره ارزښتناک وو ؟

ما ورته وویل : چې په دومره کلونو کې مې همیشه ته په یاد وې ، او هر ځل مې په ذهن کې ته را ګرځېدې ، له هغه مې اجازه وغوښته او ورته ومې ویل ، بل ځل چې مې د خور پوښتنې ته راغلم حتمن به دې لیدو ته درځم ، خو اول به په ټیلفون در سره خبرې کوم .

هغه وویل : حتمن زما لیدو ته راشه ،زما نوم شارون دی .

درې میاشتې وروسته سیاتل ته راغلم .

ټیلفون مې وکړ ، مګر یو بل غږ ځواب راکړ .

اطلاعاتو څانګه مهرباني وکړئ !

آیا کولی شم له شارون سره خبرې وکړم ؟

د هغه دوسته یې ؟

هو ، زه يې پخوانۍ دوسته يم .

زه ډېر خواشينۍ يم چې دا خبره تاسوته کوم ، شارون په دې وروستيو څو کلونو کې نيمه ورځ کار کاوه ، هغه ډېر ناروغ وو ، پنځه اونۍ مخکې وفات شو .

مخکې له دې چې ټېلفون قطع کړم هغه وويل : بخښنه غواړم تاسو وويل ، چې زه يې پخوانۍ دوسته يم.

آيا هماغه يې چې په څټک دې خپله ګوته ژوبله کړې وه ؟

په ډېر تعجب سره مې وويل ، هو هماغه يم !

شارون تاسو ته يو پيغام پرېښی ، هغه ما ته ويلي وو ، که چېرې تاسو زنګ وواهه ، هغه بايد تاسو ته ولولم .

څو دقيقې وخت يې ونيوه ، څو هغه کس پاکټ خلاص کړ او بيا يې وويل : ( شارون ليکلي ، چې تاسو ته ووايم ، چې بله نړۍ هم د آواز ويلو لپاره شته ) .

بيا يې ويلې چې ته زما په موخه پوهېږې ، نور يې څه نه دې ليکلي.

ما له خبرې کوونکي نه مننه وکړه ، ټېلفون مې بند کړ.

خو د ياداشت په کتابچه کې مې يوه جمله له ځان سره وليکله : ( هيڅکله هغه تاثير چې تاسو يې پر نورو پرېږدئ په کمه سترګه ورته مه ګورئ ) ، زما دا جمله دې د نړۍ ټولو تاثير غورځوونکو انسانانو ته ډالۍ وي .

۱۰/۱/۱۳۹۹ د ژباړې نېټه .

# دارن مین

*لیکوال : ګی دوموپاسان*

تېرې هېرې خبرې په زړه پورې وې ، زموږ په زړونو ناستې وې او د زړونو تل ته ورکزېږي .، هيڅکله يې نه شو هېرولی .

زما په ژوند کې ډېرې داسې پېښې شوي دي ، ځينې يې د خوشالۍ وي ، ځينې يې د خفګان او ځينې يې هېښوونکي . خو د کلوشيت ادې پېښه سره له دې چې ساده پېښه وه ، کله مې هم له زړه او ذهنه نه وځي .

عجيبه مې په ذهن خپره ده ، داسې ورځ دې بده شي چې يوار نه يوار به کلوشيت ادې نه را په زړه کيږي .

زه دولس کلن چې دا به د هرې پنجشنبې په سهار زموږ کور ته راتله ، سپخېدلې جامې يې را ګنډلې ، په هغو وختونو کې موږ په کلي کې وو ، کور مې د کلي له کليسا سره و . کلوشيت ادې به عادتاً د اووه بجو شاوخوا راتله او ټوله ورځ به يې د سپخېدلو کاليو په اوبدولو او سمولو تېره کړه .

دا بوډۍ وه ، ګوډه وه ، د پوزې په سر او نور مخ يې ځای ځای پاسته وېښتان راشنه وو ، وېښتان يې د ږېرې په څېر ښکاريدل او ګڼې وروځې يې داسې ښکاريدې لکه غټ برېتونه يې چې د شونډې پرځای د سترګو د پاسه پراته وي .

کلوشيت ادې په ما ګرانه وه ، د دې هم زه ښه اېسېدم ، د کلي کيسې او ټوکې به يې راته کولې ،يوه پنجشنبه چې سهار راغله ، زه هم د هرکله په شان ورپسې شوم ، تر هغې کوټې ته د هغې شاته روان وم چې سپخيدلې کالي به په کې ګنډل . ما ويل چې نن بيا را ته کيسه وکړي ، خو کله چې ورنژدې شوم ، سر يې د څوکۍ خواته کوږ کړ ، لاسونه يې بې حاله يوې او بلې خواته پراته وو . ستنه يې لا په ګوتو کې کلکه نيولې وه . پلار او مور مې په دې شېبه کې زما چيغې واورېدې ، په منډه راغلل ، چې ښځې ته يې وکتل ،

ځه يې وکړل ، په منډه د کلي په سپين ږيري ډاکټر پسې ووتل . ډاکټر راغی د کلوشيت ادې يې تر يوې دقيقې لږه معاينه وکړه ، بيا يې وويل : زړه يې درېدلی مړه شوې ده !

ټيکه مې نه راتله ، يوې خوا بلې خوا ته شوم ، آخر په منډه د ناستې کوټې ته لاړم ،په يوه تياره کونج کې مې په څوکۍ ځان واچاوه اوښکې مې وبهيدې .

لږ څه وروسته مې مور او پلار له ډاکټر سره راغلل ، دوی کېناستل خبرې يې پيل کړې . ډاکټر ته يې شربت ورکړی وو ، هغه يې څښل ، لکه دوی چې ما په دغه تياره کونج کې نه ويني ، نو د کلوشيت ادې ټوله کيسه مې واورېده .

سپين ږيري ډاکټر وويل :

خوارکۍ کلوشيت ادې ، په اوله کې چې دې کلي ته راغله ، وروسته له دوو ورځو يې پښه غوټه ماته شوه . تر اوسه مې دغه پېښه په زړه ده ، داسې راته ښکاري لکه پرون چې پېښه شوي وي ، حال دا چې پوره څلويښت کاله پخوا يې پښه ماته شوې وه .

د خدای کارونه دي ، د چا باور نه راځي ، دا هغه وخت اولس کلنه وه ، ښه کړه وړه يې وو . ښايسته اندام يې و ، چې چا به ليده خامخا به يې سترګې وراوښتې ، تر اوسه مې چاته دا کيسه نه ده کړې . له ما پرته د دې کيسه چا ته نه ده مالومه ، يو بل سړی هم پرې خبر دی ، هغه اوس له دې کلي ليرې اوسي .

کلوشيت په ځوانۍ کې د مسيوجاربو په ښوونځي کې د اوبدلو ګنډلو ښوونکي وه . هلته سيجرت نومی يو ځوان هم و . دغه ځوان ښوونکی ښه ګپ شپې سړی و ، د ټولو انجونو زړه کېدهچې له ده سره واده وکړي . خو د ده يوې ته هم زړه نه کېده ، کله چې يې کلوشيت وليده ، خوښه يې شوه ، په غوږ کې يې وسپېڅده ، د مينې خوږې خبرې يې ورته وکړې ، ورته يې وويل : يوازې ته مې خوښه يې ، کلوشيت

خورا خوشاله شوه ، ورسره ویې ومنله ، چې د رخصتۍ په وخت کې به د ښوونکو او زده کوونکو له تګه وروسته په دویم پوړ کې د تفریح خونې ته ورځي .

د رخصتۍ په وخت کې کلوشیت شاته شاته کېده ، د دې پرځای چې ووځي ، دویم پوړ ته وخته او د تفریح په کوټه کې یې ځان پټ کړ . ځوان ملګری یې په بېړه کوټې ته ورغی ، کلوشیت یې ولیده ، دی پوړېده ، ډارېده چې د ښوونځي څښتن او مشر مسیو جاربو یې سره ونهویني .

له څه چې وېرېدل هغسې وشول ، چې څنګه دوی سره نژدې کیدل ور بېرته شو او مسیو جاربو کوټې ته ورننوت ، نارې یې کړې : سیجبرته ، دلته څه کوې ؟!

سیجبرت ورته وویل : دلته لږ دمه کوم .

سیجبرت ،کلوشیت ته تر ژبې لاندې وویل : د هغه لویې څوکۍ لاندې پټه شه ، ژر کوه !

د ښوونځي مشر لکه چې دا پسنۍ واورېده ، خو هغه ته څوک په کوټه کې ور ښکاره نشول ، ځکه چې ماښام وو او کوټه تیاره وه . بیا یې سیجبرت ته ورغږ کړ : سیجبرته ، څوک دې درسره ، یوازې خو نه یې ؟! سیجبرت د ده د شک د ایستلو لپاره ټینګار وکړ ،چې یوازې یم.

مشر ورته وویل : ډېر ښه ! په خپله به یې وګورم ، بیا یې د کوټې ور د باندې په کیلې کولپ کړ او دی لاړ ، چې څراغ راوړي او کوټه کې وګوري چې څوک دي .

سیجبرت ډېر ډارن و، لکه د شرېرو خلکو یې عقل له لاسه ورکړ ، وارخطا شو ، مخ یې سور شو ، کلوشیت ته یې په پوړېدلې غږ وویل : د خدای لپاره د څوکۍ لاندې پټه شه ، که جاربو دې ووینې ، وبه مې شړي ، روزې به راباندې ودریږي ،مخ به مې تور شي !

انجلۍ ورو ورته وویل : ورته ووایه چې مور واده سره کوو .

دی په خبره کې ورولوېد ، چېرې ! اوس مې لا د واده وخت نه دی ، آه . . . د ښځو دربا يې ده . . . پټه شه . . . خدای ته وګوره !

انجلۍ ده ته بد بد وکتل ، بيا يې ورته وويل : نه پټېږم ، له ورسۍ ورټوپ کوم ، بس دومره راسره وکړه ، چې کله جاربو لاړ ، روغتون ته مې ورسوه .

چې کيلي په وره کې تاوېدله ، کلوشيت د دويم منزل له ورسۍ لاندې پټيو ته ټوپ کړل ، دغه خواد ښوونځي شا ته وه . . . د ښوونځي مشر شاوخوا وليده و هيښ شو ، چې څنګه يې بل څوک ونه ليدل .

سيجبرت زمونږ کورته په منډه راغی ، راته ويې ويل : راځه ملګرې مې بچ کړه ، د شپې شر کنده باران ورېده ، زه د ښوونځي شاته ورسره لاړم ، هلته دا کمبخته د دېوال څنګ ته غځېدلې وه ، ښی لنګی يې مات و ، کله چې مو راوړه ، له خبرو لوېدلې وه ، په لاره کې يې په زګيرويو کې وويل : خپله جزا مې وليده . . . هره سمه انجلۍ چې له بې لارې سړي سره مينه کوي دغه يې جزا !

په کلي کې مو آوازه خپره کړه ،چې کلوشيت بګې وهلې ، بګيوال تښتېدلی ، دا يې دغسې پرې ايښې ده ، د ټولو زمونږ په جوړې کړې خبرې باور راغی ، پوليسو هم ناکامه هڅه وکړه ، چې بګيوال پيدا کړي .

کلوشيت ګوډه شوه ، عمري ګوډه . په همدې ګوډ حالت کې سيجبرت د واده ورته وويل ، خو هغې سخته رد کړه ، د هغې په ګومان ښوونکی سيجبرت اوس د زړه سوي په خاطر واده ته تيار شوی و او زړه سوی يې ځکه کاوه چې د تفريح په خونه کې د دې له خوا د واده وړانديز نه و منلی ، حال دا چې د سيجبرت د بچولو لپاره يې ځان له دويم پوړه لاندې را خطا کړی و .

په رينښتيا هم کلوشيت د هغه د راتلونکي لپاره قرباني ورکړه . خپله آينده يې قربان کړه ، سر يې سپين کړ ، تر آخره يې واده ونکړ ، اوس به ورباندې څوک وير کوي ؟!

# څلور هالنډيان

*ليکوال : سامير سېټ موآم*

موږ په سينګاپور کې وو ، د ( فان دورت ) په هوټل کې ، د دې هوټل يو پوړ هميشني مسافرو ته مختص شوی ، اکثر د بېړيو هغه خاوندان چې کار نه لري ، بحري انجينران ، ماڼو ګان او هغه ځمکوال وي ، چې کلنۍ رخصتي په دې بندر کې تيروي .

زما خوښيږي چې د چکر شپې په دغسې يوه هوټل کې تېرې کړم ، چې د مختلفو خلکو له رېښتني ژوند خبره شم . د لوړ رتبه او شتمنو خلکو لپاره ګران بيه هوټلونه په ټولو هېوادونو کې يو شان دي ، نڅاوې ، سندرې ، لوکسې ښځې ، مکلفه ډوډۍ ، قيمتي شراب او اکثر نور شيان يې تشريفاتي وي . دغه د فان دورت هوټل باغ ډېرې ونې لري ، زه د ونو سيوري ته کېناستم ، عموي سړ ک ته مې کتل ، ډېر نوي ماډل موټر ، د کرايي زاړه موټر او د سړيو ر کشې وې ، چې روان وو او خلک لکه موّرخين چې د بابل د برج وايي د هر توکم ، رنګ او دين ښکارېدل .

زما څنګ ته په واړه مېز ځينې ورځپاڼې او مجلې پرتې وې ، تر اوسه مې لاپاڼې نه وې ور اړولې ، يوه هالنډې ته مې پام شو ، له خپل ملګري سره هوټل ته ننوت ، ورته ويل يې :

ره د ترخو وريجو او مرغانو د غوښې لپاره دغه هوټل ته راځم .

د ترخو وريجو او مرغانو غوښې ، خبرې ته مې خندا راغله ، څو مياشتې پخوانۍ خبره را په زړه شوه ، چې سينګاپور ته راغلی وم .

هغه وخت د ملايو ارخبيل په ټاپوګانو ګرځيدم . يوه زړه قوي بيړۍ مې ځان ته کرايه کړې وه ، د کښتۍ ساتونکی ، چلوونکی ،م سر انجينر او د خزانه دار دغه ( ترخې وريجې او د مرغانو له غوښې سره ) خوښېدې ، د دوی هر ماښام دغه خواړه وو ، هر يوه خپل بيشقاب له وريجو ډ ک کړ ، ورته ناست به وو ، که

د دغو ټاپوګان کوم مشر ډوډۍ ورته کړي وای ، نو په ډوډۍ کې به د نورو شیانو تر څنګ دوی هرومرو ( ترخې وریجې او د مرغانود غوښې سره ) هم ترې غوښتې وای .

بیرۍ د دولسو مسافرو لپاره وه او زه یوازې وم ، کله چې به دې نورو ډوډۍ خوړه ، بلنه به یې راکوله ، زه ورګډ شوم او دا خوندوره ډوډۍ به مې په خوند ورسره خوړله .

دغه څلور کسان عجیب خلک وو ، ما په خپل ژوند کې داسې څلور چاغ او ټوکي انډیوالان یوځای نه وو لیدلي . نومونه نه را په زړه کیږي ، راڅخه هیر دي ، خو کارونه یې را ته په یاد دي ، یوکښتۍ وان ، بل یې ساتونکی ،دریم یې سر انجینر اوم څلورم یې خزانه دار وو .

څلور واړه جیګ ، پلن ، چاغ د ورونو غوندې ورته ښکاریدل . دوی سره خواږه وو ، داسې انډیوالي یې وه ،چې ما د دوی په څېر ملګرتیا نه وه لیدلې . یوځای به یې ډوډۍ خوړله ، څښل به یې ، یو څو تکراري ټوکي یې کولې ، هغو ته به یو وار له یوه مخه سره شنه شول ، ټوله ورځ به یوځای وو ، یو د خوب او کار پر وخت به سر بېل شول.

دوی په خپلې ملګرتیا کلک ولاړ وو او یو بل ته له سره تیر وو . نه یې غوښتل چې بل څوک له ځانه سره په دې انډیوالي کې ورګډ کړي . که زه په بیرۍ کې یوازې نه وای او دوی نه پوهیدای چې یو څو ورځې به ورسره یم ، نو خدای که په هیڅ شي یې ورګډ کړی وای . د یو بل شي لپاره یې هم زه له ځان سره کړی وم ، د بردیج لپاره ، دا لوبه په څلورو کسانو کېده چې کله به کوم یو په کار لګیا شو ، د هغه پر ځای به زه لوبې ته کېناستم .

د دوی ملګرتیا دومره ټینګه وه ، چې کښتۍ وان تر دې لویې او ګړندۍ بیرۍ ته زړه نه ښه کاوه او ساتونکي ته هم همداسې ښه ځای کار پیدا کېده ، خو دوی ټولو په یوه خوله سره ویل: ( په ژوند کې نور څه غواړو ، روغه بیرۍ ، خواږه ملګري ،خوندور خواړه او خوش بویه بیر ؟)

کله نا کله به د ماښام له ډوډۍ وروسته د ښځو په هکله سره غږیدل ، د راتلونکي خبرې به یې کولې ، چې کله تقاعد شوو، څه به کوو ، ساتونکي به ویل : زه خپل هېواد ته ځم ، له یوې انجلۍ سره واده کوم . له هغې سر د زویدرزۍ خلیج په غاړه په یوه کور کې پاتې عمر تیروم . سر انجینر به ویل ،زه په یوه ختیځ هېواد کې اوسم ، له یوې تور سترګې ښایسته ختیځوالي سره واده کوم ، چې یو څه ښه اندام ولري او په زړه پورې وي ، له هغې سره د اهرام په لمنو کې اوسم ، یا د فرات په غاړو او د لبنان په کلیو کې . کښتۍ وان به وویل ، زه به له هغې لومړۍ انجلۍ سره واده کوم چې له هالنډي پلار او ختیځوالې ښځې زیږیدلې وي ، په دې ډول به لودیځ ښایست له ختیځ سحر سره یوځای شي ، سپین پوست له تودې وینې سره .

خزانه دار په ټولو پسې په کټ کټ وخندل ، ورته یې وویل : دا خوبونه او خیالونه دي چې تاسو یې وینئ ،موږ هیڅ وخت نه شو بېلېدلی ، مګر عزرایل مو سره بېل کړي .

کښتۍ وان په خپله خبره کلک وو ، غوښتل یې ژر یې ارمان تر سره شي . په سفر کې به یې ځانته ډېر پام و ، کله چې به بیړۍ په کوم بندر درېده ، په بېړه به یې تنده ماته کړه .

زه چې له دوی څخه د ( ماکاسر ) په ښار کې بېلېدم ،خزانه دار راته وویل :

هیله ده چې یو کال وروسته بیا راشي ، موږ به درته انتظار یو ، موږ څلور چاغ په بحرالکاهل کې ټول پیژني . زه چې له دوی تلم ، زړه مې نه کېده . له ځان سره مې وویل : که مې وخت پیدا کړ ، بیا به هم دوی پیدا کوم ، په ریښتیا چې دغه چاغ ملګري په سړیتوب ، ټوکو او د خیټې په غم کې بې جوړې وو .

له دې سفره وروسته څو میاشتې د بالي ، جاوا ، سومتر او کمبودیا ترمنځ ګرځیدم ،آخر د استراحت لپاره په سینګاپور کې دغه د ( فان دورت ) هوټل ته راغلم .

مجلو او ورځپاڼو ته مې وروغځاوه ، د دغو مجلو او ورځپاڼو د لوستلو لپاره مې په سفر کې کافي وخت نه درلود . ځينې يې د سفر پر وخت لاس ته نه وې راغلې ، ما يوه ورځپاڼه راواخيسته ، وار له وار مې په دې خبر سترګې ولګېدې :

( نن د اترخت د غمجنې پېښې له امله ساتونکی او خزانه دار ونيول شول ) چې خبر مې ولوست ، ځای پر ځای ودريدم ، له ځان سره مې وويل : خير کړې ، د دغو څلورو چاغو بيړۍ خو اترخت نومېده ، چې څه به ور پېښ شوي وي ؟

هڅه مې وکړه چې په همدې ورځپاڼه ، يا په نورو کې د دې خبر تفصيل وموم ، خو پيدا مې نکړ . د هوټل مدير ته ورغلم ، هغه هالنډی و ، د چاغو ملګرو پوښتنه مې ترې وکړه ، مدير سره تريو شو ، زه يې خپل دفتر ته بوتلم ، چې څومره خبر و ، هغه کيسه يې راته وکړه .

حادثه هغه وخت پېښه شوه چې کښتۍ وان له وخته مخکې د واده نيت وکړ ، له تقاعده مخته ، له خپلو ملګرو هلته بېل شو ، چې د يوې انجلۍ په مينه کې غرق شو ، د دې انجلۍ مور هالنډۍ وه او پلار يې د ملايو د ټاپوګانو .ده په خيال کې له دغسې انجلۍ سره واده کول غوښتل ، چې ښايسته وي ، جذابه وي ، پوست يې سپين وي او وينه يې توده وي ، نو پره له څه تردده يې واده ورسره وکړ ، په بېړۍ کې يې له ځان سره کړه .

کښتۍ وان په دغې ځوانې انجلۍ ګرم شو ، ټول وخت به يې له دې سره په خپله کوټه کې تېراوه ، هغه نورو دريو ملګرو يې هڅې وکړې ، چې د پخوا په څېر سره يوځای شي ، خو ګټه يې ونکړه ، تر ټول سر انجينر ، چې له کښتۍ وان سره يې له زلميتوبه انډيوالي وه ، ډېر خوابدی او غمجن و .

په بيړۍ کې هغه پخوانۍ جوش نه و پاتې ، څومره چې د کښتۍ وان له خپلې ښځې سره مينه زياتيده ، هومره يې له ملګرو سره دلچسپي کمېده . د دغو دريو ډېر زړه تنګ شو ، د هغوی په اند هسې په هسې د

دوی ملګرتیا خرابېده . د انډیوالۍ شکېدل په خوابدۍ بدل شول او ډېر ژر د کښتۍ وان او سر انجینر تر منځ دښمني پیدا شوه .

یوه شپه کښتۍ وان د سر انجینر کوټې ته ننوت ، هلته یې خپله میرمن د یوه غټ صندوق شاته ولیده په سر انجینر یې ډزې وکړې ، بیا یې منډه کړه په خپله کوټه کې یې ځان وویشت. دواړه مړه شول ، ټول هیبښ وو ، هیڅوک په حقیقت خبر نه وو ، ولې ځوانه ښځه د سر انجینر په کوټه کې پټه وه ؟

آیا د دې لپاره تللې وه ، چې د سر انجینر او خپل مېړه ترمنځ روغه وکړي ؟

آیا د دې لپاره چې د سر انجینر په کوټه پټه وه چې له هغې د خپل مېړه غچ واخلي ؟

آیا د سر انجینر معشوقه وه ؟

آیا سر انجینر د دې لپاره را غوښتې وه ، چې د بندر په اوله برخه کې یې په زور ښکته کړي ، مېړه ترې خلاص کړي او کښتۍ وان بېرته انډیوالي پیل کړي ؟

دا پوښتنې بې ځوابه پاتې شوې ، ښځه په بله ورځ پټه شوه ، چا نه ومونده ، ساتونکی او خزانه دار د خپلو ملګرو د انتقام لپاره د ځوانې ښځې د وژلو او بحرړ ته د جسد د اچولو پّ تور محاکمه ته وړاندې شول .

خو محاکمې سم دلایل ونه موندل . . . آیا ریښتیا یې وژلې وه ؟ او که نه . . . نو څه شوه او څنګه پټه شوه؟ که هر څه وه خو وبه ، مکر د هغې له لاسه د دغو څلورو خوږه ملګرتیا چې د وفا ، خوښۍ او سربښندې مثال وه ، ړنګه شوه .